(٦) مسـئـلـه خسوف یعـنـی د سپـوږمی د تندری پـه وخت کښی هم دوه رکعتـه لـمـونـځ کـول سنت دی مګر په دغه کښی په جماعت سره لمونځ کـول مسـنـو ن نـه دی تـول خلک دی پـه دغه کښی په جماعت سره لمونځ کـول مسـنو ن نه دی تول خلک دی په خپلو کورو کښی جلا جلا لـمنځونه وکـــړی مســـجـــد تــــه تـــلـــل هــم مسـنــو ن نـــه دی (مــجــمــع الانهر ص۱۳۹ ج ۱ عالمګیری ص۲۹۸)

(۷) مسئله دغه رنګه چې یو بیره یا غم راسی یا تناو لویږی یا ډیر ستوری راولـویـږی یـعـنـی شـغـلـی و غـور زوی یا ډیره واوره واوریږی یا ډیر باران واوریـږی یا یـو عـام مـرض لکه وبا او داسی نور وغوریږی یا د یو دښمن یا بـل شـی بیـره وی مـګر په دغو وختو کښی چی کوم لمنځونه کیږی بیله جـمـاعـت دی وسی هر څوک دی په خپـل کور کښی جلا جلا لمونځ وکړی پـر نبـی ﷺ چی بـه یـو مـصیبت راغـلـی نـو بـه په لمانځه سره مشغوله کیدی (مراقی الفلا ح ص۱۲۹ فتاوی هندیه ص۹۸)

(۸) مسـئـلـه هر څوندی لمنځونه چی دلته بیان سوه ددوی څخه ماسیوې چی هـر څـونـدی ډیـر نـفـل وسـی سبب د ثـواب او د ترقی د درجاتو ګرزی خـصـوصـا پـه هـغـو وختـو کښـی چـی د هـغـو فضیلت په حدیثونو کښی راغـلـی دی او په هغو وختو کښی چی د هغو فضیلیت په حدیثونو کښی او په هغو وختو کښی د عبادت کولو ترغیب نبی ﷺ فرمایلی دی لکه د روژې د میـاشتـی پـه آخیـرو لسـو شپـو کښـی او د بـرات د میـاشتـی پـه پـنـځـلـسـم تـاریخ کښـی ددغـو وختـو ډیـر فضلیتـونـه او پـه دوی کښـی د عبـادت کـول ډیـر ثـواب راغلی دی موږ د اختـصار او لنډوالی د سببه ددوی

بيان و نه كړى (مراقى الفلا ح ص ۱۲۰)

د لمانځه د فرضو او واجباتو په باره كښى بعضى مسئلې

(۱) مسئله پر مدرک قرائت نسته د امام قرائت د ټولو مقتديانو د طرفه څخه كفايت كوى او د احنافو په نزد د مقتدى دپاره چى په امام پسى ولاړ وى قرائت ويل مكروه دى (شر ح البدايهص۱۰۸ اول ټوک)

(۲) مسئله د مسبوق د پاره په خپلو تيرو سوو ركعتونو كښى په يوه ركعت يا دوو ركعتو كښى قرائت ويل فرض دى (فتاوى هنديه ص۵۸ ج ۱)

(۳) مسئله حاصل دادى چى د امام په موجودګى كښى د مقتدى د پاره قرائت په كار نه دى ليكن د مسبوق د پاره چونكه دده په تيرو سوو ركعتونو كښى امام نه وى قرائت په كار دى (فتاوى هنديه ص۵۸ اول ټوک)

(۴) مسئله د سجدې ځاى د پښو د ځاى څخه تر نيم ګز زيات بايد لوړ نه وى كه تر نيم ګزه زيات پر لوړ ځاى باندى سجده وكړى نورو انه ده مګر كه يو داسى ضرورت پيښ سى بيا روا ده مثلا د جماعت د لمانځه خلک ډير وى او خلک دوندى ګڼ سره ولاړوى چى پر مځكه باندى د سجدې كولو امكان نه وى نو دا لمونځ كونكو پر شا باندى سجده كول روا ده په شرط ددې چى د هر چا پر شا سجده كيږى هغه به هم دغه لمونځ كوى چى سجده كونكى ئى كوى (مراقى الفلا ح)

(۵) مسئـلـه د اختـرو پـه لـمـنځـونو کښې ما سیوې د هغو تکبیرونو ځخه چې پـه پـنځـه وخـتـه لـمـنځـو کښې ویل کیږي شپږ نور تکبیرونه واجب دي (طحطاوی مراقی الفلا ح (۱۴٦)

(٦) مسئـلـه د امـام د پـاره د سهـار پـه دواړو رکعتونو کښې د ماښام د ماخستـن پـه اولـو دوو رکـعتـو کښـې کـې قضا ئي وي یا وختی وي او د جـمـعې اخترو تراوو په لمانځه کښې او د روژې د میاشتی په وترو کښې پـه لـوړ آواز سره قـرائت ویل واجب دي (در مختار ص۴۵۵ اول ټوک مراقی الفلا ح ص۷۲)

(۷) مسئله منفرد یعنی چې په ملا پسې نه وي ولاړ د سهار په دوو کښې د ماښام او ماخستن پـه اولـو دوو رکعتو کښې اختیار لري که په لوړ آواز سره قرائت وایي یا کرار قرائت وایي علماؤ د لوړ آواز دا تعریف لیکلی دی چې یـو بـل سړی ئـې اوریـدای سـي او د کرار آواز ئي دا تعریف لیکلی دی چې پـه خپـلـه ئـې اوریـدای سـي او بـل څـوک ئـې نه سي اوریدای (مجمع الانهر ص۱۰۳ اول ټوک)

(۸) مسئـلـه د امـام او منفرد یعني یوازی سړی د پاره د ماپښین او مازیگر پـه ټـولـو رکـعتـونو او د ماښام او ماخستن په آخري رکعتونو کښې کرار قرائت ویل واجب دي (مراقی الفلا ح ص ۷۱)

(۹) مسـئـلـه هـر هـغه نفلونه چې دو ورځې کیږي په هغو کې کرار قرائت ویـل پـه کار دي او چې په شپه کښې کیږي په هغو کښې اختیار دی که په زوره سره قـرائـت پـکښـې وایي که ئي کرار پکښې وایي (مراقی الفلا ح ص۱۳۸)

(۱۰) مسـئـلـه منـفـرد یعنی چی په ملا پسی ولاړ نه وی که چیری د سهار مـابنـام او مـاخستن د لمنځونو قضا یی په ور ځ کښی راګرځوی نو هم په دغـو لـمـنـځـونو کښی کرار قرائت ویل واجب دی او که ددغو لمنځونو په شپه کښی قضا یی راوړی نو بیا دده اختیار دی که ئی کرار وایی که ئی په لوړ آواز وایی (در مختار و رد المحتار ص٥٥٦ اول تو ک)

(۱۱) مسـئـلـه کـه د یـو چـا شـخه د مابنام یا ماخستن په اول و دوهم رکعت کښی تر الحمدلله وروسته د سرة د سورة ویل هیر سی نو دده دپاره په دریم و څـلـرم رکـعت کښـی تـر الـحـمـدلله وروستـه ویـل پـه کـار دی او پـه د غورکعتو کښی هم په زوره قرائت ویل واجب دی او په اخیره کښی سجده سهوه کول هم واجب ده (سکب الانهر ص۱۰۴)

د لمانځه بعضی سنتونه

(۱) مسـئـلـه تـر تـکبیر تحریمه (اول الله اکبر) مخکی ددواړو لاسو پورته کول تر غوږو پوری د نرانو د پاره او تر اوږو پوری د ښځو د پاره سنت دی د عـذر پـه حال کښی د نرانو د پاره تر اوږو پوری لاسونه پورته کول هم هیڅ پروا نه لری (شر ح البدایه ص۹۴ طحطاوی ص۱۴۹)

(۲) مسـئـلـه تـر تـکبیر تحریمه وروسته سمدستی لاسونه تر نامه لاندی ایښـوول د نـرانـو دپـاره اوپـر سینـه ایښـودل د ښـځو دپـاره سنـت دی (در مختار ص۵۷۷ لومړی تو ک)

(۳) د خلـکـو د پـاره دا رنـګـه تر نامه لاندی لاس ایښوول چی د راسته لاس ورغوی د چپه لاس د ورغوی پر شا کښېږدی او د راسته لاس بته او خچنه کـوتـه د چپـه لاس پـر بـنـد راو ګـرزوی او هغه نوری پاته درې کوتی د چپه

لاس پر لیږ باندی غوړیدلی کښیږدی سنت دی (در مختار ص۵۷۷ اول توک)

﴿دریم فصل﴾

سنت او د لمانځه طریقه:

سوال:......

په لمانځه کې د رکوع او د سجدې تسبیحات تر درې واره زیات ویلو سره لمونځ مکروه کیږي او کنه؟ او که ښه دی؟

په قومه کي تر سمع الله لمن حمده وروسته "ربنا لک الحمد" ویل سنت دي او کنه؟ او په جلسه کي "رب اغفرلی و ارحمنی و عافنی و اهدنی و ارزقنی" ویل مستحب دی او کنه؟

جواب:......

و یسن تسبیحه أی: الرکوع (ثلاثا) لقول النبی ﷺ إذا رکع أحدکم فلیقل ثلاث مرات: سبحان ربّی العظیم و ذلک أدناه۔ و إذا سجد فلیقل سبحان ربّی الأعلی ثلاث مرأت و ذلک أدناه" أخرجه أبو داود فی الصلاة، باب: مقدار الرکوع و السجود/ص ۸۸٦۔ والترمذی فی الصلاة، باب: ما جاء فی الرکوع و السجود/ص: ١٦١۔ مراقی الفلاح شرح نور الایضاح ۔ج: ١/ص: ٣٦٠)

و یسن، الرفع من الرکوع علی الصحیح۔ و روی عن أبی حنیفة رحمه الله: أن الرفع منه فرض و تقدم۔ (مراقی الفلاح شرح نور الایضاح ۔ج: ١/ص: ٣٦٢)

و یسن الرفع من الرکوع الخ، فی النهر عن المجتبی معزیاً لصدر القضاة۔

إتمام الركوع و إكمال كل ركن واجب عندهما و عند أبي يوسف فرض ، وكذلك رفع الرأس من الركوع والانتصاب والقيام و الطمأنية فيه فيجب أن يكمل الركوع حتى يطمئن كل عضو منه و كذا السجود ، ولو ترك شيئا من ذلك ساهياً يلزمه سجود السهو۔ قال ابن أمير حاج : و هو الصواب اهـ ذكره السيد ۔ (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح ۔ج: ١ / ص: ٣٦٣)

ويقول في ركوعه سبحان ربى العظيم ثلاثا و ذلك ادناه فلو ترك التسبيح اصلا و لا يأتى به مرة واحدة يجوز و يكره۔ (فتاوى هنديه ۔ج: ١ / ص: ٧٩۔ مصرى او باكستان ، چاپ والا ۔ / ص: ٧٣)

ويقول في سجوده سبحان ربى الأعلى ثلاث و ذلك ادناه كذا في المحيط ، ويستحب ان يزيد على الثلاث في الركع والسجود بعد أن يختم بالوتر كذا في الهداية فالأدنى فيها ثلاث مرأت و الاوسط خمس مرات و الاكمل سبع مرأت كذا في الزاد وإن كان اماماً لايزيد على وجه يمل القوم ۔ (كذا في الهداية ، و فتاوى الهنديه ، ۔ج: ١ / ص: ٧٥)

إن كان اماماً يقول سمع الله لمن حمده بالاجماع و إن كان مقتديا يأتى بالتحميد و لا يأتى بالتسميع بلا خلاف و ان كان منفرداً الاصح أنه يأتى بهما كذا في المحيط و عليه الاعتماد وكذا في التتارخانية و هو الاصح هكذا في الهداية۔

ثم الرواية بجمع يأتى بالتسميع حال الارتفاع و إذااستوى قا ئما قال ربنالك الحمد ۔

(كذا في الذاهدى و هو الصحيح كذا في القنية فتاوى الهندية ، ۔ج: ١ / ص: ٧٤ ، و منحة الخالق على هامش البحر الرائق ۔ج: ١ / ص: ٣٠٣، الدر

المختار علی هامش رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۳۵۲، و رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۳۵۲)

نو لـه مذکوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه چي په رکوع او سجده کي په درې واره تسبیح ویلو سره د تسبیح سنت ادا کیږي، او په فرضو کي د تخفیف حکم دی ځکه د مقتدیانو د خیال ساتلو له امله تطویل نه دی په کار لکه چي په خپله نبي ﷺ بعض صحابه رضی الله تعالی عنهم ته د قرأت د طویل کولو لـه امله فرمایلي دي حال دا دی چي د لمانځه د اجزاء څخه قرأت أفضلـه جز دی لیکن تر درې زیاتو ته احناف مکروه نه ورته وایي، او د "سمع الله لمن حمده" وروستـه "ربنا لک الحمد" ویل هم مستحب دي او داغسي په جلسه کي رب اغفرلی الخ ویل جائز دي په نفلي لمنځو کي، خو ښه دا ده چي دا دعاګاني او ذکرونه په نفلو کي ووای او په فرضور کي تخفیف کوي.

سوال:......

د لمانځه آداب څو دي او کوم دي؟

جواب:......

(قوله) و آدابها نظره إلی موضوع سجوده، أی فی حال القیام، و أما فی حالة الرکوع فإلی ظهر قدیمه و فی سجوده إلی أرنبته و فی قعوده إلی حجره و عندالتسلیمة الاولی إلی منکبه الایمن و عند الثانیة إلی منکبه الایسر لأن المقصود الخشوع. (البحر الرائق ـ ج: ۱ / ص: ۳۰٤)

و آدابها نظره إلی موضع سجوده و کظم فمه عند التثاوب و اخراج کفیه من کمیه عند التکبیر و دفع السعال ما استطاع و القیام حین قیل حی علی

الفلاح و شروع الإمام مذ قيل قد قامت الصلاة۔(منحة الخالق على هامش البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳۰٤)

و آدابها نظره إلى موضع سجوده فی حال القيام و إلى ظهر قديمه حالة الركوع والى ارنبة حالة السجود و إلى حجره حالة القعود و عند التسليمة الاولى إلى منكبه الايمن و عند الثانية إلى منكبه الايسر و كظم فمه عند التثاؤب و اخراج كفية من كميه عند التكبير و دفع السعال ما استطاع ۔(هكذا فى البحرالرائق ، و فتاوى الهنديه ۔ج: ۱ / ص: ۷۲ ، و حاشية الطحطاوى على الدر المختار ۔ج: ۱ / ص: ۲۱٤، الدر المختار على هامش حاشية الطحطاوى ۔ج: ۱ / ص: ۲۱٤، و خلاصة الفتاوى ۔ج: ۱ / ص: ٥٦ ، و مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى ۔ج: ۱ / ص: ۳۷٦، و حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح شرح نور الايضاح ۔ج: ۱ / ص: ۳۷٦ ، و رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۳٥۳)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د لمانځه اول ادب دا دی چي په ولاړه کي به د سجدې ځای ته ګوري ، او په رکوع کي به د پښو و شا ته ګوري، او په سجده کي به د پزي و نرمۍ ته ګوري، او په ناسته کي به و خپل ځیګر ته ګوري ، او په اول سلام کي به و راسته وږې ته ګوري او په دوهم سلام کي به و چپه وږې ته ګوري او خپل ټوخی به منع کوي چي په طاقت کي يې وي او خله به ټينګه نيسي په وخت کي د ارږمۍ او خپل لاسونه به تر لستوڼو را باسي په وخت کي اول تکبير ، او و لمانځه ته به ولاړيږي کوم وخت چي ''قد قامت الصلاة'' وويل سي، نو دا ټول د لمانځه آداب دي، نو ددې حکم دا دی که چیري يو ادب د يو چا څخه پاته سو

نو لمونځ یې صحیح دی و لمانځه ته یې کوم تاوان نه رسیږي .

سوال :......

آیا د ښځي دپاره ورنونه د نس سره چسپول سنت دي او کنه؟

جواب :......

"و یسن انخفاض من المرأة و لزقها بطنها بفخذیها ، لأنه علیه الصلاة والسلام مرَّ علی امرأتین تصلّیان فقال : إذا سجدتُما فضُمَّا بعض اللَّحم إلی بعض " المرأة لیست فی ذلك كالرجل لأنها عورة مستورة۔ (أخرجه البیهقی فی السنن الكبری ۔ج: ۱ / ص: ۱۷۰ ، و اللفظ له ، و ابن حبان فی صحیحه ۔ج: ۵ / ص: ۲٤۲، مراقی الفلاح شرح نور الایضاح علی صدر حاشیة الطحطاوی ۔ج: ۱ / ص: ۳٦۵)"

(قوله) والمرأة تنخفض و تلزق بطنها بفخذیها ، لأنه استر لها فانها عورة مستورة و یدل علیه ما رواه أبو داود فی مراسیله انه علیه الصلاة والسلام مرَّ علی امرأتین تصلّیان فقال : إذا سجدتما فضمَّا بعض اللَّحم إلی الارض فان المرأة لیست فی ذلك

كالرجل ۔ (البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳۲۱)۔

و المرأة تنفخض أی تضم نفسها فلا تبدی ضبعیها ، و تلزق بطنها بفخذیها لأنه استر۔ (مجموع الأنهر ۔ج: ۱ / ص: ۱٤۷ ، و الدر المختار علی هامش حاشیة الطحطاوی ۔ج: ۱ / ص: ۲۲۳ ، و حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار ۔ج: ۱ / ص: ۲۲۳، و رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۳۷۳)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د ښځي دپاره نس د ورنو سره چسپول سنت دی ځكه په دې كي ښه ستر دی، او د نارینه دپاره دا

حکم نه دی .

سوال :......

د نارینه دپاره لاسونه په اول تکبیر کي تر کوم ځای پورته کول سنت دي؟

جواب :......

”ورفع اليدين للتحريمة حذاءَ الأذنين للرجل و الأمة وحذاء المنكبين للحرة ۔“(نور الايضاح على صدر مراقي الفلاح ۔ج: ۱ / ص: ۳۴۹) .

فيسن رفع اليدين للتحريمة حذاء الأذنين للرجل لأن رسول الله ﷺ كان إذا افتتح الصلاة كبر ثم رفع يديه حتى يحاذى بإبهاميه أذنيه ثم يقول : سبحانك اللهم و بحمدك الخ ۔ (أخرجه الدار قطني في سننه ۔ج: ۱ / ص: ۳۰۰ ، و أبو يعلى في مسنده ۔ج: ٦ / ص: ۳۸۹ ، و كلاهما بهذا اللفظ و أخرجه أصحاب السنن بنحوه ، حاشية الطحطاوى على مراقي الفلاح ۔ج: ۱ / ص: ۳۴۹)

ورفع يديه حذاء أذنيه لما رويناه ولما رواه الحاكم و صححه عن أنس رضى الله عنه قال : رأيت النبي ﷺ كبر فحاذى بابهاميه أذنيه ، و ما رود في حديث ابن عمر رضى الله تعالى عنه أنه ﷺ كان يرفع يديه إلى منكبيه فمحمول على حالة العذر حين كانت عليهم الاكسية و البرانس في زمن الشتاء كما أخبر به وائل بن حجر رضى الله تعالى عنه على ما رواه الطحاوى عنه أوالمراد بما رويناه رؤس الاصابع ، و بالثاني الاكف و الارساغ عملا بالدلائل بالقدر الممكن كما في البدائع ، واعتمد في فتح القدر أطلقه فشمل الرجل والمرأة قالوا : لم يذكر حكم رفعها في ظاهر الرواية ۔

و روى الحسن عن أبي حنيفة رحمه الله أنها كالرجل فيه لأنه كفيها ليستا

بعورة ۔
و روى ابن مقاتل أنها ترفع حذاء منكبيها لأنه أستر لها و صححه فى الهداية
۔
و لا فرق بين الحرة و الأمة على الروايتين و المراد بالمحاذاة أن يمس بابهاميه شحمتى أذنيه ليستيقن بمحاذاة يديه بأذنيه كما ذكره فى النقاية۔

(البحر الرائق ۔ج: ١ / ص: ٣٠٦ ، ومنحة الخالق على هامش البحر الرائق ۔ج: ١ / ص: ٣٠٥ ، وحاشية الطحطاوى على الدر المختار ۔ج: ١ / ص: ٢١٣ ، و الدر المختار على هامش حاشية الطحطاوى ۔ج: ١ / ص: ٢١٣ ، و فتاوى الهنديه ۔ج: ١ / ص: ٧٢ ، ورد المحتار ۔ج: ١ / ص: ٣٥٠ ، وكتاب المختار ۔ج: ١ / ص: ٦٧ ، والتعليل المختار شرح كتاب المختار ۔ج: ١ / ص: ٦٧)۔

نو لـه مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د نارينه دپاره دواړه لاسونه د غوږو تر نرميو پوري پورته كول سنت دي او دوړاي بتبي كوتي به د غوږو د نرميو سره مښلوي دپاره د يقين د برابري ، او ښځه به يې د وږوتر سرو پوري پورته كوي دواړه لاسونه .

سوال :......

آيا د نارينه دپاره پر چپه پښه باندي كښېنستل او راسته پښه درول او پر ورنو باندي لاسونه ايښول سنت دي او كه نه؟

جواب :......

"و إذا فرغ من سجدتى الركعة الثانية افترش رجله اليسرى فجلس عليها و نصب يمناه و وجه أصابعه نحو القبلة و وضع يديه على فخذيه و بسط أصابعه

الخ" (البحر الرائق ـ ج: ۱ / ص: ۳۲۳)۔

وإذا رفع رأسه من السجدة الثانية فی الركعة الثانية افترش رجله اليسرى و جلس عليها و نصب اليمنى نصبا و وجه أصابعه نحو القبلة ووضع يديه على فخذيه و بسط أصابعه ۔ (هكذا فی الهداية ـ ج: ۱ ، و فتاوى الهندية ـ ج: ۱ / ص: ۷۵ ، و مجموع الأنهر ـ ج: ۱ / ص: ۱۳۵ ، و حاشية الطحطاوى على الدر المختار ـ ج: ۱ / ص: ۲۱٤ ، و الدر المختار على هامش رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۲۱٤، و رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۳۵۲)۔

افتراش الرجل ، رجله اليسرى و نصب اليمنى ، و توجيه أصابعها نحو القبلة كما ورد عن ابن عمر رضى الله تعالى عنها ۔ (مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى شرح نور الايضاح ـ ج: ۱ / ص: ۳٦٦ ، و حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح ـ ج: ۱ / ص: ۳٦٦)

فاذا رفع رأسه فی الركعة الثانية من السجدة الثانية افترش رجله اليسرى فجلس عليها و نصب اليمنى ، و وجه أصابعه نحو القبلة ، ووضع يديه على فخذيه ، وبسط أصابعه و تشهَّدَ۔

(كتاب الاختيار ـ ج: ۱ / ص: ۷۳ ، والتعليل المختار شرح كتاب الاختيار ـ ج: ۱ / ص: ۷۳)۔

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د نارينه دپاره پر چپه پښه باندي په ناسته كي كښېنستل سنت دي او د راسته پښې درول او پر ورنو باندي لاسونه ايښول دا هم سنت دي .

سوال :......

د احنافو په لمنځو كي كوم "التحيات" ويل كيږي او يا سنت دی؟

جواب :......

"والتشهد : التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليك أيها النبی و رحمة الله و بركاته السلام علينا على عباد الله الصالحين ، أشهد أن لا إله إلا الله و أشهد أن محمداً عبده و رسوله۔

و هو تشهد عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ، لما روى : أن حماداً أخذ بيد أبي حنيفة رحمه الله و علمه التشهد و قال : أخذ إبراهيم النخعی بيدی و علمنی ، و أخذ علقمة بيد إبراهيم و علمه ، و أخذ عبد الله بن مسعود بيد علقمة و علمه و أخذ رسول الله ﷺ بيد عبد الله و علمه التشهد ، فقال : قل التحيات لله الخ إلى أخر ما ذكرنا"۔

(أخرجه أحمد فی مسنده ۔ج: ۱ / ص: ۵۲۲ برقم ۴۰۰۶، و اسناده صحيح ، كتاب الاختيار ۔ج: ۱ / ص: ۷۴، والتعليل المختار شرح كتاب الاختيار ۔ج: ۱ / ص: ۷۴، و مراقی الفلاح على صدر حاشية الطحطاوی ۔ج: ۱ / ص: ۳۶۸ ، و مجموع الأنهر ۔ج: ۱ / ص: ۱۳۶ ، الدر المختار على هامش حاشية الطحطاوی ۔ج: ۱ / ص: ۲۱۴، والبحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳۲۵ ، و منحة الخالق على هامش البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳۲۵، و رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۳۵۲)۔

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې احناف په خپلو لمنځو کي د عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه مبارک التحيات لله وايي ، او نارينه به هم دغه التحيات لله په خپل لمانځه کي وايي او زنانه به هم په خپل لمانځه کي دا اتحيات لله وايی . نو د دواړو دپاره يو حکم دی .

سوال :......

په ناسته د لمونځ کولو څه شرطونه دي او څه رکم کیږي؟

جواب :......

"يجوز النفل إنما عبر به ليشمل السنن المؤكدة و غيرها ، فتصح إذا صلاها قاعدا مع القدرة على القيام ، و حكى فيه إجماع العلماء ـ و على غير المعتمد يقال : إلا سنة الفجر ، لما قيل بوجوبها و قوة تأكدها ، و إلا التراويح على غير الصحيح ، لأن الاصح جوازها قاعدا من غير عذر فلا يُستثنى من جواز النفل جالساً بلا عذرٍ شيئ على الصحيح لأنه صلى الله عليه و اله و صحبه و سلم كان يصلي بعد الوتر قاعدا ـ (فتح البارى ـ ج: ۲ / ص: ۵۷۹)

و كان يجلس فى عامة صلاته بالليل تخفيفا و فى رواية عن عائشة رضى الله تعالى عنها فلما أراد أن يركع قام فقراء آيات ثم ركع و سجد و عاد إلى القعود ـ (أخرجه مسلم فى صلاة المسافرين / باب جواز النافلة قائما و قاعداً رقم ۱۷۰۳)

و الإجماع منعقد على أن صلاة القاعد بعذر مساوية لصلاة القائم فى الأجر ، و كذا فى الدراية و يقعد المتنفل جالسا كالمتشهد إذا لم يكن به عذر ، فيفترش رجله اليسرى و يجلس عليها و ينصب يمناه ، فى المختار و عليه الفتوى الخ ـ قوله : و يقعد كالمتشهد ، فيه إشارة إلى انه لا يضع يمناه على يسراه تحت سرة (مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى ـ ج: ۱ / ص: ۵۴۸ و إلى / ص: ۵۴۹ ، و حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح ـ ج: ۱ / ص: ۵۴۹)ـ

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په ناسته سره لمونځ کول يو شرط يې عذر دی په فرضي لمنځو کي که عذر نه وي نو فرض لمونځ په ناسته سره نه سي کولای، او نفل لمونځ بغير د عذره هم په ناسته سره کولای سي، او د ناستي طريقه يې داسي ده لکه پر التحيات باندي چي

ناسته وي همدغه رکم به کبښېني، او لاسونه به تر نامه لاندي ایږدي .

سوال :......

لاسونه په کومو ځایو کي پورته کیږي؟

جواب :......

"عن النبی ﷺ أنه قال : لا ترفع الایدی إلافی سبع مواطن و عد منها تکبیرة الافتتاح ، و تکبیرة القنوت ، و العیدین و ذکر الاربع فی الحج کذا فی الهدایة صفة الصلوة (ج ۱ / ص: ۲۷۸) ، و فتح القدیر (۔ج: ۱ / ص: ۲۷۸)۔

ثم هذا عندنا سنة او کیفیة ، و قال الشافعی رحمه الله یرفع یدیه عند الرکوع و الرفع منه لأنه علیه السلام فعل ذلك ، و لنا ما روینا و ما رواه محمول علی الابتداء وکذا نقل عن ابن زبیر رضی الله تعالی عنه فانه رأی رجلاً یفعل هذا فقال له لا تفعل لیس هذا بشیئ فانه شیئ فعله رسول الله ﷺ ثم ترك ، کذا فی الهدایة باب صفة الصلوة ، والکفایة ، وقدوری ، والطبرانی بسنده ، عن ابن أبی عن الحکیم عن المقسم عن ابن عباس عنه علیه السلام ، فتح القدیر (ج۱ / ص: ۲۹۹)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي اول دي دواړه لاسونه غوږ ته پورته کړي بیا دي دواړه لاسونه تر نامه لاندي ونیسي ، دا د نارینه دپاره دا حکم دی او د ښځي دپاره پرسینه باندي .

سوال :......

آمین بالجهر او فاتحه خلف الأمام او رفع الیدین د احنافو په نزد باندي جائز دی او کنه؟

جواب :......

آمین بالجهر، فاتحة خلف الامام، او رفع الیدین د احنافو په نزد باندي جائز نه دی، د دې مسئلو دلیلونه د احنافو سره ډېر دي، او آیاتونه او حدیثونه مبارکان په دې کي ډېر سته او موجود دي، چي په ډېرو کتابو او رسالو کي سته . وګورئ (غنیة المستلی / ص: ۳۰۲، او مسلم شریف .ج: ۱/ ص: ۱۷۴، او مشکوة شریف .ج: ۱/ ص: ۷۷، باب صفة الصلوة) .

نو زموږ د احنافو په نزد باندي نه آمین بالجهر ویل کیږي او نه فاتحه خلف الامام ویل کیږي او نه رفع الیدین په لمانځه کي کیږي دا زموږ د احنافو مذهب دی .

سوال:......

د سجدې طریقه څنګه ده او باید څنګه وسي؟

جواب:......

"قالوا إذا أراد السجود یضع أو لا ما کان أقرب إلی الأرض فیضع رکبتیه أولا ثم یدیه ثم أنفه ثم جبهته، و إذا أراد الرفع یرفع أو لا جبهته ثم انفه ثم یدیه ثم رکبتیه، قالوا هذا إذا کان حافیا أما إذا کان متخففا فلا یمکنه وضع الرکبتین أو لا فیضع الیدین قبل الرکبتین و یقدم الیمنی علی الیسری، کذا فی التبیین، و یضع یدیه فی السجود حذاء أذنیه و یوجه أصابعه نحو القبلة و کذا أصابع رجلیه و یعتمد علی راحتیه و یبدی ضبعیه عن جنبیه ولا یفترش ذراعیه کذا فی الخلاصة، و یجا فی بطنه عن فخذیه کذا فی الهدایه ⸍ و المرأة

لا تجافى فى ركوعها و سجودها و تقعد على رجليها و فى السجود تفترش بطنها على فخذيها كذا فى الخلاصة ⸍ (فتاوى الهندية ـ ج: ١ ⸍ص: ٧٥) "

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د سجدې طريقه په دې ډول ده چي كوم وخت د سجدې اراده وكړي اول به څنګنونه پر مځكه باندي كښېږدي او بيا به دواړه لاسونه پر مځكه باندي كښېږدي او بيا به پزه كښېږدي او بيا به تندى كښېږدي او نر به په سجده كي نس او بغلونه نه سره مښلوي، سره ليري كوي به يې، او ښځه به يې سره مښلوي نس او بغلونه په سجده كي .

سوال :......

آيا د سجدې څخه چي راپورته سي ذكر مسنون په جلسه كي سته او كنه؟

جواب :......

"والسنة فيه أن يرفع رأسه حتى يستوى جالسا و ليس فى هذا الجلوس ذكر مسنون عندنا هكذا فى الجوهرة النيرة ، فتاوى الهندية (ج ١ / ص: ٧٥)"

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په جلسه كي ذكر مسنون زموږ د احنافو په نزد باندي نسته، نو بايد په فرضو لمنځو كي و نه ووايي .

﴿باب المسبوق واللاحق﴾

(د مسبوق اولاحق احكام او مسئلې)

سوال :......

مسبوق چاته ويل كيږي، اولاحق چا ته ويل كيږي؟

جواب :......

"واللاحق من فاتته الركعات كلها او بعضها لكن بعد اقتداء بعذر كغفلة و زحمة ، والمسبوق من سبقه الإمام بها او بعضها۔ (الدر المختار على صدر رد المحتار ۔ج: ۱ ص۵۹٤ و إلى / ص: ۵۹۵ ، كتاب الصلوة مطلب فى احكام المسبوق الخ)

وفى الهندية : المسبوق من لم يدرك الركعة الاولى مع الإمام ، واللاحق هو الذى أدرك اولها و فاته الباقى فى النوم او حدث او بقى قائما للزحام الخ"(الفتاوى الهندية ۔ج: ۱ / ص: ۹۲ ، الباب الخامس ، الفصل السابع فى المسبوق واللاحق)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي مسبوق هغه لمونځ کونکي ته وايي چي د امام سره د ټولو رکعتونو يا د بعضو رکعتونو موقع په لاس ور نه سي ، نو دا مسبوق بولي يعني امام ځيني مخته سوی دی په رکعتو کي .

لاحق: هغه مقتدي ته وايي چي د مجبوري له وجهي د اقتداء کولو څخه وروسته ټول رکعتونه يابعضي ځيني فوت سي او بيا اقتداء ورپسي وکړي يعني لاحق هغه ته وايي چي اول تکبير اولیٰ ورسره ونيسي او بيا د لمانځه په مابين کي يو عذر ور پېښ سي بيا اودس وکړي او بيرته په امام پسي اقتداء وکړي .

سوال :......

د امام سره په اولیٰ قعدې کي د شريکېدو په صورت کي تشهد ويل کيږي او کنه؟

جواب :......

" والهندية : إذا أدرك الإمام فى التشهد و قام الإمام قبل ان يتم المقتدى او سلم الإمام فى آخر الصلوة قبل ان يتم المقتدى التشهد فالمختار ان يتم

التشهد كذا فى الغيائية ، وإن لم يتم اجزاه ـ(الفتاوى الهندية ـج: ۱ / ص: ۹۰ ، الفصل السادس فيما يتابع الإمام الخ)

قال ابن عابدين رحمه الله : فان عارضها واجب لا ينبغى ان يفوته بل يأتى به ثم يتابع كما لو قام الإمام قبل ان يتم المقتدى التشهد فانه يتمه ثم يقوم لأن الاتيان به لا يفوت المتابعة بالكلية و انما يؤخرها والمتابعة مع قطعه تفوته بالكلية فكان تأخير احد الواجبين مع الاتيان بهما اولىٰ من ترك احدهما بالكلية "

(رد المحتار ـج: ۱ / ص: ٤٧٠، مطلب مهم فى تحقيق متابعة الامام)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په داسي صورت كي د تشهد د پوره كولو بغير هم كه چيري مسبوق د امام د متابعت د وجهي ودريږي نو لمونځ يې د كراهت سره كيږي، مگر بهتره به داوي چي تشهد پوره وو ايي او بيا ولاړ سي، ځكه چي په قاعده كي تشهد ويل واجب دي، لهذا د يو واجب د وجهي دوهم واجب بايد پاته نه سي، تر دې پوري چي مدرک به هم د تشهد د پوره كولو بغير نه دريږي بلكه تشهد به پوره كوي او بيا به د امام متابعت كوي او دريږي به تر څو چي د دوارو واجبو رعايت وسي، او بعض امامان ډېر چابک وي چي اكثر وخت تشهد نه پسي رسيږي .

سوال :......

په دوهم ركعت كي پر شريک سوي مسبوق باندي د التحيات لله ويل واجب دي او كنه؟

جواب :......

"قال ابن عابدين رحمه الله: والمسبوق يسجد مع امامه قيد بالسجود لأنه لا

يتابعه فى السلام بل يسجد معه و يتشهد فاذا سلم الإمام قال إلى القضاء الخ۔ (رد المحتار ۔ج: ١ / ص: ٥٤٩، حكم المسبوق واللاحق)

و ايضا قال بعد ورقة : كمالو أدرك الإمام فى التشهد و قام الإمام قبل ان يتم المقتدى او اسلم الإمام فى آخر الصلوة قبل أن يتم المقتدى التشهد فالمختار ان يتم التشهد ۔ "

(كذا فى الغيائية و ان لم يتم اجزاه ، الفتاوى الهندية ۔ج: ١ / ص: ٩٠ ، الفصل السادس فيما يتابع الإمام الخ ، و مثله فى مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى ۔ج: ١ ، فصل فيما يفعله المقتدى / ص: ٤١٨)

نو لـه مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي پر مسبوق باندي د التحيات لله ويل واجب دي چي و ايي به يې، او نه به يې پرېږدي .

سوال :......

د مسبوق دپاره د ثناء ويل جائز دي او كنه؟

جواب :......

"قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخارى رحمه الله : المسبوق إذا أدرك الإمام فى القراء ة التى يجهر فيها لايأتى بالثناء فاذا قام إلى قضاء ما سبق يأتى بالثنا و يتعوذ للقراء ة و عند أبى يوسف رحمه الله : يتعوّذ عند الدخول فى الصلوة و عند القراء ة و هذا استحباب اما كونه سنة فقد مر فى فصل الأدب ثم فى الثناء سواء كان قريباً من الإمام او لا يسمع فى صلوة الجهر يسكت و فى الصلوة المخافة يأتى بالثناء إذا أدركه قائماً۔ (خلاصة الفتاوى ۔ج: ١ / ص: ١٦٥ ، مسائل المسبوق)

و فى الهندية : و فى صلوة المخافة يأتى به الخ و يسكت المؤتم عن الثناء

إذا جهر الإمام و ان أدرك الإمام فی الركوع او السجود يتحرى ان كان أكبر رأيه انه لو اتی به أدركه فی شيئ من الركوع او السجود يأتی به قائماً و لا يتابع الإمام و لا يأتی به ۔ و إذا لم يدرك الإمام فی الركوع والسجود لا يأتی به و ان أدرك الإمام فی القعدة لا يأتی بالثناء بل يكبر للافتتاح ثم للانحطاط ثم يقعد ۔" (الفتاوی الهندية ۔ج: ۱ / ص: ۹۱، الباب فی اللاحق والمسبوق)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي که چيري مسبوق امام په هغه رکعت کي ونيوی په کوم رکعت کي چي قرائت ويل کيږي نو مسبوق به ثناء نه وايي بلکي د امام قرائت به اوري او چي کله د امام د سلام اړولو وروسته نو موړی مسبوق د تېر سوي رکعت د راګرځولو لپاره ودريږي نو ثنا به وايي .

د امام ابويوسف رحمه الله په نزد له امام سره په وخت د يو ځای کېدو کي تعوّذ ويل مستحب دي په داسي حال کي چي وروسته د امام د فراغت څخه وروسته هم د قرائت څخه مخکي به تعوّذ وايي .

سوال :......

که چيري امام د اولي ناستي څخه و دريم رکعت ته ودريږي او مسبوق چي التحيات په نيمايي کي نيولی ده، د وروسته پاتي کېدو د وجهي التحيات پوره کړي او په اتفاقي ډول داسي وسي، چي امام د قيام څخه و رکوع ته ولاړ سي نو آيا مسبوق به د دريو تسبيحاتو په برابر قيام کوي او د لاحق په شان به د امام سره کيږي او که د رکوع د کولو روسته به د امام سره د يو ځای کېدلو کوشش کوي؟

جواب :......

"قال ابن عابدين رحمه الله : والحاصل ان متابعة الإمام فى الفرائض والواجبات من غير تأخير واجبة۔ فان عارضها واجب لا ينبغي ان يفوته بل يأتي به ثم يتابع كما لو قام قبل ان يتم المقتدى التشهد فانه يتمه ثم يقوم لأن الاتيان به لا يفوت المتابعة بالكلية و انما يؤخرها والمتابعة مع قطعه تفوته بالكلية فكان تأخير احد الواجبين مع الاتيان بهما اولیٰ من ترك احدهما بالكلية۔ (رد المحتار۔ج: ۱ / ص: ۴۷۰ ، مطلب مهم فی تحقيق متابعة الامام)

قال العلامة حماد بن حسن الشرنبلالي رحمه الله : لو سلم الإمام او تكلم قبل فراغ المقتدى من قرأة التشهد يتمه ، و لا يتبع الإمام و ان خاف فوت الركوع لأن قراءة بعض التشهد لم تعرف قربة والركوع لا يفوت فى الحقيقة لأنه يدرك فكان خلف الإمام ومعارضة واجب آخر لا يمنع الاتيان بما كان فيه من واجب غيره لاتيانه به بعده فكان تأخير احد الواجبين مع الاتيان بهما اولیٰ من ترك احدهما بالكلية " (مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى ۔ج: ۱ / ص: ۴۱۸، فصل فيما يفعله المقتدى ، بعد فراغ امامه الخ)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي واجب د متابعت په دري قسمه دی:

۱﴾ ...... د مقارنت په طريقه، يعني چي د امام سره په ټولو رکنونو کي شریک سوی وي .

۲﴾ ...... د تعاقب په طریقه کي، د فعل د ابتداء څخه امام مخکي او مقتدي وروسته وي .

۳﴾ ...... د تأخير په طريقه کي، چي د فعل څخه امام مخکي فارغ سي او

مقتدي د امام د اداء کولو څخه وروسته هغه فعل اداء کړي .

نو په دغه درو صورتو کي د متابعت حق ادا کيږي او د مقتدي لمونځ صحيح کيږي، په اول صورت کي د تشهد ويل واجب دي ددې دپاره لاحق يامسبوق د تشهد د ويلو وروسته دی قيام وکړي او رکوع دي يوازي اداء کړي بيا دي د امام سره شريک سي، په دې صورت کي هم د متابعت حق د تأخير په شکل کي ادا کيږي په پورتني صورتونو کي که چيري مقتدي اصل فعل يعني فرض رکن مثلاً رکوع ،پريږدي نو د امام د سلام اړولو وروسته به مستقل رکعت ادا کوي او سلام به ګرځوي، او که چيري يې د امام د سلام ګرځولو وروسته مستقل رکعت ادا نه کړي نو لمونځ يې ونه سو، ددې دپاره د لمانځه بيرته راګرځول پرې واجب بلکي فرض دي، دوهم واجب به يې ادا کوي .

سوال :......

مسبوق به په سلام کي د امام متابعت کوي او که به يې نه کوي؟

جواب :......

"قال العلامة الحصكفى رحمه الله : والمسبوق يسجد مع امامه مطلقاً سواءً كان السهو قبل الاقتداء او بعدهٔ قال ابن عابدين رحمه الله : تحت هذه العبارة قيد بالسجود لأنه لا يتابعه فى السلام بل يسجد معه و يتشهد ماذا سلم الإمام قام إلى القضاء فان سلم فان كان عامدًا فسدت و إلا لا و لا سجود عليه ان سلم سهواً قبل الإمام او معه او ان سلم بعده لزمه لكونه منفرداً حينئذ (بحر) و اراد بالمعية المقارنة و هو نادر الوقوع كما فى شرح المنية و فيه و لو سلم على ظن ان عليه ان يسلّم فهو سلام عمد يمنع البناء ـ (الدر المختار على

هامش رد المحتار ـ ج: ۲ / ص: ۸۲ ، باب سجود السهو)۔

وفی الهندیة : سهو الإمام یوجب علیه وعلی من خلفه السجود کذا فی المحیط ولا یشترک ان یکون مقتدیاً به وقت السهو حتی لو أدرک الإمام بعد ما سها یلزمه ان یسجد مع الإمام تبعاً له ـ ولو دخل معه بعد ما سجد سجدة السهو یتابعه فی الثانیة ولا یقضی الاول وان دخل معه بعد ما سجدهما لایقضیهما۔" (الفتاوی الهندیة ـ ج: ۱ / ص: ۱۲۸ ، باب سجود السهو، ومثله فی البحر الرائق ـ ج: ۱ / ص: ۳۷۸ ، باب الحدث فی الصلوة فی استخلاف المسبوق)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې د مسبوق والي د حیثیت د ورپه یادېدو تر څنګ سلام ګرځول د لمانځه د فساد موجب دی، او که چیري د هېري په صورت کي سلام وګرځوي نو په لمانځه باندي کوم بد اثر نه اچوي په داسي حال کي چې د امام د سلام سره یو ځای او یا مخکي سلام وګرځوي، نو دا سړی به د امام د فراغت څخه وروسته دریږي او خپل لمونځ به پوره کوي، په مسبوق باندي د امام د سجده سهو متابعت ضروري دی لیکن د سلام په ګرځولو کي به د امام متابعت نه کوي، تر څو چې د لمانځه په منځ کي محلل واقع نه سي او د امام د فراغت څخه وروسته په سهوه سره په سلام ګرځولو سره په مسبوق باندي سجده سهو واجبیږي .

سوال:......

مسبوق که چیري په سهو سره سلام وګرځوي او بل سړی فتح ورکړي او دی عمل په وکړي آیا په لمانځه کي خو به کوم خلل نه راځي یعني په دې فتحي سره چې ده واخیسته د ده لمونځ خو به نه فاسدیږي؟

جواب :......

"قال العلامة الحصكفي رحمه الله : ولو سلّم أى المسبوق ساهياً ان بعد امامه لزمه السهو وإلا لا۔ (الدر المختار على هامش رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٤٤٣، باب سجود السهو)۔

(قوله ولو سلّم ساهيا) قيد به لأنه لو سلم مع الإمام على ظن أن عليه السلام معه فهو سلام عمد فتفسد ما في البحر عن الظهيرية (قوله لزمه السهو) لأنه منفرد في هذه الحالة ح(قوله وإلا لا) أى وان سلم معه او قبله لايلزمه لا مقتدى في هاتين الحالتين ح وفي شرح المنية عن المحيط ان سلم في الاولىٰ مقارنا لسلامه فلا سهو عليه لأنه مقتد به و بعده يلزمه لأنه منفرد اهـ۔ (رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٤٤٣، باب سجود السهو)

قال القاضي خان رحمه الله : إذا سلم المسبوق ساهياً يلزمه السهو قيل هذا إذا سلم بعد امامه فانسلم مع الإمام لا سهو عليه" (الفتاوى القاضيخان على هامش الهندية ۔ج: ۱ / ص: ١٢٤، باب سجود السهو)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په دې مسئله كي د فقهاؤ پخپل منځ كي اختلاف دى . د ځينو په نزد په داسي صورت كي لمونځ فاسديږي او د ځينو په نزد بيا لمونځ صحيح دى، او همدا راجح قول دى نو احتياط په دې كي دى چي لمونځ كونكى د بهر څخه د فتحي په اخيستلو كي تحرىٰ وكړي . او بيا ولاړ سي او خپل پاتي لمونځ پوره كړي تر څو چي د اختلاف صورت جوړ نه سي . كه چيري يې د امام سره يو ځاى سلام ګرځولى وي نو د لمانځه په آخر كي د سجده سهو ضرورت نسته او كه يې چيري د امام د سلام څخه وروسته سلام ګرځولى وي نو په

داسې صورت کې د لمانځه په آخر کې سجده سهو پر واجبه ده چې سجده سهو به کوي .

سوال :......

که چیرې یو څوک د ماښام او د جمعې په لمانځه کې یعنې په آخرې کې شریک سي نو هغه به پاتې لمونځ څنګه ادا کوي؟

جواب :......

"لما قال ابراهيم الحلبى رحمه الله : لو أدرك مع الإمام ركعة من المغرب فانه يقرأ فى الركعتين الفاتحة والسورة و يقعد فى اوليهما لأنه ثنائية و لو لم يقعد جاز استحساناً لا قياساً و لم يلزمه سجود السهو۔ (كبيرى / ص: ٤٦٨، فى آخر فصل سجود السهو)

قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله : لو أدرك مع الإمام ركعة من المغرب فانه يقرأ فى الركعتين بالفاتحة والسورة ولو ترك القراء ة۔ج:ة فى احدهما فسدت صلوته و عليه ان يقضى ركعتة بتشهد لأنها ثانية و لو ترك جازت استحسانا لا قياسا۔ (البحر الرائق ۔ج: ١ / ص: ٣٧٩)

و قال ابن عابدين رحمه الله : تحت هذه العبارة و لو لم يقعد جاز استحساناً لاقياساً ولم يلزمه سجود السهو ولو سهوا۔" (رد المحتار ۔ج: ١ / ص: ٧٩٧ ، احكام المسبوق ، ومثله منحة الخالق على هامش البحر الرائق ، ۔ج: ١ / ص: ٣٧٩ ، باب الحدث فى الصلوة۔)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې دا مسبوق به د امام د سلام کرځولو وروسته ولاړ سي، ثنا، تعوذ، تسمیه، فاتحه اوبل سورة به وایي رکوع او سجده به کوي، اوبیا به په قعده کې کښېنې التحیات به

و وايي، بيا به ولاړيږي په دوهم رکعت کي به فاتحه او بل سورة و وايي بيا به د رکوع او سجدې کولو وروسته کښېني التحيات او نور به پوره کوي سلام به ګرځوي، او دريم رکعت هغه يې د امام سره پوره کړی دی او که چيري په دوهم رکعت ، د امام د فراغت څخه وروسته په اول رکعت کي قعده ونه کړي نو بيا يې هم لمونځ استحسانا جائز دی او سجده سهو هم نه ده پر واجبه .

سوال :......

که چيري مسبوق د امام سره څلرم رکعت ونيوی نو اصل حکم خو دا دی چي د امام د فراغت وروسته به بل رکعت ادا کوي او قعده به کوي، ليکن که هغه داسي و نه کړه او د امام څخه وروسته يې د بناء په صورت کي دوه رکعتونه بغير د قعدې څخه يو ځای ادا کړه نو آيا پر دې مسبوق سړي باندي سجده سهو لازميږي او کنه؟

جواب :......

”قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و يقضى اول صلوته في حق قرأته و آخرها في حق تشهد فمدرك ركعة من غير فجر يأتي بركعتين بفاتحة و سورة و تشهد بينهما و برابعة الرباعي بفاتحة فقط ولا يقعد قبلها ، و قال ابن عابدين رحمه الله : تحت هذه العبارة (قوله و يقضى صلوته في حق قرأته اول الخ) و هذا قول محمد رحمه الله كما في مبسوط السرخسي رحمه الله و عليه اقتصر في الخلاصة و شرح الطحاوي و الاسبيجابي والفتح والدرر والبحر وغيره و ذكر الخلاف كذلك في السراج الوهاج لكن في صلوة الجلابي ان هذا قولهما و تمامه في شرح الشيخ اسمٰعيل و في الفيض عن المتصفى لو

أدركه في ركعة الرباعي يقضي ركعتين بفاتحة و سورة ثم يتشهد ثم يأتي بالثالثة بفاتحة خاصة اهـ. و ظاهر كلامهم اعتماد قول محمد رحمه الله (قوله يتشهد بينهما) قال في شرح المنية و لو لم يقعد جاز استحسانا لا قياساً و لا يلزمه سجود السهو لكون الركعة اولى من وجه اهـ.(الدر المختار و رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٥٩٦ ، احكام المسبوق و اللاحق).

قال العلامة ابراهيم الحلبي رحمه الله : و من جملتها ما اشرنا اليه انه يقضي اوّل صلوته في حق القراء ة و آخرها في حق القعدة حتى لو أدرك مع الإمام ركعة من المغرب بانه يقرأ في الركعتين الفاتحة ولاسورة و يقعد في اوليهما لأنها ثنائية و لو لم يقعد جاز استحسانا لا قياساً و لم يلزمه سجود السهو لو سهوا لكونها اوليٰ من وجه الخ." (كبيرى / ص: ٤٦٨ ، باب سجود السهو ، و مثله في منحة الخالق على هامش البحر الرائق ـ ج: ١ / ص: ٣٧٩، باب الحدث في الصلوة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي اګر كه معتمد عليه قول د امام محمد رحمه الله دی او په مذكوره صورت كي د امام محمد رحمه الله د قول خلاف سويدی، مګر بيا هم د دې سړي لمونځ استحساناً جائز او صحيح دی، سجده سهو هم نه ده پر واجب .

سوال :......

چي كله يو سړی په څلور ركعتيزه لمانځه كي امام په آخري ركعت كي شريک سي او اول درې ركعتونه ځيني فوت سوي وي نو د امام د سلام كرځولو وروسته بايد دا سړی څه وكړي؟

جواب :......"قال العلامة الحصكفي رحمه الله : والمسبوق من سبقه الإمام بها

او بعضها أی بکل الرکعات او ببعض الرکعات ، و هو منفرد حتی یثنی و یتعوذ و یقرأ و ان قرأ مع الإمام لعدم الاعتداد بها الکراهتها مفتاح السعادة (فیما یقضه) أی بعدمتابعة الامامه الخ و یقضی اوّل صلوته فی حق قرأة و أخرها فی حق التشهد فمدرك رکعة غیر فجر یأتی برکعتین بفاتحة و سورة و تشهد بینهما و برابعة الرباعی فقط و لا یقعد قبلها۔ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۵۹۶، احکام المسبوق و اللاحق)۔

و قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه الله و لو أدرك رکعة مع الإمام فی صلوة الظهر و العصر و العشاء و قام الی القضا فعلیه ان یقضی رکعة و یقرأ بالفاتحة و سورة و یتشهد لأنه یقضی آخر الصلوة فی حق التشهد و یقضی رکعة و یقرأ فیها بالفاتحة والسورة و لا یتشهد و فی الثانیة بالخیار والقرأة أفضل و لو أدرك رکعتین منها یقضی رکعتین و یقراء فیهما و یتشهد " (خلاصة الفتاوی ، ج: ۱ / ص: ۱٦٦ ، مسائل المسبوق ، و مثله فی البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳۷۹ ، باب الحدث فی الصلوة ، فی استخلاف المسبوق)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي دا مسبوق به د امام د فراغت څخه وروسته دریږي او دیو رکعت د ادا کولو وروسته به قعده کوي او دریم رکعت ته به دریږي او فاتحه او یو سورة به وایي او په آخر رکعت کي به یوازي فاتحه وایي لکه په دې صورت کي به مسبوق د امام سره د ادا سوي رکعت څخه بغیر نور رکعتونه په همدې طریقه باندي کوي .

سوال :......

د مسبوق دپاره د امام سره په آخري قعده کي درود شریف ویل کیږي او کنه؟

جواب :......

”و فی الهندیة : و منها ان المسبوق ببعض الرکعات یتابع الإمام فی التشهد الاخیر و إذا اتم التشهد لا یشتغل بما بعده من الدعوات ثم ما ذا یفعل تکلموا فیه۔
وعن ابن شجاع انه یکرر التشهد أی قوله اشهد ان لا اله إلا اللّٰه و هو المختار کذا فی الغاشیة۔ (الفتاوی الهندیة ۔ج: ۱ / ص: ۹۱ ، الفصل السابع فی المسبوق واللاحق)
قال قاضیخان رحمه اللّٰه : المسبوق إذا قعد مع الإمام کیف یفعل اختلفوا فیه و الصحیح انه یترسل فی التشهد حتی یفرغ من التشهد عند سلام الامام“ (فتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة ۔ج: ۱ / ص: ۱۰۳ و إلی / ص: ۱۰٤، فصل فی المسبوق)
نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي مسبوق د امام په آخري ناسته کي د لمانځه د وسط په حکم کي دی، ددې دپاره هغه باید درود شریف و نه وایي ځکه چي درود شریف د لمانځه په آخري کي ویل کیږي، ـو ځکه مسبوق به په آخري ناسته کي د تشهد په ویلو کي د اطمینان څخه کار اخلي تر څو چي د امام تر سلام ګرځولو پوري د زړ ختم کړي نو بیا به تشهد نه وایي، چي دی به نو وار وار تشهد وایي نه به یې وایي .
سوال:......
په آخري ناسته کي د تشهد د ویلو وروسته امام په سهوي سره پنځم رکعت ته پورته سو نو په داسي صورت کي به مسبوق د امام سره رکعتونه نیولي وي او څه پاته وي نو اوس به مسبوق کومه طریقه اختیاروي، آیا مسبوق به هم د امام متابعت کوي یعني پنځم رکعت ته ورسره پورته کیږي او که به تر هغو ناست وي تر څو چي امام بیرته را

کرځي او سلام وګرځوي، او که به د امام د متابعت په پرېښودو سره خپل پاتي لمونځ پوره کوي؟ نو اوس په دغو درو صورتونو کي د مسبوق دپاره کوم صورت د عمل وړ دی چي عمل په وکړي، او د مسبوق لمونځ صحت په پیدا کړي او د مسبوق و لمانځه ته تاوان و نه رسیږي؟

جواب: ......"قال ابن نجيم المصری رحمه الله: و لو قام الإمام إلى الخامسة فی صلوة الظهر فتابعه المسبوق ان قعد الإمام على رأس الرابعة تفسد صلوة المسبوق۔(البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳۷۸)

و قال العلامة علاؤ الدين الحصكفی رحمه الله و لو قام امامه لخامسة فتابعه ان بعد القعود تفسد ۔ (الدر المختار على هامش رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۵۹۹، قبل باب الاستخلاف)

قال العلامة طاهر بن ابن عبد الرشيد البخاری رحمه الله و فی الاصل لو قام المسبوق إلى قضاء ما سبق به بعد فراغه من التشهد قبل السلام جاز۔(خلاصة الفتاوی ۔ج: ۱ / ص: ۱۶۹، قبل الفصل السادس عشر فی السهو)

قال ابن نجيم المصری رحمه الله : و ان لم يقعد لم تفسد حتى قيد الخامسة بالسجدة فاذا قيدها بالسجدة فسدت صلوة الكل۔ (البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳۷۸، باب الحدث فی الصلوة)

و لو قام امامه الخامسة فتابعه ان بعد القعود تفسد و إلا لا حتى يقيد الخامسة بسجدة ، قال ابن عابدين رحمه الله : (قوله تفسد) أی صلوة المسبوق لأنه اقتداء فی موضع الأنفراد۔

و قال ايضا : تحت قوله و إلا ، أی و ان لم يقعد و تابعه المسبوق لا تفسد صلوته ، فان قيدها بسجدة انقلبت نفلا۔(رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۵۹۹،

احکام المسبوق)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله : و لو قام قبل السلام هل یعتد بادائه ان قبل قعود الإمام قدر التشهد لا و ان بعد نعم و کره تحریماً إلا لعذر.(الدر المختار علی هامش رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۵۹۷، احکام المسبوق، و مثله فی الهندیة ـ ج: ۱ / ص: ۹۱ و إلی / ص: ۹۲، باب اللاحق و المسبوق)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې د مسبوق حالت د مدرک څخه مختلف دی، مدرک د ابتداء څخه واخله بیا تر آخره پوري د امام تابع دی مګر مسبوق د امام په تابعداري کي یوازي تر هغه وخته پوري وي تر څو چې د امام لمونځ په حال کي وي، په دې معنی سره چې د امام د سلام ګرځولو وروسته مسبوق دیوازي لمونځ کوونکي مسبوق باید له احتیاط څخه کار واخلي، چې داسي ونه سي چې د امام د داسي زیاتي تابعداري څخه د هغه لمونځ متاثر سي، نو امام چې کله تر آخري ناستي وروسته پنځم رکعت ته سهوا پورته سي نو دا داسي حالت دی چې تعلق یې د اصل لمانځه سره نسته ځکه چې لمونځ خو پوره سوی دی ددې پاره پنځم رکعت ته په پورته کېدو باندي د امام تابعداري ضروري نه ده، مسبوق به د تشهد په حالت کي ناست وي او د امام سره انتظار به کوي او که چیري په مذکوره صورت کي د آخري ناستي څخه وروسته مسبوق هم له امام سره ودریږي نو د مسبوق لمونځ فاسدیږي نو مسبوق به وروسته تر آخري ناستي څخه نه ولاړیږي او که چیري بیا هم ولاړ سو نو لمونځ د مسبوق فاسد سو .

سوال:......

يو سړى د امام سره په آخري ركعت كي شريک سو او لمونځ يې ادا كړى د امام د فراغت څخه وروسته به په هغه تېرو ركعتونو كي قرائت وايي او كنه؟

جواب :......

"قال العلامة الحصكفى رحمه الله : و يقضى اى المسبوق اول صلوته فى حق قرأة الخ۔

قال ابن عابدين رحمه الله : تحت هذه العبارات قوله و يقضى اول الخ، هذا قول محمد كما فى مبسوط السرخسى رحمه الله ، عليه اقتصر فى الخلاصة و شرح الطحطاوى لو أدركه فى ركعة الرباعى يقضى ركعتين بفاتحة و سورة ثم يتشهد ثم يأتى الثالثة بفاتحة خاصة عند أبى حنيفة و قالا ركعة بفاتحة و سورة ثم يتشهد ثم ركعتين اولا هما بفاتحة و سورة و ثانيهما بفاتحة خاصة و ظاهر كلامهم اعتاد قول محمد۔ (رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۵۹۶، احكام المسبوق)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخارى رحمه الله : والمسبوق فيما يقضى يقضى اول صلوته فى حق القرأة و آخر صلوته فى حق التشهد الخ و لو أدرك ركعتين منها ، أى من صلوة الظهراو العصر او العشاء ، يقضى ركعتين و يقرأ فيهما و يتشهد۔" (خلاصة الفتاوى ۔ج: ۱ / ص: ۱۶۵ و إلى / ص: ۱۶۶، و مثله فى الفتاوى الهندية ۔ج: ۱ / ص: ۹۱ ، باب احكام اللاحق والمسبوق)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د احنافو په نزد مسبوق به په فوت سوو ركعتونو كي د سورة فاتحې سره يو بل سورة يو ځاى كوي او وايي به يې، ځكه چي مسبوق د قرائت د اعتباره د لمانځه اوله حصه ادا كوي .

سوال :......

د امام د سجده سهوي دپاره په سلام ګرځولو سره د لمانځه څخه وتلی ګڼل کيږي او کنه؟

که چيري وتلی نه ګڼل کيږي نو مسبوق ولي د امام سره د سلام ګرځولو څخه منع سوی دی؟ او که چيري د لمانځه څخه وتلی ګڼل کيږي نو بيا په دې دوران کي په امام پسي د نوي مسبوق اقتداء ولي صحيح کيږي؟ د دواړو صورتونو څه دلائل دي او آيا د سهوي سجده د سلام ګرځولو بغير هم ادا کولی سي او کنه؟

جواب:......

"قال العلامة الحصكفي رحمه الله: و سلام من عليه سجود سهو بخرجه من الصلوة خروجاً موقوفاً ان سجد عاد اليها و إلا لا و على هذا يصح الاقتداء به الخ۔

قال ابن عابدين رحمه الله: تحت هذه العبارة (قوله يخرجه من الصلوة الخ) هذاعندهما و اما عند محمد رحمه الله: فانه لا يخرجه منها اصلاً كما في البحر و غيره۔

(قوله ان سجد عاد الخ) افاد ان معنى التوقف انه يخرجه منها من كل وجه على احتمال ان يعود إلى حرمتها بالسجود بعد خروجه منها و لهم فيه تفسير آخر وهو انه قبل السجود يتوقف على ظهور عاقبته ان سجدتبيّن انه لم يخرجه و ان لم يسجد تبيين انه أخرجه من وقت وجوده۔ (رد المحتار۔ج: ۲ / ص: ۸۹، باب سجود السهو)

قال الإمام اكمل الدين محمد بن محمد البابرتی رحمه الله: (لأن هذا السلام) أى سلام من عليه سجدة السهو غير قاطع أى بالاتفاق اما عند محمد رحمه الله فلأنه لم يشرع محلاً و اما عند هما فلأنه ان كان محللاً فهو محلل

علی سبیل التوقف لا علی سبیل البتات و کل مالم یشرع قاطعاً لا یقطع الصلوة فدل علی ان القطع لا یحصل بالسلام۔(العنایة علی هامش فتح القدیر ۔ج: ۱ / ص: ۴۵۰، باب سجود السهو)

قال ابن الهمام رحمه الله : فکل سلام‌ٍ‌لا ل فیه ان یکون مخرجاً لأنه جعل محللاً شرعاً۔

قال النبی ﷺ تحلیلها التسلیم و لأنه من باب الکلام علی ما مرّ إلا انه منع من الاخراج حالة السهو دفعاً للحرج لکثرة السهو و غلبة النسیان و لا یکثر سلام من علم ان علیه الواجب لأن ظاهر حال المسلم انه لا یترك الواجب فبقی مخرجاً علی اصل الوضع"(فتح القدیر ۔ج: ۱ / ص: ۴۵۱، باب سجود السهو)

نو لـه مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په دې مسئله کي د امامانو اختلاف دی، امام احمد رحمه الله فرمایي چي کوم سړی د سجدې دپاره سلام وکرځوي نو هغه په اصل کي د لمانځه څخه وتلی نه دی، او دا سلام موقوفاً او ذاتاً په یوه اعتبار سره هم مخرج او محلل نه دی، په داسي حال کي چي د شیخینو په نزد دا سلام خو په خپل ذات کي محلل او مخرج دی لکه څرنګه چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي ته تحلیها التسلیم لیکن د سهو د خاوند په حق کي په قطعي او ذاتي توګه محال او مخرج نه ګڼل کیږي، او که چیري سجده سهو و نه کړي نو مخرج او محلل ګڼل کیږي، لهذا د سلام ګرځولو په وخت کي په هغه باندي هیڅ حکم نه لګول کیږي نه د مخرج او نه د محلل او نه د غیر مخرج او محلل ، ددې تحقیق څخه د مسبوق دپاره د سلام د ګرځولو ممانعت وجه معلومه سوه چي دمسبوق په حق کي چونکه دا سلام د لمانځه په منځ کي د

كـرځـولـو احتمال دى د دې دپاره د مسبوق دپاره د سلام كرځول ممنوع دي تـر څـو چي د ده په حق كي د لمانځه په منځ كي محلل واقع نه سي، اګر كه ديـوې وجهـي دى مـحـلـل هم نه وي، پاتي سوه دا خبره چي بيا په دې حالت كـي د امـام پسـي د نوي مسبوق اقتداء ولي صحيح كيږي؟ نو د دې وجه دا ده چي د ه اقتـداء هـغـه وخـت صـحـيـح كـيـږي چي امـام د سلام كـرځـولو وروستـه سجده سهو وكړي .ځكه چي دسجده سهو د كولو وروسته سلام اتـفـاقـا سـره مـخـرج او مـحـلـل نه دى ، د دې دپاره امام په دې صورت كي په اتـفـاق سره د لمانځه څخه وتلى نه دى ځكه د دوهم مـسـبـوق اقـتـداء وريـسـي جائز او صحيح ده .

ددې سـره د سهـوي سـجـده د سلام څخه مخكي هم جائز ده، د نبي كريم ﷺ څـخـه دواړه ډوله عمل په روايتونو او حديثونو كي منقول دي، ليكن چـونـكـه نبـي كـريـم ﷺ د ټـول امـت دپـاره عـامـه تشريع دا ټاكلې ده چي (لـكـل سهـو سجدتا ن بعد السلام) د دې دپاره يې سلام كرځول او د سجده سهـوي ادا كـول أفـضـل كنلى دى، ځكه چي تر سلام پوري څومره واجبات پاتي سوي وي د هغو ټولو دپاره يو وار سجده سهو كول كافي ده .



﴿باب مکروهات الصلوة﴾

دا باب دی په بیان کي د مکروهاتو د لمانځه:

سوال:......

دجمعې په ورځ ماپښين د لمانځه پر وخت دننه په مسجد جامع کي ځای ډېر هم وي او بعضي خلک دباندي د مسجد د بام پر سر باندي لمنځونه کوي آیا دا جواز لري او کنه؟

جواب:......

"قال ابن عابدين رحمه الله: سطح المسجد له حكم المسجد فهو كاقتدائه في جوف المسجد إذا كان لايشتبه عليه الإمام، ولهذا يصح اقتداء من على سطح المسجد بمن فيه إذا لم يتقدم على الامام.(رد المحتار.ج: ۱ / ص: ۶۵۶، احكام المسجد)

لما قال العلامة فخر الدين حسن بن منصور الشهير بقاضيخان: ولو قام على سطح المسجد واقتدى بامام في المسجد ان كان للسطح باب في المسجد ولا يشتبه عليه حال الإمام يصح الاقتداء وان اشتبه عليه حال الإمام لا يصح. (الفتاوى القاضيخان على هامش الفتاوى الهندية .ج: ۱ / ص: ۹۴ ،باب الإمامة، ومثله في الفتاوى الهندية .ج: ۱ / ص: ۸۸، باب الإمامة الفصل الرابع في بيان ما يصح الاقتداء)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د مسجد په بام باندي په انفرادي توګه یا د جمعې د لمانځه ادا کول جائز دي مکر بغیر له عذره داسي

كول د كراهيت څخه خالي نه وي، په دې شرط چي د امام حالت پرې مشتبه نه سي او نه تر امام مخكي ولاړ وي او كه چيري د امام حالت پرې مشتبه سي يا تر امام مخكي ولاړ وي نو بيا نه دى جائز .

سوال:......

بعضي خلك په لڅ سر باندي لنكوټې تړي او د خپل سر منځنۍ حصه لڅه پرېږدي آيا ددې سړي لمونځ كي داسي كول جائز دي او كه نه؟

جواب:......

"لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله : يكره اشتمال الصماء والاعتجاز، قال ابن عابدين رحمه الله : (تحت قوله والاعتجاز) لنهى النبى ﷺ و هو شد الرأس او تكوير عمامة على رأسه ترك وسطه مكشوفا۔ (رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٦٥٢ ، باب ما يفسد الصلوة ، و ما يكره مطلب الكلام على اتخاذ المسجة۔

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالى رحمه الله و يكره الاعتجاز و هو شد الرأس بالمنديل او تكوير عمامة على رأسه۔ (مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى / ص: ٤٧٣ ، ـج: ١)

(قوله : أتكوير عمامته على رأسه) أى : لف العمامة حول الرأس و ابداء الهامة كما فى الظهيرية ، فقوله و ترك وسطها مكشوفاً راجع إلى تفسير الشرح ايضا ، والمراد أنه مكشوف عن العمامة لا مكشوف اصلا لأنه فعل ما لا يفعل ۔ قوله : (لنهى النبى ﷺ هذا كراهة التحريم۔ "(حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح شرح نور الايضاح ـج: ١ / ص: ٤٧٣، فصل فى المكروهات، و مثله فى الفتاوى الهندية ، ـج: ١ / ص: ١٠٠ ، الفصل الثانى فيما يكره الصلوة)

نـو لـه مـذكـوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه چي نبي كريم ﷺ د دې ډول لـنـكـوټـې تړلو څخه منع كړې ده، نو كوم څوک چي دا رنګه لنكوټه تړي چي د سر مـنـځـنـۍ حـصـه يې لڅه وي نو لمونځ يې مكروه تحريمي دی يعني لمونځ يې نه صحيح كيږي .

سوال :......

كـه د چا د پرتاګه پايڅې په لمانځه كي تر بيجلكو كښتـه وي نو ددې سړي لمونځ څنګه دی آيا جائز دی او كنه؟

جواب :......

" عـن ابن عمر رضى الله عنهما ان النبى ﷺ قال من جرّ ثوبه خيلاء لم ينظر الله اليه يوم القيامة ـ

عـن أبـى هـريـرـة رضـى الله عـنـه قـال قـال رسول الله ﷺ ما اسفل من الكعبين من الازار فى النار۔(كلاهما فى الصحيح البخارى ـج: ۱ / ص: ۸٦۱ ،كتاب اللباس)

لـمـا قال العلامة الملا على القارى : قال ابن الملك رحمه الله : و يفهم منه ان جره لغيره ذلك لا يكون حراماً لكنه مكروه كراهة تنزيهة و ايضا قال : و قد نـص الشافعى علىٰ ان التحريم مخصوص بالخيلا لدلالة ظواهرالحديث عليها فان الـخـيـلا فهـو مـمنوع منع تحريم و إلا فمنع تنزيهة" (مرقات شرح مشكوة ، جـلـد ۸ص ۱۳۸ ، كتاب اللباس ، الفصل الاول و مثله فى مشكوة ـج: ۲ / ص: ۳۷۱ ،و إلى / ص: ۳۷۲ ، كتاب اللباس)

نـو لـه مـذكـوره عبـاراتـو څخه دا ثابتـه سوه چي پايڅې دتكبر په وجه د بيـجـلـكـو څـخـه كښتـه ايله كول مكروه تحريمي دي، نو په داسي حالت

کي لمونځ کول چي پايڅې تر بيجلکو کښته وي نو د دې سړي لمونځ مکروه دی مګر لمونځ يې فاسد نه دی .

سوال :......

په لمانځه کي په "التحيات" کي د عليه الصلوة و السلام تصور کول په لمانځه کي، آيا جائز دی او کنه؟

جواب :......

"عن أبی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدرها مالم تعمل به او تتكلم ـ متفق عليه (مشكوة ـ ج: ١ / ص: ١٨، اب فی الوسوسة ـ و مثله فی الصحيح المسلم ـ ج: ١ / ص: ٧٨ ، باب تجاوز الخ ـ"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په لمانځه کي د نبي کريم ﷺ تصور په خيال کي را تلل لمونځ نه فاسدوي او نه و لمانځه ته څه تاوان کوي، ځکه په التحيات او په درود شريف کي د انسان په تصور کي خامخا نبي کريم ﷺ راځي، مګر علی سبيل العبادة په خيال کي راوستل شرعاً جائز نه دی . ځکه چي لمونځ دالله تعالی دپاره ادا کيږي علی سبيل العبادة، و عليه السلام ته نه کول کيږي .

سوال :......

کوم کباړي جامې چي د خارجه څخه و اسلامي دولتو ته راځي لکه پاکستان، افغانستان او دکباړي جامې اکثره د فاسقانو او هندوانو او شراب خورو وي آيا په داسي کباړي جامو کي لمونځ شرعاً جواز لري او کنه؟

جواب :......

"لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله : ثياب الفسقة و أهل الذمة طاهرة ـ

قال ابن عابدين رحمه الله : قال فى الفتح قال بعض المشائخ تكره الصلوة فى ثياب الفسقة لأنهم لا يتقون الخمور۔

قال المصنف يعنى صاحب الهداية الاصح انه لا يكره لأنه لم يكره من ثياب أهل الذمة إلا السراويل مع استحلالهم الخمر فهذا اولىٰ۔ (رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۳۵۰ ، فصل فى الاستنجاء ، قبيل كتاب الصلوة)

قال العلامة السيد احمد الطحطاوى رحمه الله: تحت قوله وثياب الفسقة و أهل الذمة ، مثلهم أهل الحرب (قوله طاهرة) ظاهره جوا زالصلوة فيها من غير كراهة من التجنيس ان الصلوة فى سراويل أهل الذمة مكروهة۔

قال الحلبى رحمه الله : و لعله لأنهم لا يستزئون فى لا يستنجون۔ (حاشية الطحطاوى على الدر المختار ـ ج: ۱ / ص: ۱٦۸ ، فصل فى الاستنجاء قبيل كتاب الصلوة)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د کباړي جامې اکثره د يهودو ، نصارا وو او فساقو استعمال سوي جاميدي . فقهاء کرامو د هغوی په پرتوکونو ، پتلونو او په شان د پرتوکونو او پتلونونو ددې څخه بغير ، پر نورو جامو کي د لمانځه ادا کول جائز بللي دي، مګر بهتره دا ده چي داسي کباړي او خارجي جامې پر نه منځل سي او بيا استعمال سي .

سوال :......

په نرمو جامو کي لمونځ جائز دی او کنه؟ نن صبا اکثره جامې ډېري نرمي وي که د نارينه جامې او که د ښځو جامې دي نو ډېري نرمي دي چي ټول بدن يې معلوميږي؟

جواب :......

”و لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و للمرأة و لو خنثى جميع بدنها حتى شعرها النازل في الاصح خلا الوجه و الكفين فظهر الكف عورة على المذهب المقدمين على المعتمد۔ (الدر المختار على هامش رد المحتار ۔ج: ١ / ص: ٤٠٥، باب شروط الصلوة)

و قال ابن عابدين رحمه الله: تحت قوله و لا يصف ما تحته مالا يرىٰ منه لون البشرة احترازاً عن الرقيق و نحو الزجاج۔ (رد المحتار ۔ج: ١ / ص: ٤١٠ ، باب شروط الصلوة ، مطلب في النظر إلى وجه الامرد)

و في الهندية : و بدن الحرة عورة إلا وجهها و كفيها و قدميها ، كذا في المتون و شعر المرأة و ما على رأسها عورة و اما المسترسل ففيه روايتان الاصح انه عورة ، كذا في الخلاصة و هو الصحيح و به اخذ الفقيه أبو الليث و عليه الفتوى ۔ والثوب الرقيق الذي يصف ما تحته لا تجوز الصلوة فيه كذا في التبيين۔“ (الفتاوى الهندية ۔ج: ١ ٥٨ ، الباب الثاني في شروط الصلوة، و مثله في التبيين الحقائق ۔ج: ١ / ص: ٩٦ ، باب شروط الصلوة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د آزادي ښځي ټول بدن عورت دی او د نارینه د نامه څخه بیا تر زنګنو پوري عورت دی، نو په لمانځه کي د ددغو پټول فرض دي، نو که د ښځو په دې کي یو ځای ښکاره سي ددغه نرمي جامې څخه، لمونځ يې نه صحيح كيږي او كه د نارینه د عورت په حصه کي یو ځای ښکاره وو لمونځ يې نه صحيح كيږي او د لمانځه را ګرځول واجب دي .

سوال :......

بعض خلک چي درکوع څخه راپورته سي او بیا سجدې ته ځي نو خپل پرتوګ او کالي راپورته کړي نو آیا داسي عمل یاکارکول په لمانځه کي جائز دی او کنه؟

جواب :......

"لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله : و کره کفه او رفعه ولو لتراب کمشمر کم اوزیل و عبثه به ای بثوب و بجسده للنهی إلا لحاجة و لا بأس به خارج صلوة قال ابن عابدين رحمه الله: (تحت قوله وعبثه) قال فى النهاية و حاصله ان کل عمل هو مفيد للمصلّي فلا بأس به ، فاما ما ليس بمفيد فهو العبث۔ رد المحتار ۔ج: ١ / ص: ٦٤٠ ، باب ما يفسد الصلوة ، و ما يكره فيها)

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالی رحمه الله : و کف ثوبه أی رفعه او من خلفه إذا اراد السجود و قيل ان يجمع ثوبه و يشده فی وسطه لما فيه من التجبر المنافي للخشوع لقوله عليه امرت ان اسجد على سبعة اعضاء و ان لا اكف شعر و لاثواباً" (مراقی الفلاح على صدر حاشية الطحطاوی ۔ج: ١ / ص: ٢٨٤ ، باب مكروهات الصلوة، و مثله فی الهندية ۔ج: ١ / ص: ١٠٥ ، الفصل الثاني فيما يكره فی الصلوة)

لقوله ﷺ : إن هذه الصلوة لا يصلح فيها شيئ من کلام الناس۔ (خرجه مسلم فی المساجد ، باب : تحريم الكلام فی الصلوة ١٩٩)

والعمل القليل عفوّ لعدم الاحتراز عنه ۔ (حاشية الطحطاوی على مراقی الفلاح ۔ج: ١ / ص: ٤٣٦ ، باب ما يفسد الصلوة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د لمانځه په حالت کي بغير د ضرورته داسي کول مکروه دي، مګر که چيري ضرورت وو نو بيا

کوم کراهیة نسته پکښې، نو لمونځ صحیح دی .

سوال :......

د کـفـارو پـه لاسـو بـانـدې د جـوړو سوو جامو کې لمونځ کول جواز لري او کنه؟ لکه د هندوستان ، جاپان ، چین ، امریکا وغیره؟

جواب :......

"لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله : لو شك في نجاسة ماء او ثوب لم يعتبر

قال ابن عابدين رحمه الله : (تحت قوله من شك في ازائه وثوبه فهو طاهر الخ كذا ما يتخذه أهل الشرك او الجهلة من المسلمين والخبز و الاطعمة -(رد المحتار -ج: ١ / ص: ١٥١ ، كتاب الطهارة ، مطلب ابحاث الغسل)

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاری رحمه الله : قال أبو حفص البخاری رحمه الله من شك في انائه او ثوبه او بدنه اصابته نجاسة ام لا فهو طاهر ما لم يستيقن" (الفتاوى التتارخانية -ج: ١ / ص: ١٤٦ ، كتاب الطهارة ، نوع في مسائل الشك)

نـو لـه مـذکـوره عباراتو ښکاره دا ثابتـه سوه چې د کفارو پـه لاسـو د جوړو سـوو جـامـو پـه استعمال کې هیڅ بدې نستـه مګر که چیرې دومره نازکې وې چې عورت نه په پټیږې نو بیا لمونځ نه پکښې روا کیږې، بیا تر کوم ځایـه پـورې چې پـه دغـو جامو کې د لمانځه د ادا کولو خبره ده نو اګر که د داسـې جامو د ناپاکې احتمال ستـه مګر د پاکوالې خوا یې راجحه ده نو ددې دپاره په داسې جامو کې لمونځ صحیح دی .

سوال :......

بـعـضـې خـلـک پـه لـمـانځه کې ستر کې پټوې آیا ددې خلکو لمونځ په پټو

ستر کو سره جائز دی او کنه؟

جواب :......

"لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و كره تغمض عينه للنهى إلا لكمال الخشوع۔

قال ابن عابدين رحمه الله : (تحت قوله للنهى) ثم الظاهر ان الكراهة التنزيهة۔ (رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٤٤٥، باب ما يفسد و ما يكره فيها)

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي رحمه الله:و يكره تغميض عينه إلا لمصلحة لقوله ﷺ إذا قام احدكم في الصلوة فلا يغمض عينيه لأنه يفوت النظر للمحل المندوب و لكل عضو و طرف حظ من العبادة و برؤية ما يفوت الخشوع و يفرق الخاطر بما يكون التغميض اولى من النظر۔" (مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى ، ـج: ١ / ص: ٢٨٨، باب مکروهات الصلوة۔

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چيپه لمانځه کي د ستر کو پټول مکروه تنزیهي دي یعني د اولی خلاف دي، ددې دپاره باید چي په پټو ستر کو سره لمونځ ادا نه کړي، که چیري د خشوع او خضوع دپاره په لمانځه کي څوک ستر کي پټي کړي نو د کراهیت بغیر جائز دي بلکي ځینو علماؤ ورته بهتر هم ویلي دي .

سوال :......

په ژمي کي یا په گرمي کي بعضي خلک په پټو یا دسمال سره خوله پټوي او بیا لمونځ کوي، په دې ډول سره لمونځ کول جواز لري او کنه؟

جواب :......

"لما في الهندية : و يكره التلثم و هو تغطية الأنف والفم في الصلوة و التثاؤب

الـخ ـ الفتـاوى الهـنـديۃ ـج: ۱ / ص: ۱۰۷ ، الفصـل الثـانى فيمـا يكره فى الصلوة ـ

لما قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالى رحمه الله و يكره ، و تعطية انفه و فمه لما روينا ـ

قال السيد احـمـد الطـحـطاوى رحمه الله : (تحت قوله لما روينا) من انه ﷺ نهى عـنـان يـغـطـى الـرجـل فاه كذا فى الشرح مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى ـج: ۱ / ص: ۲۸۹ ، فصل فى مكروهات الصلوة"

نـو لـه مـذكـوره عبـاراتـو څخه دا ثابتـه سوه چي په لمانځه كي د پزي او خـولـې پـټـول مكروه دي، ددې دپاره د ژمي يا د ګرمي په موسم كي دداسي كار كولو څخه پرهيز كول په كار دي، ځكه چي لمونځ په مكروه كيږي .

سوال :......

د بـعـضـي عـلـماؤ سګرېټ يا نسوار په جيب كي وي او چي د لمانځه وخت راځي نـو دا شـى يـعـنـي نسوار يا سګرېټ يې په جېب كي وي او خلګو ته لمونځ هم وركوي آيا لمونځ ورسره جائز دى او كنه؟

جواب :......

"لـمـا قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : فانه لم يثبت اسكاره و لا تفتيره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل فىٔ الأشياء الاباحة و ان فـرض اضـراره لـلـبعض لا يلزم منه تحريمه على كل احدٍ الخ ـ (رد المحتار ـج: ۱ / ص: ٤٦٥ ، كتاب الاشربة)

لـمـاقـال الـعلامة محمد كامل الطرابلسى رحمه الله : لما سئل عنه الدخان الذى شاع فى زماننا و عمت به البلوىٰ وحكم الله فيه ـ

قال الجواب : ان المجتهدین لم یتکلمون علیه لأنه انما حدث بعدهم والمتأخرون اختلفوا فیه فمنهم من یقول بتحریمة و منهم من یقول باباحته و منهم من توسط و قال بکراهة احسن ما رأیت فیه قول شیخ مشائخنا خاتمة المحققین العلامة الاسیر المالکی رحمه الله : و اختلف فی الدخان والورع ترکه۔ "(فتاوی کاملیة / ص: ۲٦۹ ، کتاب الحظر والاباحة) په دې باب کي زموږ مستقل کتاب سته چي په همدې کتاب د بیع په باب کي راځي .

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په شریعت کي د تمباکو استعمال مباح دی چي ددې وجهي د هغه سره لمونځ کول هم صحیح دی . مګر که چیري د نسوارو یاسګرټو سره کوم مردار شی ګډ سوی وي نو بیا لمونځ ورسره صحیح نه دی، او بل دا خبره یاده لرئ د دخوشایو څخه ایرې جوړي سي او د نسوارو سره ګډي وي نو لکه څرنګه چي داایرې پاکي دي نو نسوار هم پاک دي‌او په نسوارو باندي کوم اثر نه لوېږي .

سوال :......

بعضي ښځي د خپل سر وېښتان پر سر باندي را جمع کړي او ویې تړي نو داسي شی ځیني جوړ کړي لکه د اوښ بوک، نو آیا په داسي حالت کي د ښځو لمونځ یا د بعضو نارینه وو لمونځ جائز دی او کنه؟

جواب :......

" لما قال العلامة الحصکفی رحمه الله : و عقص شعره اهـ

قال ابن عابدین رحمه الله :(تحت قوله و عقص شعره) أی ضفره و فتله و المراد به ان یجعله علی هامته و یشد بخیط او ان یلف ذوائبه حول رؤسه کما یفعله النساء فی بعض الاوقات او یجمع الشعر کله من قبل القفا و یشده بخیط

او خرقة و جميع ذلك مكروه ـ الدر المختار على هامش رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ٦٤٢، باب المكروهات)

و في الفتاوى الهندية: و يكره عقص شعره و هو جمع الشعر على الرأس و يشده بشيئ حتى لا ينحل كذا في التبيين و اختلف الفقهاء فيه على اقوال فقيل ان يجمعه وسط رأسه ثم يشده و قيل ان يلف ذوائبه حول رأسه كما يفعله النساء و قيل ان يجمعه من قبل القفاء و يمسكه بخيط او خرقة و كل ذلك مكروه كذا في البحر الرائق ـ (الفتاوى الهندية ـ ج: ۱ / ص: ۱۰٦ ، الفصل الثاني فيما يكره في الصلوة ، و مثله في البحر الرائق ـ ج: ۲ / ص: ۲۳ ، باب ما يفسد في الصلوة و ما يكره)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د ښځو دپاره د وېښتانو په يوه ځای باندي د جمع کولو او تړلو او د اوښ د بوک په شان جوړول په داسي صورت کي لمونځ مکره دی . اګر که د لمانځه د حالت بغير د ضرورت په وخت کي د وېښتانو په يوه ځای جمع کول مباح دي خو بيا هم لمونځ بايد ورسره ونه سي که نارينه وي او که د ښځي وېښتان وي .

سوال:......

د سحراء په اکثرو مسجدانو کي يو يا دوه د شهيدانو قبرونه وي نو کله چي خلک وقبرو ته مخامخ ودريږي آيا ددې خلکو لمونځ جائز دی او کنه؟

جواب:......

"لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و كذا تكره في اماكن كفوق كعبة ، و مقبرة ـ

قال ابن عابدين رحمه الله : و اختلف في علته فقيل لأن فيها عظام

الـمـوتـىٰ و صـديـدهـم و هـو نـجـس و فيه نظر و قيل لأن اصل عبادة الاصنام اتخاذ قبور الصالحين مساجد و قيل لأنه تشبه باليهود و عليه شيئ فى الخانية و لا بـأس بـالصلوة فيها إذا كان فيها موضع اعد للصلوة و ليس فيه قبر و لا نجاسة و لا قبلة إلى قبر۔

(رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۳۸۰ ، كتاب الصلوة ، قبيل باب الأذان)

قـال الـعـلامة حسـن بـن عـمـار الشـرنـبلالـى رحمه الله: و تكره الصلوة فى المقبرة و امثالها ۔

قـال الـعـلامة السيد احمد الطحطاوى رحمه الله : (تحت قوله فى المقبرة) لأنـه تشبه باليهود و النصارى ، و فى زاد الفقير وتكره الصلوة فى المقبرة إلا ان يكون فيها موضوع اعد للصلوة لا نجاسة فيه و لا قذر فيه۔

قال الحلبى رحمه الله : لأن الكراهة معللة بالتشبه و هو منتف حينئذ۔

و فـى الـقهستانى رحمه الله : فى عن جنائز المضمرات لا تكره الصلوة إلى جهة الـقبر إلا إذا كـان بين يديه بحيث لوصلى صلوة الخاشعين وقع بصره عليه ۔"

(حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح ۔ج: ۱ / ص: ۲۹۰ ، باب مكروهات الصلوة)

نـو لـه مـذكـوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه چي قبر ته مخامخ لمونځ كه نـفـل وي او كه فرض وي مكروه دى ، كه بيا چيري د قبر مخته دېوال يا بل كـوم داسـي شـى وي نو بيا څه كراهيت پكښي نسته بې له كراهته جائز دى ، ا وپـه دې صـورت كـي هـم بـايـد د تهـمت څـخـه د ځان ساتلو په خاطر هلته بايد لمونځ و نه كړل سي، په داسي ځاى كي بايد وسي چي كراهيت نه وي پكښي .

سوال :......

د سخت قضاء حاجت سره لمونځ كول جواز لري او كنه؟

جواب :......

" قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (تحت قوله و صلوته مع مدافعة الاخبثين) .

قال في الخزائن : سواء كان بعد شروعه او قبله فان شغله قطعها ان لم يخف فوت الوقت و ان اتمها اثم ، بقي ما إذا خشي فوت الجماعة و لا يجد جماعة غيرها فهل يقطعها كما يقطعها إذا رأى على ثوبه نجاسة قدر الدرهم ليغلسها اولاً كما إذا كانت النجاسة قدر الدرهم اقل من الدرهم والصواب الاول.(رد المحتار .ج: ١ / ص: ٦٤١ ، باب مكروهات الصلوة)

لما قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي رحمه الله : و مدافعاً لاحد الاخبثين البول والغائط او الريح إلا إذا خاف فوت الوقت او فوت الجماعة فحينئذ يصلي بتلك الحال لأن اخراج الصلوة عن وقتها حرام والجماعة مؤكدة واجبة.

قال العلامة السيد احمد الطحطاوي رحمه الله:(تحت قوله إلا إذا خاف فوت الوقت) ظاهره انها تنتفي الكراهة عند ذلك" (مراقي الفلاح على صدر حاشية الطحطاوي .ج: ١ / ص: ٢٩٢، فصل فيما يكره في الصلوة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابتېږي سوه چي د قضاء حاجت سخت ضرورت وي نو په داسي حالت کي د لمانځه ادا کول مکروه تحريمي دی، نو بهتره دا ده چي د قضاء حاجت څخه ځان فارغه کړي او بيا لمونځ ادا کړي او که چيري پر دې باندي بېرېږي چي وخت به تېر سي نو بيا دي لمونځ وکړي څه پروا نلري .

سوال :......

بعضو كسانو اوږه، پياز يا مولى يا كندنه خوړلي وي او بيا په مسجد كي د نورو خلكو سره پر څنگ هم ولاړ وي نو د دې كسانو لمونځ څنگه دى آيا صحيح دى او كنه؟

جواب :......

"عن علي رضي الله تعالى عنه قال نهى عن اكل الثوم إلا مطبوخاً" (الجامع الترمذي ـ ج: ۲ / ص: ۳ ، باب ما جاء في الرخصة في اكل الثوم مطبوخاً ـ

عن علي رضي الله تعالى عنه قال نهى عن اكل الثوم إلا مطبوخاً ـ (ابو داؤد ـ ج: ۲ / ص: ۱۸۱ ، كتاب الاطعمة ، باب اكل الثوم ، ومثله في مشكوة ـ ج: ۲ / ص: ۳٦۷ ، كتاب الاطعمة ، الفصل الثاني ـ)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي داوږي ، پياز ، مولى ، كندني او داسي نورو شيانو د خوړلو څخه په خولي كي بد بويي پيدا كيږي . بهتره دا ده چي دا بدبويي ليري كړي او بيا مسجد ته ولاړ سي او بيا خپل لمونځ وكړي نو د دې بدبويي سره د لمانځه ادا كول د مسجد جومات برسيره په هر ځاى كي مكروه دى ، د دې دپاره چي په حديث شريف كي د دغو شيانو د خوړلو په حالت كي د لمانځه د ادا كولو څخه منع راغلي ده . نو بايد په مسجد كي د دغو شيانو په بد بويي سره و چا ته ضرر ونه رسوي بلكي په هر بدبويه شي سره په مسجد كي و چا ته ضرر ونه رسيږي . لكه تېز عطر وغيره نو د دې څخه بايد منع وسي .

سوال :......

بعضي خلك په لمانځه كي د پښو پر پوندو باندي كښېني آيا د دې خلكو لمونځ په دغسي طريقه باندي جواز لري او كنه؟

جواب :……

"قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: تحت قوله و اقعاء)و قال الكرخي رحمه الله: بان ينصب قدميه و يقعد على عقبيه و يضع يديه على الارض، قال في البحر و ينبغي ان تكون الكراهة التحريمية على الاول تنزيهية على الثاني۔ (رد المحتار ج١ / ص: ٦٤٣، باب مكروهات الصلوة)

قال العلامة السيد احمد الطحطاوي رحمه الله :(تحت قوله كره الاقعاء) وقال الكرخي رحمه الله : هو ان ينصب قديمه و يقعد على عقبيه واضعاً يدَيه على الارض۔

قال الزيلعي رحمه الله : لا ان ما قاله الكرخي رحمه الله غير مكروه بل يكره ذلك ايضاً۔ " (حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ۔ج: ١ / ص: ٢٨٣، باب ما يكره في الصلوة، ومثله في البحر الرائق ۔ج: ٢، / ص: ٢٢، باب مايفسد الصلوة وما يكره)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په لمانځه کي د پښو پر پوندو باندي کښېنستل مکروه دي . مګر که چیري د کوم مرض په خاطر پر پوندو باندي کښېني بیا پروا نه لري بیا جائز دی اوبغیر دعذر څخه داسي کښېناستل مکروه دي .

سوال :……

په مسجدانو کي چي کومي خولۍ د جالۍ پرتې دي په دې کي لمونځ کول جائز دی او کنه؟

جواب :……

"لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله : و كره، وصلوة في ثياب بذلة يلبسها

فی بیته۔

قال ابن عابدین رحمه الله : تحته و فسرها فی شرح الوقایة بما یلبسه فی بیته و لا یذهب إلی الاکابر والظاهر ان الکراهة تنزیهیة۔ (رد المحتار۔ج: ۱ / ص: ٦٤١، باب مکروهات الصلوة)

قال العلامه حسن بن عمار الشرنبلالی رحمه الله تکره الصلوة فی ثیاب البذلة ، ما لا یذهب به إلی الکبراء و رأی عمر رضی الله عنه رجل فعل ذلك فقال ارأیت لو کنت ارسلتك إلی بعض اکنتَ تمر فی ثیابك هذه فقال لا فقال عمر رضی الله تعالی عنه الله أحق ان تتزین له" (مراقی الفلاح صدر حاشیة الطحطاوی۔ج: ۱ / ص: ۲۹۲ ، فصل مکروهات الصلوة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي لمونځ کوونکي ته په کار دی چي د لمانځه دپاره داسي خولی یا دسمال پر سر کړي چي د هغه سره کوم مجلس ته بغیر د شرمه څخه تلی سي، کومي خولی چي په مسجدو کي پرتي دي دا پر سر کولو په صورت کي يې لمونځ کوونکي نورو مجلسونو ته نه پکښي ځي نو د دیدپاره د ثیاب بذله په حکم کي داخلي دي نو په داسي خولیو کي لمونځ مکروه دی . نو که داسي جامې چي هغه ډېري خیرني وي لکه د مستریانو کالي یا د دوی خولی نو په داسي جامو کي لمونځ کول مکروه دی ، باید و لمانځه ته پاکي جامې واغوستل سي .

سوال :......

بعضي د سکول شاګردان یا د مکتب شاګردان کله چي لمونځ کوي نو د دوی تایي په غاړه وي اولمونځ ورسره کوي آیا د دوی لمونځ له تایي سره

جائز دی او کنه؟

جواب :......

"لقوله عليه الصلوة والسلام: من تشبه بقوم فهو منهم-

قال الطيبى رحمه الله : قوله من تشبه بقوم هذا عام فى الخلق والخُلق والشعار و إذا كان الشعار اظهر فى التشبيه ذكر فى هذا الباب- (طيبى شرح مشكوة - ج: ٨ / ص: ٢١٩ ،كتاب اللباس الفصل الثانى)

قال العلامة ملاعلى القارى رحمه الله : عن ابن عمر رضى الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم أى من تشبه نفسه بالكفار مثلا فى إللباس وغيره او بالفساق او الفجار او بأهل التصوف والصلحاء الابرار فهو منهم أى فى الاثم والخير-

قال الطيبى رحمه الله: هذا عام فى الخلق و الخُلق والشعار ولما كان الشعار اظهرمن التشبه ذكر فى هذا الباب" (مرقات شرح مشكوة -ج: ٨ / ص: ٢٥٥، كتاب اللباس ،الفصل الثانى ، ومثله فى المشكوة -ج: ١ / ص: ٣٧٥، كتاب اللباس ، الفصل الثانى)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي ټايي د صليب نښه او د عيسايانو د ديني شعائرو څخه يو شعار دى . ځكه د ټايي په تړلو سره د هغوى د مذهبي شعار تائيد او حمايت كيږي نو ددې دپاره د كفارور سره د تشبيه د وجهي د ټايي سره لمونځ مكروه دى نو بايد د اسكول او د مكتب شاګردانو ته وويل سي چي د لمانځه پر وخت يې دغاړي څخه خلاصه كړي او بيا خپل لمونځ وكړي .

سوال :......

بعضي خلک په التحيات کي خپله لمنه سموي آيا داسي عمل په لمانځه کي جائز دی او کنه؟

جواب :......

"لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و كره كفه اى رفعه و لو لتراب كمشمر كم اوزيل و عبثه به أى بثوبه و بجسده للنهي إلا لحاجة و لا بأس به ـ (الدر المختار على هامش رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ٦٤٠، باب مكروهات الصلوة)

قال العلامة أبو البركات النسفي رحمه الله : و كره عبثه بثوبه و بدنه و قلب الحصا إلا للسجود مرّة و فرقعة الاصابع" (كنز الدقائق على هامش البحر الرائق ـ ج: ۲ / ص: ۱۹ ، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها ، و مثله فى مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى ـ ج: ۱ / ص: ۲۸۰ ، فصل فى مكروهات الصلوة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په لمانځه کي که التحيات کي يا نورو ځايو کي وي يا د خپل بدن په نور اعضاوو باندي سات تېرول په لمانځه کي مکروه دی . نو ددې دپاره په صورت مسئله کي د التحيات په حالت کي خپله لمن برابرول دا عمل کثير دی نو د عمل کثير د وجهي مکروه ورته ويل سوي دي، نو بايد څوک دغه عمل ونه کړي .

سوال :......

چي څوندي مال ضائع کيږي نو بيا سړی لمونځ پرېښولی سي او بيا خپل لمونځ مات کړي دا مال به څوندي اندازه وي؟

جواب :......

" لما فی الهندیة : رجل قام إلی الصلوٰة فسرق منه شیئ قیمته درهم له ان یقطع الصلوة و یطلب السارق سواء کانت فریضة او تطوّعاً لأن الدرهم مال۔ (الهندیة ۔ج: ۱ / ص: ۱۰۹ ، الفصل الثانی فیما یکره)۔

قال العلامة الحصکفی رحمه الله : و یباح قطعها لنحو قتل حیة و ند دابة و فور قدر و ضیاع ما قیمته درهم له او لغیره۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله : (تحت قول و ضیاع ما قیمته درهم) قال فی مجمع الروایات : لأن ما دونه تصیر فلا یقطع الصلوة لاجله الخ ۔" (رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٦٥٤ ، باب مکروهات الصلوة ، قبل فی احکام المسجد ، ومثله فی مراقی الفلاح علی صدر حاشیة الطحطاوی ۔ج: ۱ / ص: ۳۰۰ ، فصل فیما لا یکره)

نو لـه مذکوره عبـاراتو څخـه دا ثـابتـه سوه چي د یوه درهم د قیمت لرونکي شي د ضائع کېدو په صورت کي د لمانځه ماتول جائز دي ، په داسي حال کي چي یو درهم درې ماشې او یوه رتی کېږي ، نو ځکه په اوسني دور کي د درې ماشو او یو رتی سپینو زرو لـه قیمت سره د برابر مالیت لرونکي شي د ضائع کېدو په صورت کي د لمانځه ماتول جائز دي .

سوال :......

یو سړی بیده دی او بل سړی و دې بیده سړي ته مخامخ لمونځ کوي آیا دا لمونځ صحیح دی او کنه؟

جواب :......

" قال العلامة الحصکفی رحمه الله : و لا یکره صلوة إلی ظهر قاعد او قائم و لم یتحدث إلا إذا اضیف الغلط بحدیثه۔

قال العلاّمة ابن عابدين رحمه الله : (تحت قوله إلى ظهر قاعد) قيد بالظهر احترازاً عن الوجه فانها تكره اليه كما مر ، و فى شرح المنية فاد به نفى قول من قال بالكراهة بحضرة النائمين، و فى النائمين إذا خاف ظهور شيئ يضحكه ـ (رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٦٥١، باب مكروهات الصلوة)

قال ابراهيم الحلبى رحمه الله : و لا بأس بان يصلّى متوجها إلى ظهر رجل قاعداً الظاهر ان التقييد به باعتبار الغالب و انه لا فرق بين كونه قاعداً او قائماً و قوله يتحدث لافادة نفى قول من بالكراهة بحضرة المتحدثين و كذا بحضرة النائمين ـ"(كبيرى / ص: ٣٥٨ ، باب كراهية الصلوة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي کهچیري بیده سړی د قبلې و طرف ته بیده وي او شاینې د لمونځ کونکي و خواته وي نو د لمونځ کونکي لمونځ بغیر د کراهیته جائز دی او که چیري د بیده سړي مخ د لمونځ کونکي و خواته وي نو بیا د لمونځ کونکي لمونځ مکروه دی .

سوال :......

په لمانځه کي بغیر د عربي ژبي دعاء جائز ده او کنه؟

جواب :......

"لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : و ظاهر التعليل ان الدعاء بغير العربية خلاف الاولىٰ و ان الكراهة تنزيهية ـ (رد المحتار ـ ج: ١ ص٥٢١، مطلب فى الدعاء بغير العربية ، باب صفة الصلوة)

قال العلامة عبد الحى اللكهنوى رحمه الله: و منها ان يدعوا بالعربية ليكون اقرب إلى الاجابة فان اللسان العربى من الفضل ما ليس لغيره ـ" (فى

غرر الافکار شرح درر البحار ، فی بحث الدعاء بعد التشهد کره الدعاء/لا عجمیة الخ ـ ج: ۲ / ص: ۲٤٥ ، باب صفة الصلوة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې مسنونه طریقه دا ده چې په لمانځه کې په عربي سره دعاء غوښتلی سي او بیا که په عربي سره دعا ونه غوښتله نو دا لمونځ به یې د کراهیت څخه خالي نه وي نو لمونځ به یې مکروه وي .

سوال :......

یوه ښځه پر لمانځه باندي ولاړه ده لمونځ کوي پر التحیات باندي کښېنسته او کوچنی بچی یې په غېږ کي کښېنوی، آیا د دې ښځي لمونځ صحیح دی او کنه؟

جواب :......

" فی الهندیة : صلی و هو حامل صبیاً جازت صلوته و یکره لو لم یکن هناك من یحفظه و یتعهد و هو یبکی فلا یکره هکذا فی محیط السرخسی ـ (الفتاوی الهندیة ـ ج: ۱ / ص: ۱۰۷ ، الفصل الثانی فیما یکره فی الصلوة)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله : یکره حمل الطفل و ما ورد نسخ بحدیث ان فی الصلوة شغلا ـ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ، ـ ج: ۱ / ص: ٦۳٥ ، مکروهات الصلوة ، و مثله فی خلاصة الفتاوی ـ ج: ۱ / ص: ٥۹ ، الجنس فیما یکره)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې که چیري بچی پخپله د چا غېږې ته راسي نو لمونځ نه په فاسدیږي او همدا رنګه که چیري د بچي د ژړا یا لوېدو خطره موجوده وي او په دې ځای کي کوم بل څوک نه وي

چي د لوېدو ښځه يې وساتي نو په دې صورت کي د بچي په غېږ کي د
اخيستلو په صورت کي لمونځ نه فاسديږي، مګر د دغو شرائطو بغير په
قصد سره د ميني او محبت دَوجهي د بچـي د پورته کولو ښځه لمونځ
مکروه کيږي، نو بايد که ښځه وي او که نارينه وي ددې ښځه بايد ځان
وساتي تر څو چي په لمانځه کي مکروه عمل را نه سي .

سوال :......

بعضي خلک ليدل کيږي چي خپل لستوني يې تر څنګلو پوري را پورته
کړي وي او لمونځ کوي، آيا د دې خلکو لمونځ صحيح دی او که نه؟

جواب :......

"لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (و) كره) كفه) أى رفعه ولو لتراب كمشمر كم او ذيل وفى رد المحتار ، و فيه الكراهة فى الخلاصة و المنية بان يكون رافعا كميه إلى المرفقين- (رد المحتار -ج: ۱ / ص: ٦٤٠، باب مكروهات الصلوة-

وفى الهندية : ولو صلى رافعا كميه إلى المرفقين كذا فى فتاوى قاضيخان" الفتاوى الهندية -ج: ۱ / ص: ۱۰٦ ، الفصل الثانى ما يكره فى الصلوة ، و مثله فى البحر الرائق -ج: ۲ / ص: ۲٤ ، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها)

نو له مذکوره عباراتو ښځه دا ثابته سوه چي د جامو د موحود والي په
صورت کي د لستونو تر څنګلو پوري پورته کول مکروه دي، مګر که
چيري د چا سره جامي موجودي نه وي نو که يې څنګلي لڅي هم وي نو
بيا يې لمونځ د کراهيت ښځه بغير جائز دی څه پروا نلري .

سوال :……

بعضي خلک د امام څخه دمخه سلام ګرځوي یا امام سلام وګرځوي وروسته یې بیا مقتدي سلام وګرځوي، آیا ددې خلکو لمونځ صحیح دی او کنه؟

جواب :……

"عن انس رضی الله عنه قال صلی بنا رسول الله ﷺ ذات یوم فلما قضی صلوته اقبل علینا بوجهه فقال ایها الناس انی امامکم فلا تسبقون بالرکوع و لا بالسجود و لا بالقیام و لا بالانصراف فانی اراکم امامی و من خلفی رواه مسلم ـ"(مشکوة ـ ج: ۱ / ص: ۱۰۱، ماعلی الماموم من المتابعة)

عن انس رضی الله عنه قال صلی بنا رسول الله ﷺ ذات یوم فلما قضی الصلوة اقبل علینا بوجهه فقال ایها الناس انی امامکم فلا تسبقونی بالرکوع و لا بالسجود و لا بالقیام و لا بالانصراف فانی اراکم امامی و من خلفی ـ رواه مسلم (ج۱ / ص: ۱۸۰) باب تحریم سبق للامام برکوع و سجود و نحوها ـ

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي دمخه تر امام سلام ګرځول مکروه تحریمي دی او دغه رنګه د امام وروسته سلام ګرځول مکروه تحریمي دی ، ځکه د امام متابعت واجب دی نو په دې دواړو صورتو کي د امام متابعت ترک سوی دی .

نو باید د امام درمخه سلام نه وګرځول سي او نه د امام وروسته باید سلام وګرځول سي، باید له امام سره متصل سلام وګرځول سي .

سوال :……

په مکروه وختو کي د لمانځه کول څنګه دي، آیا جائز دي او که مکروه دي ، که چیري مکروه وي نو بیا کوم مکروه، مکروه تنزیهي دي او که

مکروه تحریمي دي، نو کوم یو دي؟

جواب:......

" لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله : و كره تحريماً و كلّ ما لا يجوز مكروه (صلوة) مطلقاً (و لو) قضاء او واجبة اونفلاً (على جنازة و سجدة تلاوة و سهو) لا شكر قنية (مع شروق) إلا العوام و لا يمنعون من فعلها لأنهم يتركونها و الاداء الجائز عند البعض اولىٰ من الترك كما فى القنية وغيرها (واستواء) إلا يوم الجمعة ، و غروب الاعصر يومه۔(الدر المختار على هامش در المحتار ۔ج: ١ / ص: ٣٧٠، كتاب الصلوة)

قال العلامة قاضيخان رحمهالله : يجوز قضاء الفوائت فى اى وقت شاء إلا فى ثلاث ساعات لا تجوز فيها المكتوبة و لا صلوة الجنازة و لا سجدة التلاوة إذا طلعت الشمس حتى ترفع و عند الانتصاف إلى ان تزول و عند احمرارها إلى ان تغيب إلا عصر يومه ذلك فانه يجوز اداء عند الغروب ۔" (الفتاوى قاضيخان على هامش الهندية ۔ج: ١ / ص: ٧٤ ، باب الاذان ، ومثله فى خلاصة الفتاوى ، ۔ج: ١ / ص: ٦٨ ، الفصل الرابع فى المواقيت)

نو له مذکوره عبا اتو څخه دا ثابته سوه چي په مکروه وختونو کي يعني د لـ ـ ـ ر حتلو اولوېدو او د لمر د استواء په وخت کي د شريعت د نکاه څخه لمونځ مکروه تحريمي دی مګر د لمر د لوېدلو په وخت کي د همدغي ورځي د ماځيګر د لمونځ بغير د کراهيت څخه جائز دی، د سهار او ماځيګر تر لمنځونو وروسته د قضايي لمانځه ادا کول جائز دي مکروه وختونه درې دي (١) د لمر د راختلو وخت (٢) نصف النهار يعني د ورځي تر نيمايي (٣) د لمر د لوېدلو وخت دی نو په دې درو وختو کي لمونځ

مکروه تحریمي دی .

سوال:......

بعضي خلک په لڅ سر لمنځونه کوي آیادا په لڅ سر لمځونه جائز دي او کنه؟

جواب: ......"قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وصلوته حاسراً)أی كاشفا(رأسه للتكاسل) و(لا) بأس به (للتذلل) اما للاهانة بها فكفر. (الدر المختار على هامش رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٦٤١، مكروهات الصلوة)

تكره الصلوة حاسرا رأسه إذا كان يجد العمامة و قد فعل ذلك تكاسلاً او تهاوناً بالصلوة، ولا بأس به إذا فعله تذللاً و خشوعا بل هو حسن كذا في الذخيرة." (الفتاوى الهندية ـ ج: ١ / ص: ١٠٥، الفصل الثاني فيمايكره في الصلوة وما لا يكره، ومثله في البحر الرائق ـ ج: ١ / ص: ٢٥، باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د سُستي او بغیر د کوم شرعي عذره په لڅ سر سره لمونځ مکروه دی . لکه څرنګه چي نن صبا د ځینو فېشن پرسته ځوانانو او یا بعضي خلکو طریقه ده مګر د عذر او د ځان ذلیله ښکاره کېدلو په صورت کي په لڅ سر سره لمونځ کول جائز دی څه پروانه لري .

سوال:......

پر کومه مسئله باندي چي د کعبې شریفي یا مدینې منورې شریفي عکسونه وي آیا لمونځ پر کول جائز دي او کنه؟

جواب:......

"لما قال العلامة ابراهيم الحلبى رحمه الله : و امام صــورة غير ذى روح فلا خلاف فى عدم كراهة الصلوة عليها او اليها ۔ (كبيرى / ص: ۳٤٦ ، باب مكروهات الصلوة)۔

لما فى الفتاوى الهندية : لو صلى على جدار الكعبة فان وجهه إلى سطح الكعبة يجوز و إلا فلا ۔(الفتاوى الهندية ۔ج: ۱ / ص: ٦٣، باب صلوة فى الكعبة)

لماقال العلامة عالم بن العلاء الانصارى رحمه الله : و لو صلى فى جوف الكعبة او على سطحها جاز إلى اى جهة۔(الفتاوى التتارخانية ۔ج: ۱ / ص: ٤٣٥ ، باب صلوة فى الكعبة)

لماقال العلامة السيد الطحطاوى رحمه الله:صح فرض نفل فوقها و ان لم يتخذ مصليها سترة لما ذكرنا لكنه مكروه لا ساء ة الادب باستعلائه عليها و ترك تعظيمها ما يفيد ان الكراهية التزيهة۔ (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح ۔ج: ۲ / ص: ٤ ، باب الصلوة فى الكعبة ، و مثله فى مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى ۔ج: ۲ / ص: ٤ ، باب الصلوة فى الكعبة، و مثله فى نور الايضاح على صدر مراقى الفلاح ۔ج: ۲ / ص: ٤ باب الصلوة فى الكعبة۔)

لماقال العلامة الحصكفى رحمه الله : و لا يكره لو كانت تحت قدميه او محل جلوسه لأنها مهانة ۔ (الدر المختار على هامش رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٦٤٨ ، باب مكروهات الصلوة۔

لما قال العلامة عبد الله بن محمود بن مودود الموصلى الحنفى رحمهم الله تعالى عنهم ، يجوز فرض الصلوة و نفلها فى الكعبة و فوقها الخ۔ (كتاب الاختيار ۔ج: ۱ / ص: ۱۱۸ ، باب الصلوة فى الكعبة)

لماقال العلامة المفتی محمد حسن گنگوهی رحمه الله : فی منية المصلی : و اما صورة غير ذی روح فلا خلاف فی عدم كراهة الصلوة عليها او اليها ـ (ص ٣١٤) (الفتاوی المحمودية ـ ج: ٧ / ص: ١١ ؛ كتاب الصلوة ـ

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي دکعبې مبارکي او روضې مبارکي تصويرونه هم د غير ذی روحو شيانو په جمله کي راځي . ددې دپاره په کومه مصلی کي چي دا ډول تصويرونه وي په هغی باندي د لاندیني وجوهاتو پر بنا لمونځ جائز دی:

۱﴿ ...... پخپله په کعبې يا د هغې پر دېوال باندي لمونځ جائز دی .

۲﴿ ......د تصوير حکم د عين هغه شي حکم نه وي .

۳﴿ ...... د لمانځه ادا کولو په دوران کي په دغو تصاويرو باندي سر کښېښوول کيږي نه پښې کوم چي د تعظيم موجب دی، همدا وجه ده چي کوم عکسونه د پښو لاندي راځي نو د هغو سره د کراهيت بغير لمونځ جائز دی، په صورت مسئله کي په داسي مصلی وو باندي د لمانځه په ادا کولو کي شرعاً هيڅ حرج نسته .



﴿مفسدات الصلوة﴾

(باب ما يفسد الصلوة)

د لمانځه د مفسداتو په بيان کي:

سوال: ......

د لمانځه د ادا کولو په حالت کي ديو چا ډيکه کولو په وخت کي د لمونځ کوونکي سينه د قبلې څخه وګرځېده نو آيا په دې يې لمونځ فاسديږي او کنه؟

جواب: ......

"لماقال العلامة الحصكفى رحمه الله: (ولغيره) أى غير معانيها و اصابة جهتها، بان يبغى شيئ من سطح الوجه مسامتًا لكعبة او لهوائها (الدر المختار على هامش رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٤٢٨، شروط الصلوة)

قال علامة ابن نجيم رحمه الله: (قوله و لغيرها اصابة جهتها) لغير المكى فرضه اصابه جهتها و هو الجانب الذى إذا توجهاليه الشخص يكون مسامتاً للكعبة او لهوائها." (البحر الرائق ـ ج: ١ / ص: ٣٠٠، شروط الصلوة، و مثله فى الفتاوى الهندية ـ ج: ١ / ص: ٦٣، الفصل الثالث فى استقبال القبلة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي که چيري د قبلې څخه منحرف په ډير لږ اندازه منحرف سي نو لمونځ يې نه فاسديږي، او که چيري من كل الوجوه د قبلې څخه منحرف سي نو بيا يې لمونځ فاسديږي.

سوال: ......

کـه چیـري یـو څـوک د قـرآن کریم دمخه څخه قرائت وایي نو آیا لمونځ یې په فاسدیږي او کنه؟

جواب:......

"لـما فی الفتاوی الهندیة : و یفسدها قرأته من مصحف عند أبی حنیفة رحمه الله : و قال لا یفسد ان حمل المصحف و تقلیب الاوراق و النظر فیه عمل کثیر و الصلوة عنه بدو علی هذا لو کان موضوعاً بین یدیه علی رحل و هو لا یحمل ولا یقلب اوقرأ المکتوب فی المحراب لا تفسد و لأن التلقن من المصحف تعلم لیس من اعمال الصلوة و هذا یوجب التسویة بین المحمول وغیره فتفسد بکل حال و هو الصحیح هکذا فی الکافی۔ (الفتاوی الهندیة ۔ج: ۱ / ص: ۱۰۱ ، مفسدات الصلوة۔)

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله : (قوله قرأته من مصحف) ای یفسد ها عند أبی حنیفة رحمه الله و قالا هی تامة لأنها عبادة انضافت إلی عبادة إلا انها یکره لأنه تشبه بصنیع أهل الکتاب و لابی حنیفة رحمه الله وجهان احدهما انحمل المصحف والنظر فیه و تقلیب الاوراق عمل کثیر الثانی انه تلقن من المصحف فصار کما إذا تلقن من غیره و علی هذا ا لثانی لا فرق بین الموضوع والمحمول عند ه و علی الاول یفترقان و صح المصنف رحمه الله : فی الکافی الثانی و قال انها تفسد بکل حال تبعاً لما صححه شمس الائمة السرخسی"

(البحر الرائق ۔ج: ۲ / ص: ۱۰ ، باب ما یفسد الصلوة ، و مثله فی الدر المختار علی هامش رد المحتار ، ۔ج: ۱ / ص: ۶۲۳ ، مفسدات الصلوة۔)

نو لـه مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د قرآن کریم د مخي په

لمانځه کي قرائت ویل مختلف فیه مسئله ده . د امام أبو حنیفه رحمه الله په نزد لمونځ په فاسدیږي، په داسي حال کي چي د صاحبینو رحمهما الله او امام شافعي رحمه الله په نزد لمونځ نه په فاسدیږي، مګر صحیح قول دا دی چي لمونځ په فاسدیږي او حافظ او غیر حافظ په دې مسئله کي برابر دي فرق نه سره لري .

سوال :......

نن صبا په اکثرو مسجدانو کي امامان په لاوډسپیکر کي لمونځونه ورکوي آیا دا جواز لري او کنه؟

جواب :......

"قال العلامة المفتي کفایت الله رحمه الله : ما څو واري دا آله په لمانځه کي د استعمالولو حکم لیکلی دی او په اخبارونو کي مي هم شائع کړی دی او هغه دا چي خپل ذات په حد کي ددې آلې په جواز کي هیڅ وجه نسته، د دې دپاره د جمعې او اخترونو په خطبو، وعظ او تقریر په مجلسونو کي ددې آلې استعمال مبا ح دی، د لمانځه په لویو مجمعو کي چي کوم خلک خلکو ته تکبیرونه رسوي د هغو د آواز د لوړولو دپاره که دا آله استعمال سي نو کومه پروا نه لري . (کفایت المفتی .ج:۹/ ص: ۲۰۷، کتاب الخطر و الاباحة، و مثله فی امداد الفتاوی .ج: ۱/ ص: ۶۰۵، و إلی / ص: ۶۰۸، و مثله فی آلات جدیدة، / ص: ۵۳) "

نو د مذکوره کتابو د تحریر څخه یې جواز ثابت سو، نو جواز پکښې لري .

سوال :......

که چیري په لمانځه کي یوه ښځه دیوه سړي په محاذاتو (برابر) ودریږي او

امام يې د اقتداء نيت هم وكړي او ښځه بالغه هم وي نو آيا په دې سره لمونځ فاسديږي او كنه؟ آيا د محاذاتو په مسئله كي په محرمي او پردئ ښځه كي څه فرق سته او كنه؟ او د محاذاتو شرائط كوم دي؟

جواب:......

"لما فى الفتاوى الهندية: و منها، ان يكون فى مكان واحد حتى لو كان الرجل على الدكان والمرأة على الارض و الدكان مثل قامة الرجل لا تفسد صلوته (منها) ان يكون بلاحائل حتى لو كان فى مكان متحد بان كانا على الارض او على الدكان إلا ان بينهما اسطوانة لا تفسد صلوته هكذا فى الكافى وادنى الحائل قدر مؤخر الرجل و غلظ الاصبع و الفرجة تقوم مقام الحائل و ادناه قدر ما يقوم فيه الرجل كذا فى التبيين (منها) ان تكون ممن تصح منها الصلوة حتى ان المجنونة إذا حاذته لا تفسد صلوته (منها) ان ينوى الإمام امامتها او امامة النساء وقت الشروع لا بعده ولا يشترط حضور النساء لصحة نيتهن (و منها) ان يكون المحاذات فى ركن كامل حتى لو كبرت فى صف و ركعة فى آخر سجدت فى ثالث فسدت صلاة من عن يمينها و يسارها خلفها من كل صف (و منها) ان تكون جهتهما متحدة جتى لو اختلف لا تفسد و لا يتصور اختلاف الجهة إلا فى جوف الكعبة او فى ليلة مظلمة و صلى كل بالتحرى إلى جهة والمعتبر فى المحاذات الساق و الكعب على الصحيح هكذا فى التبيين و المرأة تتناول الاجنبية والمحرمة والحليلة والصغيرة المشتهاة والكبيرة التى ينفر عنها الرجال هكذا فى الكفاية۔ (الفتاوى الهندية ج: ١ / ص: ٨٩، باب الامة، الفصل الخامس)

قال العلامة الحصكفى رحمه الله:(و إذا حاذته) و لو بعضو واحد و خصه

الزيلعي رحمه الله : بالساق و الكعب (امرأة) و لو امة(مشتهاة) حالاً كبنت تسع مطلقاً و ثمان و سبع لو ضخمة او ماضيا كعجوز (و لاحائل بينها) اقله قدرُ ذراع في غلظ اصبع او فرجة تسع رجلا (في صلوة) و ان لم تتخذ كنيتها ظهرا بمصلي عصر على الصحيح سراج فانه يصح نقلاً على المذهب بحر وسيجي (مطلقة) خرج الجنازة(مشتركة) فمحاذات المصلية لمصل ليس في صلاتها مكروهة لا مفسد فتح(تحريمة) وان سبقت ببعضها (و اداءٍ)و لو حكما كلاحقين بعد فراغ الإمام بخلاف المسبوقين والمحاذات في الطريق (واتحدث الجهة) فلواختلف كما في جوف الكعبة و ليلة مظلمة (فسدت صلوته) لو مكلفاً و إلا لا (ان نوى) الإمام وقت شروعه لابعده (امامتها) و ان لم تكن حاضرة على الظاهر ؤلو نوى امرأة معينة او النساء إلا هذه عملت نية (و لا) قنوها(فسدت صلوتها)" (الدر المختار على هامش رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٥٧٢ ، وإلى / ص: ٥٧٥ ، باب الإمامة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي كه چيري يوه بالغه ښځه د كوم نارينه په محاذاتو كي ودريږي د څو شرائطو تر څنګ د سړي لمونځ فاسديږي ، د مثال په ډول بغير د كوم حائل څخه ، ځاى يو وي ، ښځه عاقله بالغه وي چي لمونځ يې صحيح كيږي ، لېونۍ نه وي، امام د ښځي د اقتداء نيت كړى وي، محاذات په يوه كامل رُكن كي وي، او د دواړو جهت يووي، او په محاذاتو كي د پنډۍ او بنجلكي اعتبار دى او په دې كي محرمه او پردۍ هيڅ فرق نه سره لري دواړي سره برابري دي .

سوال:......

آيا په موټر يا په بس كي لمونځ په ناستي سره جائز دى او كنه؟ چي وخت

د لمـانځـه را داخل سي او موټر چلوونکی یابس چلوونکی بس نه دروي یا موټروان موټر نه دروي؟

جواب :......

"قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (صلى الفرض في فلك) صار(قاعداً بلا عذر صح) لغلبة العجز (واساء) و قالا لا يصح إلا بعذر و هو الاظهر برهان۔ (الدر المختار على هامش رد المحتار ۔ج: ۲ / ص: ۱۰۱ ، باب صلوة المريض)

اما الصلوة على العجلة ان كان طرف العجلة على الدابة و هى تسير و لا تسير (فهى صلوة على الدابة فتجوز فى حالة العذر) المذكور فى التيمم (لا فى غيرها) ومن العذر المطر و طين يغيب فيه الوجه و ذهاب الرفقاء۔(الدر المختار على هامش رد المحتار ۔ج: ۲ / ص: ٤٠ ، باب النوافل ، مطلب الصلوة على الدابة)

ولاتجوز المكتوبة على الدابة إلا من عذر اما الصلوة على العجلة فان كان طرفها على الدابة وهى تسير اول فهى صلوة على الدابة و قد مرحكمها۔ "

(الفتاوى الهندية ۔ج: ۱ / ص: ۱٤۳ ، الباب الخامس عشر فى صلوة المسافر ، و مثله فى معارف السنن ، ۔ج: ۳ / ص: ۳۹۵ ، باب الصلوة على الدابة حيث توجهت به۔)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په بس یا موټر کي په ناستي سره د عذر د وجهي لمونځ جائز دی، خو چي د لمانځه د شروع کولو په وخت کي د لمونځ کوونکي مخ قبلې ته مخامخ وي . لیکن بهتره دا ده چي انتظار وکړي، کېدای ش چي د لمانځه وخت په لاس ورسي په دې شرط چي مخکي د بس یا د موټر چلوونکي سره خبره کړي

وي، او چلوونکی د بس په نه درولو باندي مُصر وي، مګر که چیري د بس یا د موټر چلوونکی بس یا موټر چیري و دروي نو بیا په بس یاموټر کي لمونځ جائز نه دی یعني جواز بیا نه لري .

سوال:......

که چیري د یو سړي څخه واجبات په لمانځه کي پاتي سي او سجده سهو هم ونه کړي نو آیا ددې سړي لمونځ جائز دی او کنه؟

جواب:......

" قال العلامة الحصكفى رحمه الله : (لها واجبات) لا تفسد بتركها و تعاد وجوباً فى العمد والسهو ان لم يسجد له وان لم يعدها يكون فاسقاً اثماً وكذا كل صلوة اديت مع كراهة التحريم يجب اعادها والمختار انه جابر للاول لأن الفرض لا يتكرر.(الدر المختار على هامش رد المحتار .ج: ۱ / ص: ٤٥٦، واجبات الصلوة)

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : فلا تفسد الصلوة بتركها عامداً او ساهياً بل يجب عليه سجود السهو فى السهو جبرا للنقصان الحاصل بتركها سهواً و الاعادة فى العمد والسهو إذا لم يسجد لتكون مؤداة على وجه لا منقص فيه فاذا لم يعدها كانت مؤداة اداء مكروها كراهة تحريم و هذاهو الحكم فى كل واجب تركه."(البحر الرائق .ج: ۲ / ص: ۲۹٥، باب شروط الصلوة و مثله فى مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى .ج: ۱ / ص: ۱۳٤، فى بيان واجبات الصلوة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په لمانځه کي په قصد سره د واجباتو پرېښودل کبیره ګناه ده مګر په سهوي سره د واجباتو په

پاتي کېدو سره که چيري سجده سهو وکړي نو لمونځ يې صحيح کيږي . او که چيري سجده سهو و نه کړي نو بيا د لمانځه بيرته را ګرځول پر واجب دي . که چيري يې را ونه ګرځوي نو بيا د کراهيت تحريمي څخه خالي نه دی نو د دغه کراهيت تحريمي سره جائز دی .

سوال :......

يو سړی په لمانځه کي وار وار اعوذ بالله وايي دپاره د دفع د وسوسو ، آيا د دې سړي لمونځ په اعوذ بالله په وار وار ويلو سره فاسديږي او کنه؟

جواب :......

"لماقال العلامة السيد احمد الطحطاوى رحمه الله : و لو تعوذ لدفع الوسوسة لا تفسد مطلقا ، ولو تعوذ لدفع الوسوسة لا تفسد مطلقا نظر إذا لا فرق بينها و بين الحوقلة ـ"(حاشية الطحطاوى على الدر المختار ـ ج: ۱ / ص: ٤١٦، باب مايفسد الصلوة و يكره بها)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په لمانځه کي په وار وار ويلو سره د اعوذ بالله دپاره د دفع د سوسو لمونځ نه فاسدوي .

سوال :......

په لمانځه کي غاړي تازه کول لمونځ فاسدوي او کنه؟ بيا خاص په ژمي کي ډېر خلک د ټوخي د کبله خپلي غاړي تازه کوي ، آيا د دې خلکو لمونځ صحيح دی او کنه؟

جواب :......

"لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله: التنحنح بحرفين بلا عذر اما به بان نشاء من طبعه فلا او بلا غرض صحيح فلو لتحسين صوته او ليهتدى امامه او

لاعلام انه فی الصلوة فلا فساد علی الصحیح۔ الدر المختار علی هامش رد المختار۔ج: ۱ / ص: ۱٦٨ ، باب مفسدات الصلوة۔

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالی رحمه الله و یفسدها التنحنح بلاعذر لما فیه من الحروف و ان کان لعذر کمنعة البلغم من القرأة لا یفسد۔ قال العلامة السید احمد الطحطاوی رحمه الله : (تحت قوله وان کان لعذر الخ) منه التنحنح لاصلاح الصوت و لحسنه او لیهتدی امامه من خطیئته او للاعلام بانه فی الصلوة علی الصحیح" حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۔ج: ۸ / ص: ۲٦٣ ، باب مفسدات الصلوة ، ومثله فی البحر الرائق ۔ج: ۲ / ص: ٤ ، باب ما یفسد الصلوة و ما یکره)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې په غاړي یا د ستوني د صفا کولو دپاره یا د آواز د ښایستوالي او وضاحت دپاره یا د مجبوري د وجهي غاړي تازه کول، د کراهیت بغیر جائز دي، مګر که چیري د ضرورت بغیر غاړي تازه سي نو بیا مکروه دي .

سوال :......

په لمانځه کي بدن ګرول یا په بدن باندي لاس وهل یا په ږیره باندي لاس تېرول، آیا لمونځ فاسدوي او کنه؟

جواب :......

"لما قال العلامة الحصکفی رحمه الله : و عبثه به (أی بثوبه و بجسده للنهی إلا لحاجة و لا بأس۔

قال ابن عابدین رحمه الله : (قوله إلا لحاجة) کحده بدنه لشيئ اکله و اخره وسلت عرق یؤلمه و یغله قلبه و هذا لو بدون عمل کثیر قال فی الفیض

الحك بيد واحدة في ركن ثلاث مرات يفسد الصلوة ان رفع يده في كل مرة۔(رد المحتار۔ج: ۱ / ص: ٤٧٣، فصل فيما يفسد و ما يكره الصلوة)

لما قال العلامة السيد احمد الطحطاوی رحمه الله: انما يكره العبث في الصلوة إذا لم تدع لحاجة اليه دعت فلا بأس به كسلت العرق عن وجهه او التراب عند الايذاء۔ (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۔ج: ۱ / ص: ۱۹۹ ، باب ما يكره الصلوة)"

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په لمانځه كي په يو ركن كي دننه بغير د شرعي عذر څخه پر له پسې د بدن ګرول لمانځه ته نقصان رسوي، مګر د شرعي عذره د وجهي بيا په لمانځه باندي كوم د شرعي عذر د وجهي بيا په لمانځه باندي كوم آثر نه اچوي، ددې دپاره د خلكو دا خبره صحيح ده، مګر د خارش د مريضانو دپاره عذر دی نو د دوی دپاره د ځان ګرول جائز دي .

سوال:......

په نيم لستوني لرونكي بنيانو كي لمونځ جائز دی او كنه؟

جواب:......

" لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و كره كفه ای رفعه ولو لتراب كمشمر كم او زيل۔(الدر المختار علی هامش رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٦٤٠، باب ما يفسد الصلوة و ما يكره)

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالی رحمه الله : و كره ، و تشمير كمية عنهما للنهی عنه لما فيه من الجفاء المنافی للخشوع ۔

قال العلامة السيد احمد الطحطاوی رحمه الله: (تحت قوله تشمير كميه)

أى عن ذراعيه سواء كان إلى المرفقين او إلا على الظاهر۔
(حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح ۔ج: ۱ / ص: ۲۸۳ ، فصل فى مكروهات الصلوة ، و مثله فى امداد الاحكام ج۲ ، / ص: ٥٥٤ ،باب مفسدات الصلوة الخ)“

سوال :......

کـه یـو څـوک پـه لمانځه کي خفيه ذکر کوي يا د خولې څخه د يا الله ، يا د يا رسول الله ﷺ يا د يا حضور ناره يې د خولې څخه راووځي آيا د دې مورید يا مریض لمونځ فاسد دی او کنه؟

جواب :......

” لما قال العلامة ابراهيم الحلبى رحمه اللّٰه : ذكر فى الملتقط ان المصلّى إذا السعته الحية فقال بسم اللّٰه الرحمن الرحيم تفسد صلوته الخ۔

ذكر فى الذخيرة انه إذا قال المريض يا ربّ او قال بسم اللّٰه لما يلحقه من المشقة اما عندهما أى الطرفين فتفسد۔ (كبيرى / ص: ٤٢٧، فصل فيما يفسد الصلوة)

قال الشيخ المفتى عزيز الرحمن رحمه اللّٰه : فى جواب هذه المسئلة : ظاہر ہمین است کہ نماز فاسد شود لہذا احتیاط دریں امر واجب است۔ “ (فتاوى دار العلوم ديوبند ۔ج: ٤ / ص: ٤٦، فصل فيما يفسد الصلوة)

نـو لـه مـذکـوره عباراتـو څـخـه دا ثـابـتـه سوه چي لمونځ د مخصوصو اذکارو نـوم دی ، نـو لـه دغو ذکرونو څخه بغير په لمانځه کي نور ذکرونه کـول، يـا د رسول الله او غيره ناره کول د لمانځه فاسدونکي دي . د دې دپاره کـوم سـری چي پـه مخصوصو مقاماتو کي د مخصوصو اذکارو څخه بغير نور ذکر يا نارې کوي نو لمونځ يې فاسدوي . نو بايد هر څوک چي وي که

موريد وي او غير موريد وي بايد داسي الفاظ په لمانځه كي و نه وايي چي لـمونځ فاسدوي . نو بايد د هري طريقي موريد په لمانځه كي د يا پيره، يا شيخه، يا حضوره، يا آغاصاحبه او داسي نور الفاظ په لمانځه كي و نه وايي ځكه يو خو لمونځ فاسدوي او بل په لمانځه كي داسي ناري وهل جواز نلري او د لمانځه څخه بغير هم داسي الفاظ يا ناري وهل جواز نلري، او دامقام د خصوصي اذكارو دى او نور اذكار په لمانځه كي جواز نلري، او بـل داسي ناري اذكار هم نه دي، نه په لمانځه كي جواز لري او نه بغير د لمانځه څخه جواز لري بايد بغير د لمانځه نور اذكار مسنونه وكړي سي نه داسي ناري چي هغه جواز نلري .





﴿پنځم فصل﴾

په لمانځه کي قرأت خلف الامام:

سوال:......

د احنافو په نزد په لمانځه کي قرأت خلف الامام جائز دی او کنه؟

جواب:......

"عن أنس رضی الله عنه قال: رسول الله ﷺ ثم اقبل بوجه فقال أتقرؤن و الإمام يقرء أفسكتوا فسألهم ثلاثا فقالوا انا لنفعل قال: فلا تفعلوا قال علی رضی الله عنه من قراء خلف الإمام فليس علی الفطرة ـ عن عبد الله بن دينار عن عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما قال: يكفيك قراءة الإمام فهؤلاء جماعة من أصحاب رسول الله ﷺ قد اجمعوا علی ترك القراءة خلف الإمام ـ (شرح معاني الآثار ـ ج: ۱ / ص: ۱۲۸ إلی / ص: ۱۲۹، و تاريخ أسماء الثقات لابن شاهين / ص: ۳۲۳، والتعليق عليه من / ص: ۳۲۳، ۳۳۳)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د احنافو په نزد باندي په لمانځه کي قرائت خلف الأمام نه دی جائز، او نه به احناف قرائت خلف الامام وايي څکه چي جواز نه لري. (تهذيب الكمال للمزی. ج: ۲۹ / ص: ۴۱۷ و ۴۴۵)

سوال:......

يو طالب د دوهم رکعت قرائت تر اول رکعت اوږد کړی، او کوچنی سورت يې په منځ کي پرېښودی آيا داجواز لري او کنه؟

جواب :......

”و تطال اولی الفجر علی ثانيتها فقط و قال محمد رحمه الله اولی الکل حتی التراويح قيل و عليه الفتوی و اطالة الثانية علی الاولی يکره تنزيها اجماع ان بثلاث آيات ان تقاربت طولاً و قصراً و إلا اعتبر الحروف والکلمات الخ و ان باقل لا يکره الخ و يکره الفصل بسورة قصيرة ۔ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ۔ج: ١ / ص: ٤٠٠ ، فصل فی القراء ة)“

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په قرائت کي دوهم رکعت تر اول رکعت اوږدول مکروه دی ، تر دريو آيتونو څخه زيات ، او کثرت د آيتو معتبره دی او کثرت د حروفو او کلمو نه دی معتبره او چي په منځ کي سورة پرېږدي دا هم مکروه دی .

سوال :......

د سورة او الحمد لله په مابين کي بسم الله الرحمن الرحيم ويل جائز دي او کنه؟

جواب :......

”فلا تسن التسمية بين الفاتحة والسورة و لا کراهة فيها إن فعلها اتفاقا“(مراقی الفلاح شرح نور الايضاح علی صدر حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۔ج: ١ / ص: ٣٨٣)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د سورة او فاتحه په مابين کي بسم الله الرحمن الرحيم ويل نه دی سنت او که بيا چيري وويل سي بيا هم کراهت نسته پکښي اتفاقاً .

سوال :......

که د فرضو لمنځو په اول رکعت کي سورة هُمزه په دوهم کي سورة فيل ،

یا په اول کي سورة هُمزه او په دوهم کي سورة قریش، یا په اول کي سورة قریش په دهم کي سورة فیل یا په اول کي ماعون او په دوهم کي فیل په قصده یا په هېره ووایي نو لمانځه ته خو به څه تاوان نه رسي؟

جواب :.......

"و یکره الفصل بسروة قصیرة و ان یقراء منکوسا الخ و لا یکره فی النفل شیئ من ذلك (در مختار) قوله ثم ذکر یتم افاد أن التنکیس او ا لفصل بالقصیرة إنما یکره إذا کان عند قصد فلو سهوا فلا کما فی (شرح المنیة ، رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ٤٠٤، فصل فی القراء ة)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په اول صورت کي بې له کراهته صحیح دی ،او په دوهم صورت کي مکروه دی ، په دریم صورت کي جائز دی، په څلورم صورت کي مکروه دی، په پنځم صورت کي مکروه دی، په شپږم صورت کي بیا مکروه دی، په کومو کي چي کراهت دی دا په هغه وخت کي چي په قصده وي او په فرضو کي وي، او په نفلو کي هر ډول روا دی .

سوال :.......

د بعضو قول دی چي په سورة فاتحه کي اوه ځایه سکته کول په کار دی که دا سکتې و نه کړي نو د شیطان نوم جوړېږي کوم چي لمونځ فاسدوي، آیا دا قول صحیح دی که غلط ؟

جواب :.......

"کما حققه فی القول الفاصل بین الحق والباطل للامام محمد بن عمرو بن خالد القرشی حیث قال : اعلم أن هؤلاء القائلین عموا فیها زعموا و غفلوا فیما

نقلوا بل ان ما زعموه وسواس صرف وما نقلوه افتراء محض الخ . ... قول الفاصل بين الحق والباطل / ص: ١٢١

نو له مذکوره عبارت نه څخه دا ثابته شوه چې دا قول غلط دی او صحیح نه دی او نه د شیطان نوم ځینې پیدا کیږي . او نه د سکتې پکښې ضروري دي لکه بعضي کسان چې وايي چې د سکتې پکښې ضروري دي، وايي که پکښې ونه شي نو د شیطان نوم ځینې پیدا کیږي نو د دوی دا قول غلط دی .

سوال:

که امام د ماښام په دوهم رکعت کې د "اذا السماء انفطرت و اذا الکواکب انتثرت" څخه پر "یا ایها الانسان ما غرک بربک الکریم" باندې سجده وکړي، نو علماء وایي چې دا سې لمونځ جائز دی؟

جواب:

"ومنها زلة القاري فلو في اعراب او تخفيف مشدد وعكسه ... او بزيادة حرف ... لم تفسد وان غير المعنى به يفتى . الدر المختار على هامش رد المحتار ج: ١ / ص: ٤٦٦ و/ص: ٤٦٧ زلة القاري"

نو له مذکوره عبارت نه څخه دا ثابته شوه چې په دې صورت کې په لمانځه کې څه خلل نه راځي لمونځ صحیح دی . فقط .

❁❁❁

﴿باب الامامة﴾

سوال :......

جماعت واجب دی او که سنت دی؟

جواب :......

"والصلاة بالجماعة سنة فی الأصح مؤكدة ، شبيهة بالواجب فی القوة للرجال ، للمواظبة ولقوله ﷺ: صلاة الجماعة أفضل من صلاة أحدكم وحده بخمسة وعشرين جزءًا"

(أخرجه البخاری فی الجماعة والإمامة ، باب : فضل صلاة الفجر فی الجماعة (٦٢١) ومسلم فی المساجد ، باب: كراهية تأخير الصلاة عن وقتها المختار (١٤٧٠) رواية / درجة أخرجها البخاری فی الجماعة والإمامة ، باب: فضل صلاة الجماعة (٢١٩) ، مراقی الفلاح شرح نور الايضاح على صدر حاشية الطحطاوی ـ ج: ١ / ص: ٣٨٩ وإلى / ص: ٣٩٠)ـ

الجماعة سنة مؤكدة ، أی قريبة من الواجب حتى لو تركها أهل مصر لقوتلوا ، وإذا ترك واحد ضرب وحبس ، ولا يرخص لأحد تركها إلا لعذر منه المطر والطين ، والبرد الشديد ، والظلمة الشديدة ـ (مجموع الأنهر ، ـج: ١ / ص: ١٦١)

الجماعة سنة مؤكدة ، قال عليه الصلاة والصلام : الجماعة من سنن الهدى ـ (ذكره الزيلعی فی نصب الراية ـج: ٢ / ص: ٢٢ ، وقال غريب بهذا اللفظ ، وفی صحيح مسلم برقم ٦٥٤ / من قول ابن مسعود : إن رسول الله ﷺ علمنا سنن الهدى ، وإن من سنن الهدى الصلاة فی المسجد الذی

جواب :......

”عن أبی یوسف رحمه الله أنه إذا لم تکن الجماعة علی الهیئة الاولی لا تکره و لا تکره و هو الصحیح ، و بالعدول عن المحراب تختلف الهیئة ۔

کذا فی البزازیه انتهی ۔ و فی التتارخانیة ، عن الولوالجیة و به نأخذ ، رد المحتار (۔ج: ۱ / ص: ٤۰۹ ، ومنحة الخالق علی هامش البحر الرائق (ج ۱ / ص: ٤۰۹)“

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي که چیري پر هغه اول هیئت یعني پر اوله طریقه باندي نه وي بیا نه دی مکروه ، یعني اذان او اقامت هم نه وي پکښې ، او بل دا چي دا دوهم امام به په محراب کي نه وي ولاړ یعني په محراب کي به نه دریږي ، د محراب څخه به یو طرف ته دریږي ، بیا به خپل جماعت کوي ، نو د پښتو کتابو یا فتاویٰ وو مسئله نه ده صحیح هغه غلطه ده .ددې تفصیل موږ په فتاویٰ هادیه ج۱ کي لیکلی دی زما حقیر نظر هم کراهیت دی دعلماء دپاره داختلاف مجال سته .

سوال :......

په کور کي جماعت سره لمونځ کول هم دغوندي ثواب لري لکه په مسجد کي چي په جماعت سره لمونځ کول ثواب لري او کنه؟

جواب :......

”و فی القنیة : الأصح أن إقامتها فی البیت کإقامتها فی المسجد ، و إن تفاوتت الفضیلة ۔ “ (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۔ج: ۱ / ص: ۳۸۹)

و لا فرق فی ذلك بین ان یکون فی المسجد أو بیته حتی لو صلی فی بیته بزوجته أو جاریته أو ولده فقد أتی بفضلة الجماعة۔ (البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳٤۵)

فلو صلى فى بيته بزوجته أو جاريته أو ولده فقد أتى بفضيلة الجماعة ۔ (بحر ، حاشية الطحطاوى على الدر المختار ۔ج: ١ / ص: ٢٤٠)
وفى الجوهرة : لو صلى فى بيته بزوجته أو ولده فقد أتى بفضيلة الجماعة ۔ (مجموع الأنهر ۔ج: ١ / ص: ١٦١)
نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په كور كي په جماعت سره لمونځ كول هم أفضل دى تر يوازي لمانځه خو د بعضي عباراتو څخه دا هم ثابته سوه چي په أفضليت سره يې را تگ وسو، كه څه هم په افضيلت كي فرق ستـه .

سوال :......
په بدعتي پسې لمونځ كول د احنافو په نزد باندي جائز دى او كنه؟

جواب :......
"و أما المبتدع فكان أبو حنيفة رحمه الله لا يرى الصلاة خلف المبتدع ، قال أبو يوسف رحمه الله : أكره أن يكون القوم صاحب بدعة أو هوى۔
وعن محمد رحمه الله : لا تجوز الصلاة خلف الرافضة و والجهمية والقدرية، لتعليل المختار شرح كتاب الاختيار ۔ج: ١ / ص: ٨١، وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح شرح نور الايضاح ۔ج: ١ / ص: ٤١٠)
نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په مبتدع يعني په بدعتي پسې لمونځ د احنافو په نزد نه دى جائز ، يعني چي په دين كي د ځانه حكمونه لكوي او نوي نوي شيان په دين كي را پيدا كوي، لكه وهابيان او د دوى نور ملكري .

سوال :......

آيا تراويح په جماعت سره كول سنت مؤكد دي او كه سنت كفايه دي؟

جواب :......

"وعلى القول بأنها سنة هى أكد من سنة الفجر ، وهى سنة عين إلا فى التراويح ، فانها فيها سنة كفاية ـ " (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح شرح نور الايضاح ـ ج: ۱ / ص: ۳۸۹ ، لتعليل المختار شرح كتاب الاختيار ـ ج: ۱ / ص: ۸۱)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په تراويح لمانځه كي جماعت سنت كفايه دى او سنت مؤكد نه دى .

سوال :......

د محلې په مسجد كي نه اذان سته او نه جماعت پكښي كي سته آيا بل مسجد ته د جماعت دپاره تللى سي او كنه؟

جواب :......

" بل فى الخانية لو لم يكن لمسجد منزله مؤذن فانه يذهب اليه و يؤذن فيه و يصلى و لو كان وحده لأن له حقا عليه فيؤديه ـ " (رد المحتار ، باب ما يفسد الصلوة الخ مطلب فى أفضل المساجد ـ ج: ۱ / ص: ٤٨٨)ـ

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د خپلي محلې دمسجد حق زيات دى ، نو د خپلي د محلې د مسجد پرېښول نه دي پكار ، په شامي كي د خانيه په حواله راځي چي د خپلي محلې په مسجد كي يوازي لمونځ ته سړى مجبوره سي نو هم دي اذان وكړي او هم دي لمونځ په كښي وكړي ، خپل مسجد دي نه پرېږدي نو دا د مسجد حق دى او بعضي خلګ چي سره خوابدي سي نو بيا خپل مسجد پرېږدي او بل مسجد ته ځي

نو داسي نه دي كول پكار .

سوال :......

آيا ليري سړى به هم قرائت ته غوږ نيسي يعني قرائت به اوري او كه به يې نه اوري يعني دا سي دى لكه نژدې سړى؟

جواب :......

"أي القريب (سواء) في افتراض الإنصات ولما كان العبرة إنما هو لعموم اللفظ وجب الاستماع في الجهر بالقرآن مطلقا كما حرر ناه في الخزائن، معزيا إلى البحر، والنهر والفتح، مجموع الأنهر (ج ۱ / ص: ۱٦۱)"

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي ليري او نژدې بلا فرق دي يعني څه فرق نه لري، پر ليري باندي هم د قرآن اورېدل واجب دى په لمانځه كي لكه پر نژدې سړي باندي چي څنګه واجب دى همداسي پر ليري سړي باندي د قرآن اورېدل واجب دي، او بعضي حافظان دا عادت لري چي په ختم كي قرآن په زوره وايي نو په دغه دى نه پوهيږي چي د قرآن اورېدل واجب دي نو زه يې څنګه په ز وره وايم .

سوال :......

كه ديو كس څخه په خپل مسجد كي جماعت تېر سو آيا پر دباندي د بل جماعت تلل واجب دى او كنه؟

جواب :......

"وإذا فاتته الجماعة لا يجب عليه الطلب في مسجد آخر بلا خلاف بين أصحابنا لكن أن أتى مسجد آخر ليصلي بهم مع الجماعة فحسن و ان صلى في مسجد حيه فحسن، وذكر القدوري أنه يجمع في أهله و يصلي بهم وذكر

شمس الأئمة الاولى فى زماننا إذا لم يدخل مسجد حيه أن يتبع الجماعات و ان دخله صلى فيه و تسقط الجماعة بالاعذار الخ ـ" (فتاوى الهندية ـ ج: ۱ / ص: ۸۳)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې كه چيري د يو كس څخه د خپلې محلې د مسجد جماعت تېر سو نو پر دباندي د بل مسجد جماعت طلب كول نـه دى واجب او كه بيا چيري د بل مسجد جماعت ته ولاړى او هلته يې خپل لمونځ په جماعت سره ادا كړى نو ډېر ښه دى .

سوال :......

د جماعت لمونځ په كومو عذرو سره ساقطيږي؟

جواب :......

"و تسقط الجماعة بالاعذار حتى لا تجب على المريض والمقعد و الزمن و مقطوع اليد والرجل من خلاف و مقطوع الرجل و المفلوج الذى لا يستطيع المشى و الشيخ الكبير العاجز و الاعمى عند أبى حنيفة رحمه الله تعالى ، والصحيح أنها تسقط بالمطر والطين والبرد الشديد والظلمة الشديدة كذا فى التبيين ـ

و تسقط بالريح فى الليلة المظلمة و أما بالنهار فليست الريح عذرا الخ وكذا إذا كان يدافع الاخبثين أو أحدهما أو كان إذا خرج يخاف أن يحبسه غريمة فى الدين أو يريد سفرا و اقيمت الصلاة فيخشى أن تفوته القافلة أو كان فيما لمريض أو يخاف ضياع ماله و كذا اذا حضر العشاء و اقميت صلاته و نفسه تتوق اليه و كذا اذا حضر الطعام فى غير وقت العشاء و نفسه تتوق اليه ـ" (كذا فى السراج الوهاج ، فتاوى الهنديه ـ ج: ۱ / ص: ۸۳)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې د جماعت لمونځ په دغه

اعـذارو سـره سـاقـطيـږي يو چې بار ن وي، او بل چې سختـی وي او بل چې ډيره تـوره شپـه وي او د شپې جماعت چې ساقطوي هغه چې سخت باد وي او د ورځې جماعت نـه ساقـطوي، د ورځې چې چيري سخت باد وي نو جمـاعـت لـمـانځـه تـه په ځي جماعت به نه پريږدي او د جماعت لمونځ به کـوي، او بـل چې يـو کس غتې او کوچنی بولي رفع کړي وي نو جماعت ځيـنـي سـاقـط دی، يـا يې يـو ددې دوی څـخـه دفع کړی وي بيا هم جماعت ځيـنـي سـاقـط دی، او يا پور وړی بېروي که چيري زه و جماعت ته لمانځه تـه ودزم نو پور وړی به مي بندي کړي نو د داسي مسکين څخه د جماعت لـمـونـځ سـاقـط دی، او يـا يې اراده د سفر وي نو هم د جماعت لمونځ ځيني ساقط دی، اويا د ماخستن ډوډی راوړه سوه نو د ده شوق و ډوډی تـه کيږي نو بيا هم جماعت ځيني ساقط دی .

سوال:......

يو څو کسان دي دوی وايي وای موږ د يو تجار سره کار کوو، خو کله چې د لـمانځه وخت را داخل سي نو موږ دا کوشش کوو چې د جماعت لمانځه ته ولاړ سو، خـو لکين زموږ تجار موږ و لمانځه ته د جماعت نه پريږدي، او موږ تـر وهـلـو تـر وخـت پـوري هـم و جماعت لمانځه ته تيار يو آيااوس پر موږ باندي د جماعت لمونځ ضروري دی او کنه؟

جواب:......

"لما قال: الحصكفي: ولا على حال من بينه و بينها مطروطين، و ظلمه۔ قال: ابن عـابديـن رحـمـه الله: تحت هذا القول ولا على ظلمة، يخاف على نفسه اوماله۔

(رد المحتار على الدر المختار۔ج: ۱ / ص: ۵۵۵ وإلى / ص: ۵۵٦، باب الإمامة)

وفی الهندية: تسقط الجماعة بالاعذار، او کان اذاأخرج يخاف أن يحبسه غريمه فی الدين، او يخاف ضياع ماله۔ "(الفتاوی الهندية ۔ج: ۱ / ص: ۸۳، باب الإمامة ومثله فی البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳٦۷، باب الإمامة۔

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په کوم ځای کي چي د مال د ضائع کېدو او د هلاکېدو بېره وي او يا د مالک د خوا د ځان خطره وي نو د ظلم د وجهي تاسو د جمعي لمونځ پرېښودلی سئ، ليکن بيا هم چيري چي تاسو ته موقع په لاس درغله نو خامخا به يا په انفرادي ډول په جماعت سره خپل لمونځ کوئ.

سوال:......

زموږ د مسجد امام د سهار لمونځ کوي نو کله چي د رکوع څخه راپورته سو نو سمع الله لمن حمده يې وويله، نو بيايې ربنا لک الحمد يې هم وويلو نو اوس خو به په لمانځه کي کوم خلل نه راځي يعني و لمانځه ته خو به کوم تاوان نه وي پېښ سوی؟

جواب:

"لما قال الحصكفی رحمه الله: ثم يرفع رأسه من ركوعه مسمعاً لو ابدلو النون لاماً تفسد وهل يقف بجزمٍ او تحريكٍ قولان، ويكتفی به الإمام، وقالا: يضمّ التحميد سراً۔ (الدر المختار علی صدر رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٤۹۷، باب صفة الصلوة)

وفی الهندية: فان كان اماماً يقول سمع الله لمن حمده، بالاجماع، وان كان مقتديا يأتی بالتحميد لا يأتی بالتسميع بلا خلاف، وإن كان منفردا الاصح انه يأتی بهما كذا فی المحيط وعليه الاعتماد، كذا فی التتارخانية،

[illegible]

سوال:

[illegible]

جواب:

[illegible]

شک او پـه تـردد سره نـه پـريـږدي، البتـه كه چيري د چا دا يقين وي چي د نه موجود والي په وجه به مي كور ته كوم ظالم تاوان ورسوي، او د كور پرده او عـزت بـه مـي خـراب كـړي، يـا د مريض مريضي به زياته سي نو په دغو صورتونو كي بيا د جماعت لمونځ پرېښول جائز دی ۔

سوال :......

يـو سـړی ځـان نـه ډېر بزرګ هـم وايي او خانقا هم لري ذكرونه هم كوي او نـفـلـونه هم ډېر كوي او خلګ بيعت هم ورسره كوي او خلګو ته تعويذونه هـم وركوي او دمونه هم پر خلګو باندي كوي او د دې بزرګ د كور و څنګ تـه مسـجـد جـمـاعـت دی، او دا بزرګ ديوه جماعت لمانځه ته هم نه راوځي او لـمـونـځ پـه خپـل كور كي كوي آيا دې بزرګ سړي ته دا جائز دي چي دی پـه خپـل كور كي فرضي لمونځ يوازي كوي په جماعت سره خپل فرضي لمونځ نه كوي او كنه؟

جواب :......

”قال العلامة الحصكفى رحمـه الله : قال فى البحر هو الراجح عن أهل المذهب ، فتسن او تجب ثمرته تظهر فى الاثم بتركها مرة ، على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلوة بالجماعة من غير حرج۔

قال ابن عابدين رحمه الله : تحت قوله فى البحر قال فى النهر هو اعدل الاقوال و اقواها و لذا قال فى الاجناس لا تقبل شهادته إذا تركها استخفافاً و مجانة۔ (رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٥٥٤ ، باب الإمامة)

قال ابن نجيم رحمه الله : و ذكر فى غاية البيان معزياً إلى الاجناس ان تارك الجماعة يستوجب الاسائة و لا تقبل شهادته إذا تركها استخفافاً بذلك و

مجانة ، اما إذا ترکها سهواًاو ترکها بتاویل بان یکون الإمام من أهل الاهواء او مخالفا لمذهب المقتدی لا یراعی مذهبه فلا یستوجب الاسائة و تقبل شهادته"۔ (البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ٤٤٥ ، باب الإمامة ، و مثله فی الهندیة ۔ج: ۱ / ص: ۸۳، باب الإمامة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي که چیري یو څوک بغیر له کوم شرعي عذره د جماعت لمونځ ترک کوي یعني پرېږدي او په جماعت بانديږد لمانځه اداکول ښه و نه بولي نوداسي سړی فاسق ګڼل کیږي او بزرګ نه ورته ویل کیږي، ځکه د فسق له وجهي له داسي سړي څخه د بیعت اجتناب کول په کار دی چي بیعت ورسره و نه سي، ځکه چي په دې سړي سره د بیعت د منصب سپکاوی راځي، ځکه دی د بیعت احترام نه لري او نه دا ورته جائز دی چي دی خپل لمونځ په جماعت سره نه کوي او خپلېږي په کور کي کوي نو دا جواز نه ورته لري .

سوال:......

تکبیر اولی تر کومه وخته نیول کیږي چي سړی راسي په امام پسي ودریږي او تکبیر اولی ونیسي، او د تکبیر اولی ثواب ونیسی؟

جواب:......

"قال ابن عابدین رحمه الله : تظهر فائدة الخلاف فی وقت ادراك فضیلة تکبیرة الافتتاح فعنده بالمقارنة وعندهما اذاکبر فی وقت الثناء و قیل بالشروع قبل قراء ة ثلاث آیات لوکان المقتدی حاضراً و قبل سبع لو غائباً وقیل بادراك الرکعة و هذا اوسع و هو الصحیح و قیل بادراك الفاتحة و هو المختار۔(رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٥٢٦ ، باب صفة الصلوة ، مطلب فی وقت ادراك فضیلة

الافتتاح)

فضيلة تكبيرة الافتتاح فتكلموا فى وقت ادراكها والصحيح ان من ادرك الركعة الاولى فقد أدرك فضيلة تكبيزة الافتتاح كذا فى الحصر فى باب أبى يوسف رحمه الله ـ "(الفتاوى الهندية ـ ج: ۱ / ص: ٦٩، الباب الرابع فى صفة الصلوة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د تكبير اولیٰ څو صورتونه دي، (۱) له امام سره يو ځاى په نيت تړلو سره د اقتدا كلو په صورت كي د ټولو په نزد د تكبير اولى ثواب وركول كيږي . (۲) تر ثناء وروسته يا تر سورت فاتحه وروسته او له ركوع مخكي د اقتداء كولو په صورت كي نو دا صورتونه اختلافي دي اوسع او صحيح قول دا دى چي دا ول ركعت په نيولو سره د تكبير اولى ثواب وركول كيږي .

سوال:......

ځيني امامان ډېر چابک لمونځ كوي، خو ليكن داسي كسان هم پسي اقتداء كړي وي چي هغه بياډېر سو كه لمونځ كوي نو اوس مسئله دا ده چي يو سړي په امام پسي اقتدا وكړه او امام خپل التحيات پوره كړه سلام گرځوي خو لكين مقتدي لا خپل التحيات نه ده پوره كړى اوس به مقتدي سلام ورسره گرځوي او كه خپل التحيات به پوره وايي بيا به سلام گرځوي، څه به كوي؟

جواب:......

"لما قال العلامة فخر الدين الشهير بقاضى خان رحمه الله : وكذا لو سلم الإمام قبل أن يفرغ المقدى من التشهد فانه يتم التشهد ـ " (الفتاوى القاضى

خلف غني هنفش "تهذيبة ج: ١ ص: ٦٠؛ فصل لبنين بصح الاقتداء و
فيمن لا يصح.

نو نه مذکوره عبارتو څخه ثابته شوه چې که چیرې هم د مقتدي د
تشهد نه پوره کولو څخه وروسته سلام وګرځوي نو مقتدي ته هم سلام
ورسره وګرځوي، ځکه چې د امام متابعت ضروري دی: او که چیرې
مقتدي لا تشهد نه وو پوره کړی نو بیا به تشهد پوره کړي بیا دې سلام
وګرځوي.

سوال:

زموږ د شیخ مفتي عبد الرزاق صاحب د مدرسې د څنګ ته یو مکتب دی
نو زموږ د ستاذ شیخ صاحب د مت برکته په مدرسه کې مسجد جمعه
هم ده نو د دې مکتب شاګردان ډیر دي، نو د دې مکتب استاذ ویلي چې
زموږ د مکتب شاګردان بعضې په مسجد جمع کې لمونځونه په
جماعت سره کوي، او بعضې بیا د ذان تر مخه خپل لمونځونه کوي نو په
دغه شاګردان چې د ذان تر مخه لمونځونه کوي په د دوی لمونځونه
صحیح کیږي او که نه؟

جواب:

"كما في الحديث عن أبي ذر رضي الله عنه: جعلت لي الارض طهوراً و
مسجداً. رواه أبو داؤد (ج: ١ / ص: ٧٥)

عن أبي سعيد رضي الله قال قال رسول الله ﷺ الارض كلها مسجد إلا
المقبرة والحمام". (رواه أبو داؤد، والترمذي، والدارمي، مشكوة ج:
ص: ٧٠، باب المسجد)

أخرج الإمام أبو عيسى الترمذى عن أبى سعيد الخدرى رضى الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الارض كلها مسجدا إلا المقبرة والحمام، رواه الترمذى، ـج: ١ / ص: ٤٣، ومثله فى أبى داؤد ـج: ١ / ص: ٧٠، باب فى المواضع التى لا تجوز فيها الصلوة۔

قوله : ومن الشروط الوقت للفرائض الخ، الاصل فى اشتراطه قوله تعالى: ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَاباً مَّوْقُوتاً﴾(النساء : ١٠٣)فرضا موقوتا أى : محدودا بأوقات لا يجوز تقديمها و لاتأخيرها عنها عند القدرة على فعلها فيها، بحسب الاستطاعة وحديث إمامة جبرائيل عليه السلام۔(أخرجه الديلمى فى مسند الفردوس ـج: ٢ / ص: ٢٤٠، رقم ٢، وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح ـج: ١ / ص: ٢٩٨)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د ماپښين اذان زمونږ په ښارو كي پر مستحب وخت باندي كيږي او بل د ماپښين وخت د زوال څخه شروع كيږي . نو كوم شاګردان چي د اذان د مخه لمنځونه كوي كه وخت داخل وي نو د دوى لمنځونه صحيح دي او كه وخت داخل نه وي نو بيا د دوى لمنځونه نه دي صحيح، او اذان د اعلام دپاره كيږي .

سوال :......

كه سړى لږ ګوډ وي نو د جماعت لمانځه ته را تلل يې ضروري دي او كنه؟

جواب : ......"قال ابن عابدين رحمة : الاعرج الذى لا يستطيع المش۔ " (رد المحتار ـج: ١ / ص: ٥٥٤، باب الإمامة)

و تسقط الجماعة بالاعذار، والمفلوج الذى لا يستطيع المشى۔ (الفتاوى الهندية ـج: ١ / ص: ٨٣، الفصل الاول فى الجماعة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې که هغه کس لړ ګوډ وي او د جماعت مسجد ته تلل يې اسانه وي، تلل يې و جماعت ته بهتر او ښه دي او که بيا چيري ډېر ګوډ وي او وجماعت ته يې تلل سخت وي بيا دي خپل کور ته لمونځ وکړي .

سوال:......

د جماعت د لمانځه وخت داخل وي، خو زموږ د مسجد امام د کلي و مشر ته انتظار کوي آيا دا جائز دی او کنه ؟

جواب:......

"قال العلامة الحصکفی رحمه الله :رئيس المحلة لا ينتظر مالم يکن شريرا ، و الوقت متسع۔(الدر المختار علی صدر رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۴۰۰ ، باب الآذان)۔

ينتظر المؤذن الناس و يقيم للضعيف المستعجل ، لا ينتظر رئيس المحلة و کبيرها "(کذا فی معراج الدراية ، فتاوای الهندية ۔ج: ۱ / ص: ۵۷ ، باب الآذان ، ومثله ، فی حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح شرح نور الايضاح جلد ۱ / ص: ۱۰۷ ، باب الآذان)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې که چيري داسي سړی وي او هغه ډېر کمزوری وي او همېشه د جماعت و لمانځه ته حاضريږي نو هغه ته دي دمسجد امام انتظار وکړي، او د کلي و مشر ته دي انتظار نه کوي، که بيا چيري داسي مشر وي چې ډېر شرير او بد سړی وي او د امام بې عزتي کوي بيا دي و دې شرير او بد مشر ته امام انتظار وکړي او امام به د وخت لحاظ هم کوي بيا څه پروا نه لري .

سوال :......

آيا حنفي مذهب سړی په شیعه پسې اقتداء کولای سي او کنه؟

جواب :......

"قال ابن عابدین رحمه الله : فی کتب الفتاویٰ نعم لا شك فی تکفیر من قذف السیّدة عائشة رضی ا لله عنها او انکر صحبۃ الصدیق رضی الله عنه او اعتقد الالوهیة فی علی رضی الله عنه ، اوان جبریل علیه السلام غلط فی الوحی او نحو ذلك من الکفر الصریح المخالف للقرآن و لکن لو تاب تقبل توبة هذا خلاصة ما حررناه فی کتابنا الولاة والحکام۔ (رد المحتار ۔ج: ۳ / ص: ۲۹٤ ، کتاب الجهاد)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله : و مبتدع أی صاحب بدعة و هی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع و کل من کان قبلتنا الخ ۔(الدر المختار علی صدر رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۵٦۰ ، باب الإمامة)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله : تحت هذا القول ، و اما المبتدع ، و عرفها الشمنی بانها ما احدث علی خلاف الحق المتلقی عن رسول الله ﷺ من علم او عمل او حال بنوع شبهة و استحسان و جعل دیناً قویمًا و صراطاً مستقیماً۔ (البحر الرائیق ۔ج: ۱ / ص: ۳٤۹، باب الإمامة)

و لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه الله : الرافضی ان کان یسُبُّ الشیخین رضی الله عنهم ، و یلعنهما فهو کافر ، و ان کان یفضل علیًا علی أبی بکر و عمر رضی الله عنهم لا یکون کافرا لکنه مبتدعٌ" (خلاصة الفتاوی ۔ج: ٤ / ص: ۳۸۱ ، کتاب الفاظ الکفر)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي زموږ د ملك اکثره شیعه

کـان هـغـه عقائد لري کوم چي د پخوا د شيعه ګانو دي چي د حضرت علي کرم الله وجهه د الوهيت، و شيخينو ته رد اوبد ويل، د قرآن تحريف کول، او پر عـائشه رضی الله عنها پسي تهمت لګول او نور عقائد پکښې شامل دی، نو داسي عـقيـده درلـودونکي پسي اقتداء د نه مسلمان والي په وجهي په هيڅ صورت کـي نـه ده جائز، او کوم شيعه ګان چي پاخه شيعه ګان نه وي په هغوی پسي د مبتدع والي په خاطر اقتداء کول د لمانځه مکروه تحريمي ده .

سوال :......

آيا پـه مبتـدع پسـي اقتـداء پـه لمانځه کي د احنافو په نزد باندي جائز ده او کنه؟

جواب :......

"قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و يكره مبتدع أى صاحب بدعة و هي اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة و كل من كان من قبلتنا ـ (الدر المختار على صدر رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٥٦٠، باب الإمامة)

قـال علامة ابن نجيم رحمـه الله : تحت هذا القول و المبتدع ، و عرفها الشمنى بانها ما احدث على خلاف الحق المتلقى عن رسول الله ﷺ، من علم و عمل او حال بنوع شبهة و استحسان و جعل ديناً قويماً و صراطاً مستقيماً ـ" (البحر الرائق ـ ج: ١ / ص: ٣٤٩)

نـو لـه مذكـوره عبـاراتـو څـخـه دا ثـابـتـه سوه چي كه چيري امام د داسي امـورو مـرتـكـب وي چي پـه شـريعت كي يې كوم ثبوت نه وي او دی يې د ديـن امـور ګنـي او كـوي يـې او نـور خـلكـو تـه يې هم ترغيب وركوي نو په

داسي مبتدع امام پسي لمونځ كول مكروه تحريمي دی .

سوال :......

په خنثى مشكل امام پسي په جماعت سره لمنځونه كول جائز دي او كنه؟

جواب :......

"قال العلامة حصكفى رحمه الله : و لا يصح اقتداء رجل بامرأة و خنثى و صبى مطلقا ـ (الدر المختار على صدر رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٥٧٦، باب الإمامة)

و فى الهندية : و امامة الخنثى المشكل للنساء جائزة ان تقدمهن و ان قام و سطن فسدت صلوتهن لوجود المحاذات ان كان الإمام رجلاً ـ "(كذا فى المحيط السرخسى و للرجال والخنثى مثله لا يجوز ، الفتاوى الهندية ـ ج: ١ / ص: ٨٥ ، باب الإمامة ، و مثهل خلاصة الفتاوى ـ ج: ١ / ص: ١٤٧ ، باب الإمامة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي كه چيري يو څوک د عمل ، فضل او كمال له لحاظه هر څومره لوړ او اعلى وي ليكن چي د جنس له لحاظه خنثى مشكل وي نو په هغه پسي اقتداء كول جائز نه ده ، او نه چا ته جواز لري چي اقتداء پسي وكړي .

سوال :......

د حنفي مذهبه سړي اقتداء د لمانځه د نورو مذاهبو په امامانو پسي صحيح ده او كنه؟ لكه د امام شافعیؒ د مذهب په امام پسي وغيره .

جواب :......

"و فى الهندية : و الاقتداء بشافعى المذهب إنما يصح إذا كان الإمام يتحامىٰ مواضع الخلاف بأن يتوضاء من الخارج النجس من غير السبيلين كالفصد و ان لا ينحرف عن القبلة انحرافاً فاحشاً ـ (هكذا فى النهاية ، والكفاية فى باب الوتر

، الفتاوى الهنديه ـ ج: ۱ / ص: ۸٤ ، باب الإمامة)

وقال ابن عابدين رحمه الله : اما الاقتداء بان المخالف فى الفروع كالشافعى فيجوز ما لم يعلم منه ما يفسد الصلوة على اعتقاد المقتدى عليه الاجماع إنما الاختلاف فى الكراهة " (رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ٥٦٣ ، باب الإمامة ، ومثله فى فتاوى غياثية / ص: ۳۱ ، باب الإمامة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي كه چيري غير حنفي مسلكه امام د اختلافي مسائلو په رعايتولو كي مشهور وي يا د مقتدي د هغه په اړه د اختلافي مسائلو د رعايتولو په باره كي غالب گمان وي لكه دويني په بهيدلو او د قي په كولو سره اودس كاوه نو بيا يې اقتداء پسي جائز ده او كه نه وي بيا نه ده جائز؟

سوال :......

يو امام چي د يو جماعت مسجد باقاعده امام دى له وفات څخه وروسته پخپل ځاى باندي د امامت د منصب لپاره له خپلو وارثاو څخه يو څوک تاكلى سي د امامت دپاره او كنه؟ او په داسي صورت كي چي كه چيري هغه د كوم ځانګړي سړي په باره كي وصيت كړى وي نو د وصيت لحاظ به يې تر كومه ځايه كيږي؟ او بل پرته له وصيت څخه هم كه چيري يو څوک په دې كي د ارث دعوى وكړي نو آيا دعوه به يې صحيح وي او كنه؟

جواب :......

"قال العلامة الحصكفى رحمه الله : و الاحق بالإمامة تقديماً بل نصباً مجموع الأنهر ، الاعلم باحكام الصلوة ، فقط صحة و فسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة و حفظه قدر فرض و قيل واجب و قيل سنة ثم الاحسن تلاوة للقراءة

ثم الاورع ثم الاسن ثم الاحسن خلقاً ثم الاحسن وجهاً ثم الاشرف نسباً ـ
(الدر المختار علی صدر رد المحتار ، ـ ج: ۱ / ص: ۵۵۷، کتاب الإمامة)

و فی الهندية : اولی بالإمامة أعلمهم باحکام الصلوة هکذا فی المضمرات و هو الظاهر هکذا فی البحر الرائق ، هذا إذا علم من القراءة قدر ما تقوم به سنة القراءة هکذا فی التبیین و لم یطعن فی دینه کذا فی الکفایة و هکذا فی النهاية ، و یجتنب الفواحش الظاهرة و ان کان غیره اورع منه کذا فی المحیط و هکذا فی الزاهدی و ان کان متبحراً فی علم الصلوة لکن لم یکن له حظ فی غیره من العلوم فهو اولی کذا فی الخلاصة ، الفتاوی الهندية (ج ۱ / ص: ۸۳) باب الإمامة ، الفصل الثانی، و فی البحر الرائق (ج ۱ / ص: ۳۶۷)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې د امامت منصب کوم جائیداد او مال نه دی چې په هغه کي وراثت جاري سي یا مورث د وصیت رعایت پکښي وسي . د امامت د منصب د امام په اهلیت ذاتي رویه او له علم اوعمل پرته د کلیوالو په رضامندي پوري اړه لري او د امام له مړیني وروسته چي کلي وال چا ته هم امامت وسپاري هغه به د کلي امام ګڼل کیږي .

سوال :......

زموږ د مسجد امام خراب فلمونه ګوري او خرابو ځایو ته هم ځي او نور هم د خرابو کارو څخه پرهیز نه کوي او بد عمله هم دی آیا په داسي امام پسي اقتداء کول څنګه ده جواز لري او کنه؟

جواب :......

" قال ابن عابدین رحمه الله : تحت هذا القول ویکره امامة عبد و اعرابی و

فاسق، أی من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر و الزاني و آكل الربا و نحو ذلك۔ (رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٥٦٠، باب الإمامة)

و في الهندية: تجوز امامة الاعرابي و الاعمٰى والعبد و ولد الزنا والفاسق ـ (كذا في الخلاصة إلا انها تكره هكذا في المتون، الفتاوى الهندية ـ ج: ١ / ص: ٨٥، باب الإمامة، ومثله في البحر الرائق ـ ج: ١ / ص: ٣٤٨، باب الإمامة)"

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي كه بدنامي له امامت څخه مخكي وي او وروسته يې پرې توبه ايستې وي نو اقتداء پسي جائز ده ځكه چي له گناه څخه تر توبه كولو وروسته يې حيثيت زخمي نه پاتي كيږي ليكن كه چيري يې بدنامي د داسي فعل له وجهي وي چي اوس هم پكښي مبتلا وي نو د فسق له وجهي په داسي امام پسي اقتداء كول مكروه تحريمي ده، او اكثر امامان په داسي كارو باندي اخته دي لكه دا غټ تليفونونه نو په دغه كي بيا دوی نيټ او واتسپونه هم پكښي كوري نو په دې كي هر رنگه ناروا تصويرونه او فلمونه ورته راځي او دی هم ورته گوري . نو هر امام د خپل ځان دپاره دليل هم لري او هغه دليل هم درته وايي كله وايي زه خو كتابونه پكښي گورم كله بيا وايي زما كارونه ډېر دي دا نو په دغه كوچني تليفون باندي نه كيږي، په دې كي ډېر مصرف راباندي راځي نو دوندي مصرف د چاپه وسه كيږي، نو مخلوق ته خو به دا دليل ووايي نو الله جل جلاله ته به كوم دليل وايي هغه هم دليل غواړي .

سوال: ......

یو امام د مسجد منتخب امام دی خو د لمانځه پر وخت باندي لنګوټه نه تړي آيا په داسي امام پسي اقتداء كول څنګه ده ؟ او زموږ د افغانستان خلک په لنګوټه کي ډېر سخت هم دي او کوم امام چي لنګوټه نه وي تړلې نو د دوی داسي ګمان وي چي دا لمونځ فاسد دی .

جواب :......

" قال صدر الشهيد رحمه الله : فسنن ا لهدى و ان كانت على سبيل العادة فسنن الزوائد كلبس الثياب و الاكل باليمين و تقديم الرجل اليسرى فى الدخول و نحو ذلك كلامنا فى الاول إلى آخره۔ (شرح الوقاية ۔ج: ۱ / ص: ٦٩ ، كتاب الطهارة)

و قال طاهر بن عبد الرشيد رحمه الله : و فى اصل لا بأس بان يصلى الرجل فى ثوب واحد متوشّحاً و يؤم كذلك و المستحب ان يصلى الرجل فى ثلاثة اثواب قميص و ازار و عمامة اما لو صلى فى ثوب واحد متوشحاً به جميع بدنه كازار الميت يجوز صلوته من غير كراهة ۔ (خلاصة الفتاوى ۔ج: ۱ / ص: ۷۳ ، الفصل السادس فى ستر العورة)

قال ابن نجيم رحمه الله : والمستحب ان يصلى فى ثلاثة اثواب قميص و ازار و عمامة۔ (البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۲٦۹ ، باب شروط الصلوة)

و فى الهندية : والمستحب ان يصلى الرجل فى ثلاثة اثواب قميص و ازار و عمامة اما لو صلى فى ثوب واحدٍ متوشحاً به تجوز صلوته من غير كراهةٍ ۔" (الفتاوى الهندية ۔ج: ۱ / ص: ۵۹ ، الباب الثالث فى شروط الصلوة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په دې کي شک نسته چي د لنګوټې په سر کول د جناب محمد ﷺ له سنتونو څخه يو سنت دی

لیـکـن دا سنت د عادتي سنتونو له جملې څخه دی . یعني د لنګوټې هغه عـمـده او ښـه جامه ده رسول الله ﷺ استعمال کړې ده او خوښه کړې ده . لکه څرنګه چي د اوږدو او سپینو جامو اغوستل له لمانځه سره خاص نه دي همدا رنـګـه د لـنـګوټې پر سر کول هم د لمانځه سره خاص نه دي، ځکه د رسول الله ﷺ لباس اغـوسـتـل ډېر د عـزت لباس ګڼل کیږي ، د دې لپاره د الله تعالی و دربار ته د تللو په وخت کي د عزت لباس اغوستل ډېر ښه او بهتر دی .

بـنـاء پـر دې فـقـهـاء کـرام له لنکوټې سره هم د لمانځه د ادا کولو ترغیب ورکوي او کـه بیـا چیـري چـا ته د لنګوټې میسر نه سي نو بې له لنګوټې سره هم د لـمـانـځـه په کولو کي څه حرج نسته او کوم کسان چي دا ګمان کـوي چـي بې لـه لـنـګـوټـې لمونځ فاسد دی، دا د بې علمي خبره ده دې ته اعتبار نسته .

سوال:......

دیـو مسـجـد امام یو ځوان په قتل رسولی دی خو دا امام پر دې قتـل باندي وه الله تـعـالی ته ډېر ژړېدلی دی او توبه یې پر کښلې ده او د مقتول وارثانو دی معاف کړی، آیا په داسي امام پسي اقتداء کول جائز ده او که نه؟

جواب :......

" قـال ابـن عـابدين رحـمـه الله : و فـاسـق ، مـن الفسق و هو الخـروج عن الاستقامة و لـعـل الـمـراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر والزانی و آكل الربوٰ و نحو ذلك۔ (رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۵٦۰ ، باب الإمامة)

و قال ابن عابدين رحمه الله : في مقام أخر تحت هذا القول لا تصح توبة القـاتـل حتی يسلـم نـفسه للقود و هبانية أی لا تكفيه التوبة وحدها ، قال في

تبیین المحارم و اعلم ان توبة القاتل لا تکون بالاستغفار و الندامة فقط بل یتوقف علی رضاء اولیاء المقتول۔ (رد المحتار ۔ ج: ٦ / ص: ٥٤٨، کتاب الجنایات)

و فی الهندیة: تجوز امامة الاعرابی و الاعمیٰ و العبد وولد الزنا والفاسق کذا فی الخلاصة إلا أنها تکره هکذا فی المتون، الفتاوی الهندیة (ج١ / ص: ٨٥) باب الإمامة۔

قال العلامة الشیخ محمد کامل الطرابلسیؒ: لا تصح توبة القاتل حتی یسلم نفسه للقود۔ "(الفتاوی الکاملیة / ص: ٢٥٢، کتاب الجنایات)

نو له مذکوره عباراتو ځخه دا ثابته سوه چي کوم مسلمان په ناحقه قتل کول ګناه کبیره ده داسي ګناه یوازي په توبه سره نه معاف کیږي بلکه د مقتول د وارثانو خوشحاله کول هم ضروري دي نو په دې صورت کي د ژبني توبې ایستلو تر ځنک ددې سړي فسق او فجور باقي پاتي دی چي د فسق له وجهي اقتداء وریسي مکروه تحریمي ده لهذا داسي امام سړی مستقل امام مه جوړوئ.

سوال:......

دیو مسجد خلک په نابالغه هلک پسي جماعت لمونځ کوي او بعضي خلک ورته وایي چي په دې هلک پسي فرضي لمونځ په جماعت سره نه صحیح کیږي او بعضي سرزوري کوي وایي یا پسي صحیح کیږي، نو آیا په نابالغه هلک پسي فرضي لمونځ په جماعت سره جائز دی او کنه؟

جواب:......

"و فی الهندیة: امامة الصبی المراهق لصبیان مثله یجوز کذا فی الخلاصة و

علی قول أئمة بلخ يصح الاقتداء بالصبيان فی التراويح و السنن المطلقة كذا فی فتاوی قاضيخان ، المختار أنه لا يجوز فی الصلوة كلها كذا فی الهداية ، و هو الاصح هكذا فی المحيط ، و هو قول العامة و هو ظاهر الرواية ، هكذا فی البحر الرائق (ج۱ / ص: ۸۵) باب الإمامة ، الفصل الثالث فی بيان من يصح اماماً لغيره۔

قال العلامة الحصكفی رحمه الله : لا يصح اقتداء رجل بأمرأة ، و خنثی ، و صبیّ مطلقا ، و لو فی جنازة و نفل علی الاصح۔" (الدر المختار علی صدر رد المحتار۔ج: ۲ / ص: ۵۷٦ ، باب الإمامة و مثله فی البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳۵۹ ، باب الإمامة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي نابالغه هلك پسي مطلقا اقتداء كه په فرضو كي وي يا په نفلو كي، او كه په سنتو كي وي، اقتداء كول پسي مكروه تحريمي ده حتی كه د جنازې په لمانځه كي وي هم به په نابالغه هلك پسي اقتداء نه كوي .

سوال:......

د يو مسجد خلك امام د خپل مسجد دپاره نه دروي، دوی وايي زموږ د محلې په خلكو كي موليان ډېر دي هر يو چي راسي درمخه كيږي نو زموږ لمونځ په جماعت سره كول كيږي نو موږ امام ته ضرورت نه لرو نو په دې كي به كوم امام در مخه كيږي؟

جواب:......

" قال العلامة الحصكفی رحمه الله : و الاحق بالإمامة الاعلم باحكام الصلوة ثم الاحسن تلاوة للقرآن ثم الاورع أی الاكثر اتقاء للشبهات.والتقوی اتقاء

المحرمات ثم الاسن خلقاً ثم الاحسن وجهاً ثم الاشرف نسباً ثم الانظف ثوبا۔
(الدر المختار علی صدر رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۵۵۷ ، باب الإمامة)

وفی الهندیة : اولی بالإمامة اعلمهم باحکام الصلوة هکذا فی المضمرات ، وهو الظاهر هکذا فی التبیین هذا إذا علم من القراءة قدر ما تقوم به سنة القرأة هکذا فی البحر الرائق ، هذا إذا علم من القراءة ، الفتاوی الهندیة (ج ۱ / ص: ۸۳) ، باب الإمامة ، الفصل الثانی فی بیان من هو احق بالإمامة ۔"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په دې محله کي چي هر یو د لمانځه په احکامو باندي ښه پوهه وي او ښه متقي او پرهیزکاره وي او ښه ښایسته مخ یې وي او واده والا وي نو داسي شخص دي درمخه کیږي او حق داره په امامت سره هم داغسي شخص دی چي درمخه سي او خلکو ته لمونځ په جماعت سره ورکړي .

سوال :......

په معذور امام پسي اقتداء کول څنګه ده ، آیا په شریعت کي جواز لري او کنه؟ او دلته یو بل امام هم سته چي هغه بیا ږیره لنډوي آیا د ږیري لنډوونکی امام درمخه کېدلای سي او کنه؟

جواب : .....

"قال ابن نجیم رحمه الله : وفی المجتبیٰ وهذه الکراهة تنزیهة لقوله فی الاصل امامة غیرهم احبّ الیّ وهکذا فی معراج الدرایة وفی الفتاوی لو صلی خلف فاسق اومبتدع ینال فضل الجماعة لکن لا ینال کما ینال خلف تقی ورع لقوله ﷺ من صلی خلف عالم تقی فکأنما صلی خلف نبی ، وفیه : و فی السراج الوهاج : فانقلت فماالا فضلیة ان یصلی خلف هؤلاء او الانفراد

قیل اما فی حق الفاسق فالصلوة خلفه اولی لما ذکر فی الفتاوی۔(البحر الرائق ج۱ / ص: ۳٤۹، باب الإمامة)

قال الحصکفی رحمه الله : و لا طاهر بمعذور ، هذا ان قارن الوضوء الحدیث او طرأ علیه بعده۔ (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۱ / ص: ۵۷۸ ، باب الإمامة)

قال ابن نجیم رحمه الله : تحت هذاا لقول و طاهر بمعذور أی وفسد اقتداء طاهر بصاحب العذر المفوت للطهارة لان الصحیح اقوی حالاً من المعذور والشیئ لا یتضمن ما هو فوقه و الإمام ضامن بمعنی تضمن صلاته صلاة المقتدی ۔ " (البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳٦۰ ، باب الإمامة و مثله فی الفتاوی الهندیة ۔ج: ۱ / ص: ۸٤ ، الفصل الثالث فی بیان من یصلح اماماً لغیره)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي یو امام د اوداسه د نه ساتني له وجهي شرعي معذور دی او په حاضرینو کي داسي څوک نسته چي درمخه سي خلکو ته جماعت ورکړي نو د ضرورت له مخي د فاسق او فاجر اقتداء جائزه ده ، د دې لپاره د ډیري کونډې کونکی د لمانځه دپاره مخکي کولی سي، خلک دي خپل لمونځ پسي وکړي ، هغه د جماعت فضیلت خو به ونیسي .

سوال :......

یو ملا صاحب زما سره کښېني او دی سازونه هم اوري او دی وایي چي زه په دې سازو سره خپل لطیفې راژوندې کوم ، آیا په داسي امام پسي اقتداء کول په لمانځه کي څنګه ده جائز ده او کنه؟

جواب :......

"لماقال العلامة ابن نجيم رحمه الله : تحت قوله و من يلعب بالطنبور او يغني للناس لأنه يجمع الناس على ارتكاب كبيرة كذا في الهداية / و ظاهره ان الغناء كبيرة ، و في المعراج : الملا هي نوعي محرم و هو الآلات المطربة من غير الغناء كالمزمار سواء كان من عود او قصب كالشبابة او غيره كالعود و الطنبور ـ لما روى أبو امامة رضي الله عنه انه عليه السلام قال ان الله تعالى بعثني رحمة للعالمين و امرني بمحق المعازف و المزامير و لأنه مطرب مصد عن ذكر الله تعالى ، النوع الثاني مباح و هو الدف في النكاح ـ (البحر الرائق ـ ج: ۷ / ص: ۸۸، باب ما تقبل شهادته و من تقبل الشهادة)

قال العلامة التورپشتي رحمه الله : انه حرام على قول اكثرالمشائخ و ما ورع من ضرب الدف في العرس كناية على الاعلان ـ" (امداد الفتاوی ـ ج: ۲ / ص: ۲۸۳ ، كتاب النكاح ، و مثله في الفتاوى الهندية ـ ج: ۳ / ص: ۴۵۳)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي په واده كي له مشروط تغني څخه د سندرو پر اورېدو باندي استدلال نيول له شرعي قواعدو څخه د ناخبري دليل دی . په نني دور كي د بې حيايي او بې ديني له واقعاتو څخه ډک سازونه كه په واده كي هم وي بيا هم ناروا دي، د موجوده زماني مروجې سندري له دې وجهي چي د ډېرو مفاسدو مقدمې دي اورېدل يې ناجائز دي په داسي صورت كي د امام سندري اورېدل او بيا يې د جواز دپاره مواد پيداكول له فسقيه امورو څخه دی، نو په داسي امام پسي په لمانځه كي اقتداء كول مكروه تحريمي ده .

سوال :......

د مسـجد د تاکلي امام له اجازې څخه پرته د لمانځه د ورکولو دپاره بل امام در مخه کول څه حکم لري ؟ آيا جواز لري او کنه؟

جواب :......

" قال ابـن عـابـديـن رحـمـه الله : تحت هـذا القول صاحب البيت و مثله الـمسـجـد الـراتـب ، اولـى بـالإمامة مـن غيره ، مـطـلقا أى و ان كان غيره من الـحـاضـريـن مـن هـو اعـلـم و اقرأ منه ـ(رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۵۵۹ ، باب الإمامة)

قال ابـن نـجيـم رحـمه الله : و امام الإمام الراتب فهو احق من غيره و ان كان غيره افقه منه ـ"(البحر الرائق ـ ج: ۱ / ص: ۳۴۷ ، باب الإمامة ، و مثله فى الفتاوى الهندية ـ ج: ۱ / ص: ۸۳ ، باب الإمامة)

نـو لـه مـذكـوره عبارا تو څخه دا ثابتـه سوه چې د مسجد د تاکلي إمام له اجازې څـخـه بـغـيـر لـمـونځ ورکـول مـکروه دی ، په داسي صورت کي په تـاکـلـي امام پسي اقـتداء بهتره ده ، اګر که هغه مفضول وي او که بيا چيري د کـوم جـومـات تـاکـلـي امـام حـاضـر نه وي او نه يې کوم نائب وي نو بيا د تـاکـلـي امام د اجازې بغير هم څوک د جمعې لمونځ ورکولای سي بيا پروا نه لري جائز دی .

سوال :......

زمـوږ د مسـجـد امـام تـصـوّر نـه اخـلـي او کلـه بيا نور خلک هم د ځان سر ه ودروي بيـايې دی ددې خلکو په مابين کي ولاړ وي عکسو نه اخلي ، او بيا يې پـر نـورو خـلـکـو بـاندي تقسيموي ، او هغه خلک يې د خپلو ځانو سره ايـږدي ، او مـولـوي صـاحـب يې دخپـل ځـان سـره ايـږدي ، نو ددې مولوي

صاحب پـه نزد باندي داعمل جائز دی، آياداسي امام د مسجد جماعت دپاره مـکـررول يا پـرېښـول جـائـز دی او کـنـه، او که داسي امام د مسجد جماعت څخه معزولول په کار دي بايد څه ورسره وسي؟

جواب :......

"عن عبد الله بن مسعود رضی الله تعالى عنهما قال:سمعت رسول الله ﷺ يقول : أشد الناس عذاباً عند الله المصوّرون ـ (مشكوة / ص: ٣٨٥ ـ ج: ١، باب التصاوير الفصل الاول)

قال ابن عابدين رحمه الله : (قوله و فاسق) من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر و الزاني و آكل الربا و نحو ذلك كذا في البرجندی۔ (رد المحتار ـ ج: ١ / ص: ٥٦٠، باب الإمامة)

و فی الهندية : تجوز امامة الاعرابی و الاعمی و العبد و ولد الزنا والفاسق كذا في الخلاصة إلا انما تكره هكذا في المتون ـ (الفتاوى الهندية ـ ج: ١ / ص: ٨٥، باب الإمامة، و مثله في فتاوى الخلاصة ـ ج: ١ / ص: ١٤٥، الفصل الخامس عشر في الإمامة والاقتداء)"

نـو لـه مـذکـوره عبـاراتـو څخه دا ثابـتـه سوه چي د ضرورت څخه بغير د کوم روح لرونکي عکس که په کېمرې سره وي او يا په قلم سره جوړول د شريعت په نزد باندي ناجائز دی، او که بيا چيري د ضرورت ځايونه وي نو بيـا لـه دې څـخـه مستثـنـی دي نـو بـغير د ضرورته دعسکونو اخيستـل د فسـقـي امـورو څـخـه دی ، نـو پـه ځانګړې توګه چي کله يو امام په ښکاره تـوګـه د داسـي فسـقي امورو ارتکاب کوي په دغه ګناهونو باندي د اصرار تـر څـنګ يې که چيري په معزولو لو باندي د فتنې او فساد انديښنه نه وي

نـو بیـا یې د مجبوري له وجهې کولی سي چې پرې یې بږدي ،لیکن بهتره به داوي چې په کوم نېک امام پسې اقتداء وکړي .

رسول الله ﷺ یوازې د قبلې خواته دلاړې د تو کلو له وجهې یو سړی له امامت څخه منع کړی، نو امام که چیري توبه وباسي او داکار ګناه وبولي او اصرار پرې ونه کړي نو بیا یې په اقتداء کې کوم نقص نسته، نو که چیري داسي امام بیا داسي فعل د فسق کوي نو دا مام دي معزول کړي او بل متقي او پرهیزګاره امام دي مقرر کړي .

سوال :......

دامام دپاره په محراب کې درېدل ښنګه دي ؟ زموږ امام د لمانځه پر وخت خاص په محراب کې دننه دریږي آیا دا جائز دي او کنه؟

جواب :......

" قال ابـن عابدین رحمه الله : یفهم من قوله اوإلی ساریة کراهة قیام الإمام فی غیر المحراب و یؤیده قوله قبله السنة ان یقوم فی المحراب و کذا قوله فی موضع آخر السنة ان یقوم الإمام ازاء وسط الصف الا تری ان المحاریب ما نصبت الاوسط المساجد و هی قد عینت لمقام الامام۔ و الظاهر ان هذا فی الإمام الراتب لجماعة کثیرة لئلا یلزم عدم قیامه فی الوسط فلو لم یلزم ذلك لا یکره تأمل۔(رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۵۶۸ ، فی مطلب فی کراهیة الإمام فی غیرالمحراب)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله : (یصف) أی یصفهم الإمام بان یأمرهم بذلك قال الشمنی و ینبغی ان یأمرهم بان یتراصوا و یسدوا الخلل و یسووا مناکبهم یقف وسطاً وخیر صفوف الرجال اولها۔ (الدر المختار علی صدر رد

المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۵٦۸ ، باب الإمامة)

و فـی الهـنـدية : ينبغـي للامـام ان يـقف بـازاء الوسط فان وقف فی ميمنة الـوسط اوفـی ميسرتـه فـقـد اساء لمخالفة السنة هكذا فی التبيين ـ" (الفتاوی الهـنـدية ـ ج: ۱ / ص: ۸۹ ، باب الإمامة ، و مثله فی الطحطاوی ـ ج: ۱ / ص: ۱٦۷ ، باب الإمامة)

نـو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه چې د امام دپاره په محراب كي دريدل كـوم مستـقـل سـنـت نـه دی چي له هغه پرته امامت ضائع سي ، په حـقـيـقـت كي د امـام دپـاره دا سـنـت دی چي د صف مـخي تـه پـه منځ كي ودريـږي ، نـو د مـحـراب څـخـه پـه عـمـومي توګه د صف منځنی حصه پـه ګـوتـه كـيـږي ددې دپـاره مـحـراب د دې سنت د ادا كولو پـه لاره كي د معاو ن تـوب لـه وجـهـي پـه جـوماتو كي محرابونه جوړيږي . همدا وجه ده چي پـه مـحـراب كـي طـاق جـوړول ضـروري نه دی ليكن كه چيري امام د محراب څـخـه بـغـيـر د صف مـخـي تـه پـه منځ كي ودريږي نو په هغه پسي اقتداء هيـڅ پروا نه لري ، په داسي صورت كي محراب پريښول امام ملامتول پـه شريعت كي د زياتوالي سره برابر دی .

سوال :......

پـه امـامـت بـانـدي د اجـرت اخيستـونكي امام پسي اقتداء كول په شريعت كـي څـنـګـه ده آيا جـواز لـري او كـنـه؟ او كـه امـام غني وي هم آيا و ده تـه پر امامت باندي اجرت جواز لري او كنه؟

جواب :......

"قال ابن عـابـديـن رحـمه الله : و يعنی اليوم بصحتها لتعليم القرآن و الفقه و

الإمامة و الأذان و يجبر الاجر على دفع ما قيل ۔(رد المحتار ۔ج: ٥ / ص: ٣٤ ، باب اجارة الفاسدة)

قال صاحب الهداية : و بعض مشائخنا استحسنو الاستيجار على تعليم القرآن اليوم لأنه ظهر التواني في الأمور الدينية ففي الامتناع يضيع حفظ القرآن و عليه الفتوى ۔" (الهداية ۔ج: ٣ / ص: ٣٠١ ، باب اجارة الفاسدة ، و مثاله في فتاوى الهندية ۔ج: ٤ ، / ص: ٤٤٨ ، الفصل الرابع في فساد الاجارة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي متاخرينو فقهاؤ په امامت باندي أجرت اخيستل جائز کړی دی ، لهذا مالداره او فقير دواړه د امامت په منصب باندي اجرت اخيستلی سي ، د اجرت د جواز په صورت کي د اجرت نه اخيستونکي امام ته کومه ترجيح حاصله نه ده ، لهذا په دواړو پسي اقتداء يو حکم لري ، څه فرق نه لري .

سوال :......

يو سړی دی او بله ښځه ده دوی دواړه د يو ملا صاحب سره په سفر روان دي پر يو دښت باندي ، اوس وخت د لمانځه راغلی نو امام به و دوی دوو ته څنګه په جماعت سره لمونځ ورکوي؟

جواب :......

"ولو كان معه رجل و امرأة فانه يقيم الرجل عن يمينه والمرأة خلفهما ۔" (مجموع الأنهر ۔ج: ١ / ص: ١٦٥)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي امام دي سړی پر خپل راسته طرف باندي ودروي او ښځه دي ترشا ودروي او خپل جماعت دي وکړي .

سوال :......

په ړانده امام پسي اقتداء کول په لمانځه کي جواز لري او کنه؟

جواب :......

" وقال ابن نجيم رحمه الله : وقيد كراهة امامة الاعمى ، فی المحيط وغيره بان لا يكـون أفضل القوم فان كان أفضلهم فهو اولیٰ۔ (البحر الرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳٤٨، باب الإمامة)۔

و قال ابن عابدين رحمه الله : قال فيه كراهة الاعمیٰ فی المحيط و غيره ، بان لا يكون أفضل القوم فان كان أفضلهم فهو اولیٰ ۔" (رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٥٦٠ ، باب الإمامة ، ومثلـه فـی الفتاوی الهندية ۔ج: ۱ / ص: ٨٥ ، باب الإمامة ، الفصل الثالث فی بيان من يصح اماماً لغيره)

نـو لـه مذكوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه چي كه چيري ړوند سړی امام وي او د نـجاسـت څـخـه ځـان نسـي ساتلی نو بيا اقتداء پسي كول مكروه تحريمي ده، مگر هر ړوند سړی غير محتاج بلل د عقلمندي خبره نه ده نو كوم ړونـد امـام چـي د نجاست څخه ځان ساتي او اهتمام يې كولی سي نو بيا په هغه پسي د لمانځه په ادا كولو كي هيڅ كراهيت نستـه .

ځـكه چي رسول الله ﷺ حضرت ابن ام مكتوم رضی الله عنه د مدينې منـورې امـام جـوړ كـړی وو بـلـكه كه چيري كوم ړوند سړی له نورو څخه ښـه عـالـم او ښـه قاري وي بيا يې امامت له نورو څخه افضل او بهتره دی، چي دا ړوند سړی لمونځ په جماعت سره وخلكو ته وركړي .

ځكه زموږ د فقهي مسئله هم داسي ده لكه څنگه چي ذكر سوه . او ښه عالم او قاري حقداره دی په امامت سره چي خلكو ته لمونځ په جماعت سره وركړي، او دا مسئله د هر ړانده په باب كي نه ده .

سوال :......

کوم امام چي په ژبه کي بنديږي، او الفاظ غلط وايي آيا په داسي امام پسي اقتداء کول جواز لري او کنه؟

جواب :......

"و فی الهندية : و لا يجوز امامة الالثغ الذى لا يقدر على التكلم ببعض الحروف إلا لمثله إذا لم يكن فی القوم من يقدر على التكلم بتلك الحروف فاما إذا كان في القوم من يقدر على التكلم بها فسدت صلوته و صلوة القوم۔ (الفتاوى الهندية ۔ج: ۱ / ص: ۸٦ ، باب الإمامة ، الفصل الثالث فی بيان من يصح اماماً لغيره)

امامة الالثغ لغير ذكر الإمام الفضلى انه يجوز لان ما يقول صار لغة له و قال غير صحيح۔ (خلاصة الفتاوى ۔ج: ۱ /ص: ۱٤۸ ، باب الإمامة، الفصل الخامس عشر و مثله فی الدر المختار على صدر رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٤۳۰

(و قوله) و لا غير الالثغ به : هو بالثاء المثلثة بعد اللام أو الياء زاد فی القاموس أو من حرف إلی حرف (قوله على الأصح) أی خلافا لما فی الخلاصة عن الفضلی من أنها جائزة لأن ما يقوله صار لغة له و مثله فی التتارخانية و فی الظهيرية و امامة الالثغ لغيره تجوز و قيل لا ،و نحوه الخانية عن الفضلی و ظاهره اعتمادهم الصحة و كذا اعتمدها صاحب الحلية قال لما أطلقه غير واحد من المشايخ من أنه ينبغی له ان لا يؤم غيره و لما فی خزانة الاكمل و تكره امامة الفأفاء اهـ ، و لكن الاحوط عدم الصحة كما مشى عليه المصنف و نظمه فی منظومته تحفة الاقران و أفتی به الخير الرملی ، و قال : فی فتاواه الراجح المفتی به عدم صحته امامة الالثغ لغيره ممن ليس به لثغة و أجاب عنه

بابيات منها قوله،

امـــامة الالثـــغ لـــلــمــغـــايـــر
تـــجـــوز عـــنــد البـــعـض مــن أكـــابـــر
و قـــد أبـــــاه أكثـــر الأصـــحـــاب
لـــمــــا لـــغيـــره مـــن الـــصــواب

☆☆☆

و قال ايضاً:

امامة الالثغ لفصيح
فاسدة فى الراجح الصحيح

☆☆☆

(رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۴۳۰ ، باب الإمامة ، مطلب فى الالثغ / ص: ۴۳۰)

نـو لـه مـذكـوره عبـاراتـو څـخـه دا ثـابتـه سوه چي كوم سړی په ژبه كي بـنـديـزي او لـه كـوشـش سره سره الفاظ صحيح نه سي ادا كولی، نو د هغه لـمونځ په خپل حق كي صحيح دی . ليكن د نورو خلكو دپاره چي په ژبه كـي بنديزي امام نسي جوړېدلی . كه چيري امام سره له دې چي په ژبه كي يې لـكنت وي الفاظ صحيح ادا كولی سي اكر كه لږ بندبنديږي وايي نو په هغه پسي اقتداء صحيح ده .

سوال:......

ديو قاري په موجود والي كي په غير قاري امام پسي د اقتداء كول جائز دي او كنه؟

جواب :......

”و فی الهندیة : امامة الامی قوماً اُمّیین جائزة کذا فی السراجیة إذا ام امی امیا وقارئًا فصلوة الجمیع فاسدة عند أبی حنیفة رحمه اللّه و قال لا صلوة القاری وحده و اما إذا صلّوا وحدناً فقیل انه علی الخلاف و قیل یصح و هو الصحیح فی شرح مجمع البحرین للمنصف ـ (الفتاوی الهندیة ـ ج: ۱ / ص: ۸۵ ، باب الإمامة، الفصل الثالث فی بیان من یصح امام لغیره ـ)

قـال علامة الحصکفی رحمـه اللّه : و لا یصح اقتداء القاری بالأمّی “ (خلاصة الفتاوی ـ ج: ۱ / ص: ۱۴٦ ، الفصل الخامس عشر فی الإمامة ، و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۵۷۹ ، باب الإمامة)

نو لـه مذکوره عباراتو څخه دا ثابتـه سوه چې په عرف کې د قاري اطلاق په مجوّد یعني چې تجوید یې ویلی وي پر هغه باندي کیږي لیکن د فقهاوو په اصطلا ح کې دا مراد نه دی ځني که چیري د قرائت له فن څخه خبر قاري پـه یـوه داسـي سـړي پسـي اقتـداء وکړي کوم چې په عام قرائت باندي قادر وي لیـکن د قرائت له فن څخه کما حقه خبر تیا و نه لري نو له دې څخه د قاري په لمانځه باندي هیڅ اثر نه پرېوزي او په داسي حالت کي که چیري له مروج قاري پرته کوم غیر قاري امام وي نو مجود قاري د امام سـه اجازې څخه لمونځ نه سي ورکولی ، او که چیري کوم امام د دومره آیتو چې لمونځ پرې روا کیږي په قرائت باندي قادر نه وي نو د قاري په موجود والي کي په داسي امام پسي اقتداء جائز نه ده چې اقتداء پسي وسي .

سوال :......

پـه یـو مسـجد جـماعت کي ډېر امامان دي آیا د یو امام مقرر ول ثابت دي او

کنه؟

جواب :......

”قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و اعلم ان صاحب البيت و مثله إمام المسجد الراتب ، والى بالإمامة من غيره مطلقا ۔ (الدر المختار على صدر رد المحتار ۔ج: ١ / ص: ٥٥٩ ، باب الإمامة)

و قال ابن نجيم رحمه الله : اما الإمام الراتب فهو احق من غيره وان كان غيره افقه منه ۔ (البحر الرائق ۔ج: ١ / ص: ٣٤٧ ، باب الإمامة ، و مثله في الفتاوى الهندية ۔ج: ١ / ص: ٨٣ ، باب الإمامة)“

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي بهتره دا ده چي په يوه جومات كي يو امام وي او په هغه امام باندي د ټولو كليوالو اتفاق وي او په همدې امام پسي اقتداء وكړي، د امت تواتر راغلى دى، او تر څو پوري چي تاكل سوى امام موجود وي نو د هغه له اجازې څخه بغير بل څوک د امامت د كولو حق نه لري .

سوال :......

دحنفي مذهبه سړي لمونځ د بل مذهب په امام پسي صحيح كيږي او كنه؟ (چي د خپل مذهب څخه اوښتي وو د حنفي)

جواب :......

”لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله : ارتحل إلى مذهب الشافعي رحمه الله يعزر قال ابن عابدين رحمه الله : أي اذا كان ارتحاله لا لغرض محمود شرعاً اما انتقال غيره من غيردليل بل لما يرغب من عرض الدُّنيا و شهوتها فهو المذموم الاثم المستوجب للتأديب والتعزير لارتكابه المنكر في الدين و

استخفافه بدينه و مذهبه آه ملخصا ۔ و فيها عن الفتاوى النسفية الثياب على مذهب أبي حنيفة خير و اولىٰ و هذه الكلمة اقرب إلى الالفة ۔(رد المحتار ۔ج: ۲ / ص: ۲۰۹، باب التعزير)

حنفي ارتحل إلى مذهب الشافعي رحمه الله : يعزر كذا في جواهر الاخلاطي قال الصحيح قوله ارتحل إلى مذهب الشافعي رحمه الله يعزر أى إذا كان ارتحاله لا لغرض محمود شرعاً كما افاده في التتارخانية" (الفتاوى الهندية ۔ج: ۲ / ص: ۱٦۹ ، فصل في التعزير)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د خپل مذهب د سپک او کمزوري په کښلو سره پرته له کوم دليل يې پرېښول د شريعت له مخه جائز نه دی بلکه فقهاء کرامو په داسي سړي باندي د تعزير حکم کړی دی، نو په داسي ځای کي خپل حنفي مسلک د حرص او طمعي په خاطر پرېښول او په بل مذهب باندي لمونځ ورکول يو بد عمل دی نو په داسي امام پسي په جماعت سره لمونځ کول مکروه دی ځکه چي دی د مذهب پابندي نه لري .

سوال :......

په اوداسه کي د شک په حالت کي د لمانځه د ورکولو حکم څه دی آيا جائز دی او که نه؟

جواب :......

" عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ إذا وجد احدكم في بطنه شيئاً فاشكل عليه أخرج منه نسي ام لا فلا يخرجن المسجد حتى يسمع صوتا او يجد ريحاً ۔ (رواه مسلم ، مشكوة ۔ج: ۱ / ص: ٤٥ ، باب ما

يوجب الوضوء)"

عن عباد بن تميم عن عمه انه شكى ان رسول الله ﷺ الرجل الذى يخيل اليه انه يجد في الصلوة فقال لا ينفتل او لا لا ينصرف حتى يسمع صوتاً او يجد ريحاً ۔(رواه البخارى ۔ج: ۱ / ص: ۲۵ ، كتاب الوضوء، باب لا يتوضوء من شك حتى ومثله في المسلم ۔ج: ۱ / ص: ۱۵۸ ، باب طهارة جلود الميتة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي معذور سړی د امامت لائق نه دی هغه ته په كار دی چي له امامت څخه ځان وساتي، ليكن يوازي د شک په بنياد سره د امامت پرېښول هم مناسب نه دي، البته چي كله يې يقين وسي او قرائن هم موجود وي چي او دس مي مات سوی دی نو بيا په داسي صورت كي امامت جائز نه دی . البته د شک او تردد په صورت كي د امامت په كولو كي كومه مضائقه نسته، يعني امامت يې جائز دی . او كه بيا چيري د ده دا يقين وي چي زما اودس مات دی بيا دي خپل اودس نوی كړي او دخلكو امامت دي نه كوي .

سوال :......

په مورزاده كوسه امام پسي اقتداء كول څنګه ده يعني هغه امام چي ږيره نه لري، كرسره وي نه، نو په داسي امام پسي اقتداء كول په شريعت كي جواز لري او كنه؟

جواب :......

"قال ابن عابدين رحمه الله : (قوله وكذا تكره خلف امرد) الظاهر انها تنزيهية ايضا والظاهر ايضاً كما قال الرحمتى ان المراد به الصبيح الوجهه لأنه

محل الفتنة و هل يقال هٰنا ايضا إذا كاناعلم القوم تنتفى الكراهة فان كانت علة الكراهة خشية الشهوة و هو الاظهر فلا و ان كانت غلبة الجهد او نفرة الناس من الصلوة خلفه فنعم تامل ۔ والظاهر إذا العذر الصبيح المشتهى كالامرد تأمل ۔ هذا و فى حاشية المدنى عن الفتاوى العفيفة ۔ سئل العلامة الشيخ عبد الرحمن ابن عيسى المرشدى عن شخص بلغ من السنآ عشرين سنة و تجاوزحد الانبات و لم ينبت عذاره فهل يخرج بذلك عن حد الامردية و خصوصاً قد نبت له شعرات فى ذقنه تؤذن بانه كمس من مستديرى اللحى فهل حكمه فى الإمامة كالرجال الكاملين ام لا اجاب سئل العلامة الشيخ احمد بن يونس المعروف بابن الشبلى من متأخرى علماء الحنفية عن هذه المسئلة فاجاب بالجواز من غير كراهة و ناهيك به قدوة ۔ والله اعلم ۔ (رد المحتار ۔ ج: ۱ / ص: ۵۶۲ ، باب الإمامة)۔

قال فى الخلاصة وفى شرح القدورى يجوز امامة الامرد و إذا كان بالغاً و يكره إذا كان صبيح الوجهه " (خلاصة الفتاوى ۔ ج: ۱ / ص: ۱۴۸ ، الفصل الخامس عشر فى الإمامة الاقتداء)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابتېږي سوه چي که چيري د بلوغ د مودې د تېرېدو ترڅنګ هم د چا ږيره را نه سي نو اقتداء ورپسي جائز ده ، البته که چيري صبيح الوجه، ښايسته مخی وي نو بيا اقتداء ورپسي مکروه ده .

سوال :......

امام چي سړی د خپل مسجد يا د جامع مسجد دپاره مقرر وي بايد کوم صفات ولري نو چي خلک هغه امام د خپل مسجد دپاره مقرره کړي؟

جواب :......

"قال ابن عابدين رحمه الله : و شروط الإمامة للرجال الاصحاء ستة اشياء ، الاسلام ، والبلوغ ، والعقل ، الذكورة ، والقراءة ، والسلامة من الاعذار كالرعاف ، والفأفأة ، والتمتمة ، واللثغ ـ (رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۵۵۰ ، باب الإمامة)

قال الشرنبلالی رحمه الله : شروط صحة الإمامة للرجال الاصحاء ستة اشياء الاسلام و هو شرط عام فلا تصح امامة منكر البعث او خلافة الصديق رضى الله عنه او صحبته او سبّ الشيخين او ينكر الشفاعة إلى آخره "(مراقی الفلاح على هامش حاشية الطحطاوی شرح نور الايضاح ـ ج: ۱ / ص: ۳۹۱ ، باب الإمامة ، و حاشية الطحطاوی على مراقی الفلاح ـ ج: ۱ / ص: ۳۹۱، باب الإمامة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي امام د علم او دتقوی په صفتونو باندي ښوندي ښايسته وي نو دا به د هغه امام خصوصيت ګڼل کيږي ، البته په عمومي توګه د امام لپاره په لاندي صفاتو متصف کېدل ضروري دي : (۱) اسلام (۲) بلوغ (۳) عقل (۴) نارينتوب (۵) علم او قرائت (٦) له عذرونو څخه پاک کېدل به وي يعني معذوره به نه وي .

سوال :......

امـام ته د مسجد مشر تنخواه ورکوي او دامشر يې په سود پيدا کوي آيا په داسي امام پسي اقتداء کول څنګه ده چي دی د سود له روپو څخه تنخواه اخلي؟

جواب :......

"قال ابن عابدين رحمه الله : تحت هذا القول يكره امامة عبد و اعرابی و فاسق و اعمى ، قوله فاسق ، أی من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة و لعل

المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر و الزاني والفاسق و اكل الرباء و نحو ذلك۔ (رد المحتار ـ ج: ۱ / ص: ۵٦۰، باب الإمامة)

و في الهندية : تجوز امامة الاعرابي والاعمى و العبد وولد الزنا والفاسق كذا في الخلاصة إلا انها تكره هكذا في المتون۔ " (الفتاوى الهندية ـ ج: ۱ / ص: ۸۵ ، الفصل الثالث ، باب الإمامة و مثله في خلاصة الفتاوى ـ ج: ۱ / ص: ۱٤۵ ، الفصل الخامس عشر في الإمامة)

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د جومات په امامت كي خپل ذات كي كوم خبره نسته، البته د داسي جومات په اجرت سره كول چي اجرت يې د سود له كاروباره څخه وركول كيږي چي دا حرام خوري له وجهي فسق دى او د فسق له وجهي په داسي امام پسي اقتداء كول مكروه ده بايد په داسي امام پسي اقتداء و نه كول سي .

سوال :......

زموږ د مسجد امام سرې جامې اغوندي بعض خلك ورته وايي چي په سرو جامو كي لمونځ مكروه دى او بعضي خلك بيا ورته وايي چي لمونځ نه دى پكښي رواء آيا په سرو جامو كي لمونځ حقيقتاً نه دى روا او كه څنګه؟

جواب :......

"عن براء قال ما رأيت عن ذى لمة في حلة حمراء احسن من رسول الله ﷺ له شعر يضرب منكبيه بعدى ما بين المنكبين لم يكن بالقصير و لا بالطول ـ (رواه ترمذى ـ ج: ۱ / ص: ۳۰۲ ، ابواب اللباس ، باب ما جاء في الرخصة في الثوب الاحمر)۔

قال شمس الائمة السرخسی رحمه الله : و فیه دلیل انه لا بأس بلبس الثوب الاحمر۔(شرح سیر الکبیر۔ج: ۱ / ص: ۱۱۵، باب السلام والعروسیة)۔

قال العلامة الحصکفی رحمه الله : و لا بأس بسائر الالوان، و فی المجتبی والقهستانی و شرح النقایة لابی المکارم، لابأس بلبس الثوب الاحمر و مفاده ان الکراهیة تنزیهیة لکن صرح فی التحفة بالحرمة فافاد انها تحریمیة و هی المحل عن الاطلاق۔" (رد المحتار۔ج: ٦ / ص: ۳۵۸، کتاب الکراهیة، فصل فی اللبس، و مثله فی الفتاوی الهندیة۔ج: ۵ / ص: ۳۳۲)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د سرو جامو په اغوستلو کي د علماؤ اختلاف دی ځیني یې د جواز قائل دي او ځیني یې د نه جواز قائل دي، او په احنافو کي هم دا اختلاف پیدا کیږي لیکن راجح قول دا دی چي د سرو جامو اغوستل مکروه تنزیهي دي لهذا په دې بنیاد باندي لمونځ به هم مکروه تنزیهي وي، ددې لپاره په داسي سړي پسي اقتداء جائز ده، هو ! که چیري د سرو جامو له اغوستلو څخه له کومه بې دینه ډلي سره د تړون ښکارول مقصود وي نو د الله تعالی په دربار کي دداسي امتیازي حیثیت درلودونکي سړي پسي له اقتداء څخه باید پرهیز وسي او لمونځ پسي ونه سي ۔

سوال:......

که چیري د مسجد خلکو ته معلومات نه وي او دوی دخپل مسجد دپاره امام مقرر کړی وي او په دې امام پسي لمنځونه کوي او بیا ډېره زمانه تېره سوه بیا معلومات ورته وسو چي دا امام خو کافر دی نو اوس به هغه ادا سوي لمنځونه راګرځوي او کنه؟

جواب :......

”و فی الهندیة : رجل ام قوماً شهراً ثم قال کنت مجوسیاً فانه یجبر علی الاسلام و لا یقبل قوله و صلوتهم جائزة و یضرب ضرباً شدیدا و کذا لو قال صلّیت بکم المدة علی غیر وضوء و هو ما جن لا یقبل قوله و ان لم یکن کذلك و احتمل انه قال علی وجه التورع و الاحتیاط اعادوا صلوتهم و کذا إذا قال کان فی ثوبی قذر کذا فی الخلاصة و کذا إذا بان ان الإمام کافر او مجنون او امرأة او خنثیٰ إلی اخره۔(الفتاوی الهندیة ۔ج: ۱ / ص: ۵۷)

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه : (و إذا ظهر حدث امامه) و کذا کل مفسد فی رأی مقتد (بطلت فیلزم اعادتها) لتضمنها صلوة المؤتم صحة و فساداً) کما یلزم الإمام اخبار القوم إذا امهم و هو محدث او جنب ، او فاقد شرط او رکن و هل اعادتها ان عد لا نعم و إلا ندبت وقیل لا لفسقة باعترافه و لو زعم انه کافر لم یقبل منه لأن الصلوٰة دلیل الاسلام و اجبر علیه بالقدر الممکن بلسانه او بکتاب او رسول علی الاصح ۔“ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ۴۳۷ ، باب الإمامة ، و مثله فی الخلاصة الفتاوی ۔ج: ۱ / ص: ۱۴۵ ، الفصل الخامس عشر)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي که چیري په کوم سړي پسي د اقتداء د کولو په وخت کي د هغه د عقائدو په باره کي صحیح معلومات نه وي او وروسته د هغه د کفر په باره کي مو یقین وسي نو د اداء سوو لمنځو په باره کي احتیاط دا دی چي بیرته یې را و ګرځوي .

سوال :......

د علم د خاوند په موجودوالي کي د څو سپارو په حافظ پسي اقتداء کول

بهتره ده او که په عالم پسې؟

جواب: ......" قال ابن عابدين رحمه الله : و شروط الإمامة للرجال الاصحاء ستة اشياء الاسلام والبلوغ والعقل والذكورة والقراءة و السلامة من الاعذار كالرعاف والفأفاة والتمتمة واللثغ۔(رد المختار ۔ج: ۱ / ص: ۵۵۰ ، باب الإمامة)

قال الشرنبلالی رحمه الله : شروط صحة الإمامة للرجال الاصحاء ستة اشياء الاسلام و هو شرط عام فلا تصح امامة منكر البعث او خلافة الصديق رضى الله عنه او صحبة او يسبّ الشيخين او ينكر الشفاعة او نحو ذلك من يظهر الاسلام مع ظهور صفة المكفرة له ، والبلوغ ، لأن صلوة الصبى نفل و نفله لا يلزم ، والعقل لعدم صحة صلوته بعدمه كالسكران ، والذكورة ، خرج به المرأة للامر بتأخيرهن والخنثى امرأة فلا يقتدى به غيرها ، والقراءة بحفظ آية تصح اقتداء غيره به " (مراقى الفلاح على صدر حاشية الطحطاوى ۔ج: ۱ / ص: ۳۹۱ ، باب الإمامة)

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چې د امامت دپاره د مستقلو دیني علومو څخه فراغت ضروري نه دی چې کله یو څوک په قرائت باندي قدرت لري او د لمانځه او د لمانځه د مسائلو څخه خبر وي نو د کوم عالم په موجود والي کي هم د هغه په اقتداء کي کوم حرج نسته البته بهتره دا ده چې عالم امامت ورکړي په دې شرط چې حافظ د جومات مستقل امام نه وي، ځکه زموږ د فقه شریفي په کتابو کي دا مسئله ډېره ذکر سوې ده، چې اول په ښه عالم پسي اقتداء کوئ .

سوال: ......

آیا یوازي ښځې په خپل مابین کي په جماعت سره لمونځ کولای سي او کنه؟

جواب :......

"قال العلامة الحصكفي رحمه الله : و يكره تحريماً جماعة النساء ، و لو في التراويح في غير صلوة جنازة لأنها لم تشرع مكررة ، فان فعلن تقف الإمام و سطهن فلو قدمت اثمت ـ (الدر المحتار على صدر رد المحتار ،ج ۱ / ص: ۵٦۵، باب الإمامة)ـ

و لما قال الشيخ ابن الهمام رحمه الله : و لا يخفى ما فيه و بتقدير التسليم فانما يفسد نسخ السنية و هو لا يستلزم ثبوت كراهة التحريم في الفعل بل التنزيه مرجعها إلى خلاف الاولىٰ ـ (فتح القدير ـج: ۱ / ص: ۳۰۷، باب الإمامة)

و في الهندية : و يكره امامة الامرأة للنساء في الصلوة كلها من الفرائض والنوافل إلا في صلوة الجنازة هكذا في النهاية ـ فان فعلن وقفت الإمام وسطهن و بقيامها وسطهن لا تزول الكراهة و ان تقدمت عليهن امامهن لم تفسد طوٰتهن هكذا في الجوهرة النيرة و صلوتهن فرادى أفضل هكذا في الخلاصة ، (الفتاوى الهندية ـج: ۱ / ص: ۸۵ ، باب الإمامة ، و مثله في البحر الرائق ـج: ۱ / ص: ۳۵۱ ، باب الإمامة ، ومثله في البناية شرح الهداية ـج: ۲ / ص: ۳۹۲)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي یوازي د ښځو جماعت مکروه تحریمي دی که بیا چیري دوی په جماعت سره لمونځ کوی نو امام دي په مابین کي ودریږي ، د نارینه په شان مخ ته دي نه دریږي که چیري ودریږي نو ګناهګاره ده او بل ښځه په تولو لمنځو کي امامت نه سي ورکولی که فرض لمونځونه وي که نوافل وي بغیر د جنازې د لمانځه

څخه، هغه ورکولی سي .

سوال :......

یو امام ډېر کمزوری او ضعیفه دی او رکوع ته چي ځي په ډېر تکلیف سره ځي، او چي د رکوع څخه راپورته کیږي هم په ډېر تکلیف سره را پورته کیږي او آواز یې هم ډېر کمزوری دی نه اورېدل کیږي آیا په داسي امام پسي چي ضعیف وي اقتداء جائز ده او کنه؟

جواب :......

"قال ابن نجیم رحمه الله : و اشار إلی ان اقتداء القاعد خلف مثله جائز اتفاقا وکذا الاقتداء بالاعرج اومن بقدمه عوج و ان کان غیره اولیٰ۔ (البحرالرائق ۔ج: ۱ / ص: ۳۸۷ ، باب الإمامة)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله : قائم باحدب ، وان بلغ حدباه الرکوع علی المعتمد وکذا باعرج وغیره اولیٰ۔ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ۔ج: ۱ / ص: ٤٣٦ ، باب الإمامة ، ومثله فی الفتاوی الهندیة ۔ج: ۱ / ص: ۸۵ ، باب الإمامة)"

نو له مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي که چیري ضعیف او کمزوری د لمانځه د کوم رکن دپاره تاواني نه وي نو یوازي د کمزوري له وجهي په داسي امام پسي اقتداء پروا نه لري، البته که چیري د تکبیرونو او سلام په اورېدو کي خلکو ته تکلیف وي نو د تکبیر ویونکي په ټاکني باندي د دې ازاله ممکنه ده ، امام دي پخپله باید دا ذمه واري یو بل کوم داسي صلاحیت لرونکي شخصیت ته ور وسپاري چي د کلیوالو په مخکي د اعتماد وړ وي او د خلکو پر اتفاق هم وي .

سوال:......

کوم امام چي دخپل کور د ښځو پرده نه کوي او سره د قدرت، قدرت هم پر لري خو بيا هم د خپل کور د ښځو شرعي حجاب او پرده نه کوي بې پردې کرځي او را کرځي، آيا په داسي امام پسي اقتداء کول جائز ده او کنه؟

جواب:......

" قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ديوث هو من لايغار على امرأته و محرمه. (الدر المختار على هامش رد المحتار. ج: ٣ / ص: ٢٠٢، باب التعزير

قال ابن عابدين رحمه الله: تحت هذا القول (و يكره امامة عبد واعرابي و فاسق) أي من الفسق و هو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر والزاني و آكل الرباء و نحو ذلك. (رد المحتار. ج: ١ / ص: ٥٦٠، باب الإمامة)

و في الهندية: تجوز امامة الاعرابي و الاعمى و العبد و ولد الزنا والفاسق كذا في الخلاصة إلا انها تكره كذا في المتون. (الفتاوى الهندية. ج: ١ / ص: ٨٥، باب الإمامة، و مثله في خلاصة الفتاوى. ج: ١ / ص: ١٤٥)"

نو له مذكوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي كه چيري د قدرت رلودلو تر څنګ د خپل كور ښځي په شرعي حجاب او پردې باندي مجبوري نه كړي او ښځي يې په بې پردګي سره ګرځي راګرځي او سره د دې چي علم او قدرت پرې لري او نه يې منع كوي نو په داسي امام پسي اقتداء كول مكروه تحريمي ده، داسي سړى د ديوث او د فاسق په حكم كي دى، دا كه عام خلک وي او كه علماء وي كه د خپل كور د ښځو پرده يې نه كوله نو په حكم كي د ديوث او د فاسق دي په داسي كس پسي اقتداء كول

مکروه تحريمي ده .

سوال:......

دديوث امامت څه حکم لري آيا جائز دی او که نه؟

جواب:......

"قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (ياديوث) هو من يغار على امرأته او محرمه. (الدر المحتار على هامش رد المحتار - ج: ۳ / ص: ۲۰۲، باب التعزير)

قال ابن عابدين رحمه الله: تحت هذا القول (ويكره امامة عبد و اعرابى وفاسق، أى من الفسق و هو الخروج من الاستقامة و لعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر والزانى و آكل الرباء و نحو ذلك. (رد المحتار - ج: ۱ / ص: ٥٦٠، باب الإمامة)

و فى الهندية: تجوز امامة الاعرابى والعبد و ولد الزنا والفاسق كذا فى الخلاصة إلا انها تكره هكذا فى المتون. (الفتاوى الهندية - ج: ۱ / ص: ۸٥، باب الإمامة، و مثله فى خلاصة الفتاوى - ج: ۱ / ص: ۱٤٥)"

